بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پیژندنه

**د کتاب نوم:** د شرکتونو حقوق

**څانګه:** د تجارت اقتصاد

**اوډونکی:** محمد ابراهیم نظري

**ژباړونکی:** نورالله عماد اوریاخیل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزايي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- وفاء الرحمن وفا
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضايي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**د ISBN کوډ:** ISBN [illegible]

Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طې کوي او د يوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسوولیت او مکلفيت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، څکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخيســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يواځې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربيون بايد په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، يواځې او يواځې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهيــر کــې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پيــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د شرکتونو په اړه عمومي مفاهیم | ۱ |
| دویم | د شرکتونو انحلال او تصفیه | ۲۳ |
| درییم | تضامني شرکتونه | ۳۵ |
| څلورم | ګډ تضامني شرکتونه | ۴۷ |
| پنځم | سهامي شرکتونه | ۵۵ |
| شپږم | محدود المسؤلیت(لیمټډ) شرکتونه | ۷۹ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۸۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

شرکتونه په عمومي توګه د حکمي شخصیت لرونکي دي او د نړیوال تجارت له مهمو ارکانو څخه ګڼل کېږي. په اوسني عصر کې د وګړو د ګډون یوه مهمه وسیله په ملي او نړیوال تجارت کې جوړوي. دا ډول شرکتونه د تجارت د سهولت له وسایلو څخه دي، د هغه تداوم برابروي او د دې لامل ګرځي، چې حقیقي وګړي(ونډه وال) له یو لړ خطرونو څخه لرې وي. د خپلو شخصي شتمنیو د ساتنې او پالنې په اړه له حقوقي لازمو خوندیتوبونو څخه ګټه واخلي. د وګړو په راټولېدو کې د شرکتونو منځته راتلل، د لازمه پانګې پیدا کول، په شرکتونو پورې د اړوندو مالیاتو له سیستم څخه اداره او ګټه پورته کول، د ملاحظې وړ ښېګڼو لرونکي دي.

د تجارتي قوانینو تدوین هم مهاله د تجارت د کاروبار د منځته راتلو سره پیلېږي. له هغه ځای څخه چې یو وګړی نه شي کولای خپلې ټولې اړتیاوې په یوازې ځان سره پوره کړي، نو په دې اساس نورو وګړو ته د اړتیا احساس پیدا کیږي، چې د وګړو د اړتیا وړ امتعه او مالونه له یوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدوي او له دې لارې څخه ګټه لاسته راوړي. نو د پورتني ضرورت پر اساس د پورتنیو کارونو د سمبالښت په غرض د حقوقي قوانینو او پرنسیپونو شتون د تجارت په ډګر کې لازمي په نظر راځي، چې دغه مقررات او قواعد د بشریت د تاریخ په دوران کې په بېلابېلو بڼو او شکلونو و. د بېلګې په ډول نږدې له میلاد څخه ۲۰۰۰ کاله دمخه په جزیره العرب کې د فنیقیانو، بابلیانو او یونانیانو خلکو په تجارتي کارونو پیل کړی و او په هغو هېوادونو کې په بېلابېلو ډولونو قواعدو او مقرراتو شتون درلود، چې په ځانګړي توګه تجارتي قواعد چې نن ورځ د قوانینو او مقرراتو په بڼه شتون لري. د هغې لومړنۍ سرچینه کولای شو په هماغه قواعدو کې په ښه توګه ملاحظه کړو.

په لومړی څپرکي کې: د شرکتونو په اړه عمومي مفاهیم.

په دویم څپرکي کې: د شرکتونو له انحلال تصفیه.

په دریېم څپرکي کې: تضامني شرکتونه.

په څلورم څپرکي کې: ګډتضامني شرکتونه (کوماندیټ).

په پنځم څپرکي کې: سهامي شرکتونه. او

په شپږم څپرکي کې: د محدود المسؤلیت(لیمټډ) شرکتونو تعریف او جوړښت، پانګه، تشکیلات او انحلال تر بحث لاندې راغلي دي.

په درناوي

محمد ابراهیم نظري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب لنډیزه موخه:**

د شرکتونو په عمومی مفاهیم او دهغو انحلال او تصفیه، همدارنګه د تضامني سهامی او محدودالمسوولیت شرکتونوپه اړه پوره معلومات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د شرکتونو په اړه عمومي مفاهیم

**ټولیزه موخه:**

د شرکتونو د ټولیزو مفاهیمو په اړه او د شرکت د تړون د تعریف په اړه د معلوماتو لاسته راوړل.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې څپرکي په پای کې د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي:

- د یوه شرکت د منځته راتلو شېګنې بیان کړي.
- د شرکت د تړون ځانګړنې توضیح کړي.
- د شرکتونو ډلبندي(دسته بندي) بیان کړي.
- د شرکت د تړون ارکان بیان کړي.
- د شرکت موضوع بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکت د تړون تعریف:** د شرکت تړون زیات شمېر تعریفونه لري. چې په لاندې توګه کولای شو له هغوی څخه یادونه وکړو. د شرکت تړون کولای شو د یوه تړون په توګه تعریف کړو، چې د هغې په اساس دوه یا څو وګړي متعهد کېږي چې هریو د مال د یوې برخې په وړاندې کولو سره او یا د هغوی ګډون په کار کې په مالي پروژه او یا قرار داد کې، له یو بل سره شریک شي. او د هغوی موخه د شراکت په ګټه یا تاوان کې او یا د پروژې له اقتصادي ګټو څخه استفاده کول وي. د افغانستان د مدني قانون د ۱۲۱۶ مادې په اساس شرکت داسې تعریف شوی دی.( شرکت له هغه تړون څخه عبارت دی؛ چې د هغه په موجب دوه یا زیات کسان تعهد کوي تر څو د یوه مالي فعالیت په کار اچولو د مال د یوې اندازې په ورکړه او یا د کار د ترسره کولو یا د اعتبار په توګه داسې ګډون وکړي چې ګټه او تاوان د هغې هوکړې په اساس چې د دوی په منځ کې تر سره شوې توزیع شي.

د تجارت اصولو هم تجارتي شرکتونه تعریف کړي دي، د ۱۱۶ مادې پر اساس تجارتي شرکتونه د وګړو له ګډون څخه عبارت دي چې د تجارتي معاملاتو د ترسره کولو په مقصد په یوې یا څو موضوع ګانو کې منځ ته راځي.

**د یوه شرکت د منځته راتلو ښیګڼې:**

د یوه شرکت منځ ته راتلل کېدای شي د بېلابېلو دلیلونو په اساس ترسره شي. ځینې وختونه د یوه شرکت په منځ ته راتلو کې د زیاتو وګړو ونډه د مالي اړتیاو په نسبت ډاډمنه نه وي. البته دغه مسئله په یوه کوچني شرکت کې صدق نه کوي.

له بل پلوه امکان لري په پیل کې د فعالیت په پیلولو یوازې د دوو کسانو پانګه د یوه شرکت د جوړولو لپاره کافي وي. خو وروسته د هغه د فعالیتونو پراختیا زیاتې پانګې ته اړتیا پیدا کوي.

د لازمې پانګې تدارک یا موندنه کېدای شي د زیاتو شریکانو د پانګې لوړېدل او یا بانکي پورونو ته د مراجعه کولو له لارې ترلاسه شي. په عمومي توګه وګړي په اروپایي هېوادونو کې په لومړي قدم کې په یوازیني(انفرادي) توګه تجارت پیل کوي وروسته د خپلې معاملې له لورې د محاسب او بانک د مشورې له مخې د یوه شرکت په جوړولو پیل او هڅه کوي چې په دغې لاره کې د خپلې کورنۍ غړي یا دوستان له ځانه سره شریک او په دې توګه پر شرکت باندې خپل حاکمیت خوندي کړي چې معاملات یې په باوري فضاء کې ترسره شي.

د تجارتي یا صنعتي لویو شرکتونو لپاره چې سترو پانګو ته اړتیا لري، د سهامي شرکتونو جوړول پراخې او عامه پانګې اچونې ته د مراجعې له وسایلو څخه یوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په ډول نوموړي شرکتونه کولای شي له خلکو څخه غوښتنه وکړي چې د شرکت د پانګې په لوړېدلو کې د نويو اسهامو د پېرودنې په وسيله ونډه واخلي.

**الف- له حقوقي پلوه:** د هغه شرکت جوړول چې له خپلو شريکانو څخه بېله شتمني لري. د زياتې ګټې لامل کېږي. په يوه انفرادي تجارت خانه کې د تاجر ټوله شتمني د معاملاتو په تضمين کې ځای پر ځای کېږي. قانوني لاره چې کولای شي د تاجر شتمني د پور ورکوونکو له خوا خوندي وساتي د شرکت جوړول دي. ځکه په دې حالت کې د شريک مسئوليت يوازې په ونډې او برخې پورې محدود وي چې هغه يې په شرکت کې لري،

**البته د يادونې وړ ده؛** که څېرې له حقوقي پلوه د شرکت او شريکانو د شتمنۍ تفکيک د امکان وړ وي له علمي نظره دغه مسئله تل صحت نه لري. ځکه له يوه پلوه بانکي پورونو ته د مراجعې پر مهال، د بانک مسئولين د شرکت د شتمنۍ په تضمين اکتفاء نه کوي او له شريکانو څخه غوښتنه کوي، چې خپله شخصي شتمني د بانک په تضمين کې پرېږدي.

له بل پلوه له لاس تنګۍ(افلاس)سره د شرکت مخامخېدل او د شرکت د شريکانو او يا د رهبرۍ هيئات د مسئوليت اثبات د هغې د اداري په اړه دا امکان ترلاسه کېږي چې نوموړي وګړي د خپلې شخصي شتمنۍ له پلوه هم تر پوښتنې لاندې راشی او مجبور دي چې د پوروړو پورونه ورکړي.

**ب- تداوم:** د يوې انفرادي تجارت خانې د جوړولو پر وخت د تاجر مړينه په زياتره حالاتو کې د تجارت خانې د له منځه تللو لامل کېږي. په داسې حال کې چې د يوه شرکت جوړول زياتره وخت د تجارتي فعاليت تداوم اسانه کوي. دغه کار په ځانګړي توګه د پانګې په شرکتونو کې لکه په سهامي شرکت کې د پام وړ وي.

البته د يوه محدود مسئوليت شرکت د شته والي پر وخت د مړ شوي شريک وارثان هم کولای شي خپل شراکت ته په شرکت کې دوام ورکړي او په دې ترتيب د شرکت تداوم وساتي.

**ج- مالياتي ښېګڼې:** د ټکس او مالياتو د ورکړې له نظره شرکتونه د اقتصاد په پراختيا کې د خپل نقش د اهميت له کبله له يو لړ ښېګڼو(مزاياو) څخه برخمن وي. البته دغه ښېګڼې د هر هېواد د قوانينو له مخې ټاکل کېږي.

په دې اړه د قانون اېښودنې يو له اړينو موخو څخه د نوو جوړو شوو شرکتونو څخه ملاتړ دی. ترڅو د دې زمينه برابره شي چې نوموړي شرکتونه په پښو ودرېږي او خپل نقش د اړوند هېواد په اقتصاد کې په ښه توګه ترسره کړي، په همدې منظور په ځينو هېوادونو کې لکه په فرانسه کې نوي جوړ شوي شرکتونه د يوې لنډې مودې لپاره د ماليې له ورکړې بې غمه وي. که څېرې په وروستيو کلونو کې شرکت ګټه وکړي د لومړيو کلونو اړونده ماليه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه قانون جوړونکي په زياتره هېوادونو کې هڅه کوي، چې د شرکتونو ماليات زيات نه وي او د خصوصي پانګې اچونې د تېښتې لامل نه شي. نو په دې اساس نن ورځ د خصوصي سکتور پانګه اچونې زياتره په هغو هېوادونو کې ترسره کېږي چې په هغه کې د ماليې سلنه په شرکتونو باندې ډېره ټيټه ده او يا دا چې هېڅ نه وي.

**د شرکت د تړون ځانګړنې:**

د شرکت تړون يو بنه ييز(شکلي) تړون دی. په دې مانا چې په ليکلې بڼه وي او پرته له هغه څخه باطل شمېرل کېږي. دا تړون د ملزمه تړونونو له جملې څخه شمېرل کېږي په دې مانا چې دواړه لوري تړون متعهد او لازم ګرځوي. هغه معيار چې د شرکت تړون له نورو تړونونو څخه بېلوي، د ګډون توکی(عناصر) په ګته او تاوان کې وي. د يادونې وړ ده؛ چې د شرکت د تړون تعريف په اساس کولای شو لاندې ټکي په پام کې ونيسو:

– شرکت د يوه قرارداد له مخې چې معمولاً د شرکت اساسنامه جوړوي منځته راځي.

– د تجمع شرکت د جوړولو لپاره لږ تر لږه دوه کسان ضروري دي.

– شرکت کېدای شي د حقيقي يا حکمي وګړو په واسطه جوړ شي.

– هر شريک د شرکت په شتمنۍ کې د يوې لاسته راوړنې پر وړاندې کولو ګډون کوي او نوموړي لاسته راوړنې کېدای شي منقول، غيرمنقول مالونه او يا کار وي.

– د شرکت شتمني د شريکانو له شتمنيو څخه بېلې وي.

– شرکت د حکمي شخصيت لرونکی وي.

نظر دې ته چې شرکت يو حکمي شخصيت دی. نو د هغې پر اساس د يوه حقوقي شخصيت د مشخصاتو اکثره حد شتمني طبيعي وي. څرنګه چې د تجارتي شرکتونو په اړه د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۱۸ ماده داسې وايي(تجارتي شرکتونه د حقوقي شخصيت لرونکي وي، نو په دې اساس کولای شي تر خپلو عنوانونو لاندې د مقاولاتو په تړون او د معاملاتو په اجرا کوولو پيل وکړي، د پوروړو او پور ورکوونکو صفت کسب کړي او هم کولای شي په دې صفت سره په محاکمو کې د شته والي اثبات وکړي او منقول او غيرمنقول مالونه تصرف کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکتونو ډلبندي:**

د هغو کسانو لپاره چې د یوه شرکت پر جوړولو اقدام کوي. د شرکت د حقوقي ډول غوره کول یو له اړینو پوښتنو څخه دي. څکه د غوره کولو پر اساس هر شرکت د احکامو له پلوه په اداري پورې اړوند، د شریکانو اړیکي، له دریېیم شخص سره اړیکې او د هغه حقوقي پیغامونه د خاصو شرایطو تابع وي. شرکتونه کولای شو د ډول له پلوه په لاندې ډولونو ووېشو:

– مدني شرکتونه.

– تجارتي شرکتونه.

– د وګړو شرکتونه.

– د پانګې شرکتونه.

په ضمن کې تجارتي شرکتونه کولای شو په سهامي، محدودالمسئولیت او تضامني شرکتونو ووېشو. تضامني شرکتونه په څلورو ډلو ډلبندي شوي دي.

(عام تضامني شرکت، خاص تضامني شرکت، د کار تضامني شرکت او په اعتبار تضامني شرکت).

د افغانستان د مدني قانون ۱۲۱۷ او ۱۲۱۸ مادو د مفاوضه(هغه شرکتونه چې له یو بل سره برابر وي) له شرکتونو او عنان شرکتونو څخه بحث کوي. نو په دې ځای کې اړینه بریښي چې ټول شرکتونه یو یو تعریف کړو.

**الف- مدني شرکتونه:** له هغو شرکتونو څخه عبارت دي؛ چې یوازې مدني معاملات ترسره کوي. لکه ازاد، کرنیز، ودانیز یا ساختماني او تدریسي کارونه.

شریکان په نوموړي شرکت کې شخصاً او له محدودیت څخه پرته د شرکت په پانګه کې د خپلې برخې په اندازې د شرکت د پورونو مسئول وي.

**ب- د تجارتي شرکتونو تعریف:** د هغه تعریف په استثناء چې په ۱۶ ماده کې بیان شوی او مخکې یې یادونه وشوه، د تجارت په اصولنامه کې نه شو کولای د تجارتي شرکتونو په اړه کوم بل تعریف پیدا کړو. د نورو هېوادونو په قوانینو کې هم کوم خاص تعریف د تجارتي شرکتونو په اړه نه تر سترګو کېږي. د فرانسې په هېواد کې تجارتي شرکت هغو ډول شرکتونو ته ویل کېږي، چې د بڼې له نظره او یا د فعالیت د موضوع له نظره، تجارتي شمېرل کېږي. تجارتي شرکتونه کولای شو په دوو ډولونو یانې د وګړو په شرکتونه او د پانګې په شرکتونو باندې ووېشو.

د وګړو په شرکتونوکې، ترون د شریکانو تر منځ د اعتماد او د مخکینۍ پېژندګلوۍ له مخې چې د دوی په منځ کې شتون لري ترسره کېږي. په دې ډول شرکتونو کې د یوه شریک دننه کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د یوه شریک د برخې لېږدول او یا د  هغه مړینه کېدای شي د شرکت د ختمېدو لامل شي. خو دا چې په تړون کې بل ډول صراحت ورکړل شوی وي.

د پانګې په شرکتونو کې،  د شرکت تړون لومړی له ټولو څخه د پانګې د اهمیت په اساس ترسره کېږي او د شریک وګړي اهمیت د وګړو شرکت سره ورته(مشابه) نه وي. نو په دې اساس د یوه نوي شریک دننه کېدل او د سهم لېږدول له یوه وګړي څخه بل وګړي ته، د شریکانو په هوکړې(موافقه) پورې تړلې نه ده او همدارنګه د یوه شریک د ځواک یا قدرت نشتوالی او یا د هغه مړینه د شرکت د له منځه تللو لامل نه ګرځي. د پانګې د شرکت له ښو بېلګو څخه کولای شو له سهامي(ونډو) شرکت څخه یادونه وکړو.

د افغانستان د تجارتي اصولنامې او د شرکتونو د اړوندو احکامو په نظر د تجارتي اصولنامې ۱۱۷ ماده، د تجارتي شرکتونو ډولونه په لاندې ډول دي:

- محدود المسئولیت شرکتونه (لمټېډ)
- تضامني شرکتونه(کولکټیف)
- تضامني مختلط(ګډ) شرکتونه (کوماندېېټ)
- مرستیال یا تعاوني شرکتونه(کوپراتیف)

**د شراکت د تړون ارکان: شراکت دوه ارکان لري:**

**الف- اصلي ارکان:** هغه ارکان چې په شریکانو پورې اړوندېږي. لکه د شریکانو شمېر، په پانګه کې ګډون، په ګټه او تاوان کې برخه لرل او د ګډون نیت.

**ب-  بڼه ییز یا شکلي ارکان:** د شرکت د جوړښت یا تشکیل په شکلونو پورې اړوندېږي.

**د قرارداد ارکان:**

نوموړي ارکان د ټولو قرار دادونو په اړه د تطبیق وړ دي د شرکت د جوړښت یا تشکیل قرارداد نه شي کېدای له دې امر څخه مستثناء وي.

**الف- رضایت:** په شرکت کې شراکت د دواړو لورو له رضایت څخه پرته د امکان وړ نه دی. شراکت د شرکت د ډول په اړه او د هر شریک برخه د تړونونو، مقرراتو او قواعدو سره سم ترسره کېږي. د هر شریک  اهلیت لرل د تړون له شرطونو څخه یو شرط دی. د شریک اهلیت د التزام(ژمنې) د اهلیت له ډول څخه وي. یوازې د ادارې اهلیت کافي نه دی، ځکه چې هر شریک د شرکت په تړون او د شرکت په پورونو الزامي تعهد لري. نو په دې اساس هغه وګړي چې د تصرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اهلیت لرونکي دي د شریکېدو اهلیت لري له هغه پرته ((ولي)) یا ((وصي)) کولای شي د هغوی تجارتي فعالیت پر غاړه واخلي.

همدارنګه د شرکت تړون د وکالت له مخې امکان لري ترسره شي. په هغه شرط چې نوموړی وکالت په خاصه او لیکلې بڼه وي.

د رضایت عیبونه لکه تېروتنه، تدلیس(ټګي برګي) اکراه او بې ځایه استفاده کول د شراکت د تړون د له منځه تللو لامل ګرځي. خو هغه شریک چې د هغه رضایت تر پوښتنې لاندې راغلی وي کولای شي د خپلې د هوکړې له مخې د شراکت تړون څرګند او د هغه د له منځه تللو څخه تېر شي.

ټګي برګي د تجارت په اړه په شرکت کې له تېرایستلو څخه په استفادې سره د شریکانو جذبول، داسې چې که په دې وسایلو توصل نه و تر سره شوی. د پام وړ شریک به په شرکت کې په برخه اخیستلو موافقه نه کوله. لکه د شرکت په اړه د غلطو معلوماتو وړاندې کول یا د شرکت د پورونو پټ ساتل.

**ب- د شرکت موضوع:** د شرکت موضوع باید ټاکونکې یا د ټاکلو او مشروع وړ وي. له موضوع څخه د مشروع والي موخه، د هغه فعالیت مشروعیت دی، چې شرکت د هغه په موخه جوړېږي.

**ج- د شرکت سبب:** په شرکت کې سبب له هغو دلایلو څخه عبارت دی چې وګړي د هغه پر اساس په شراکت باندې تفاهم کړی وي، چې ګډ کار ترسره کړي. که چېرې سبب غیرمشروع وي د شرکت تړون باطلېږي، نو اړینه ده؛ چې شرکت د مشروع سبب لرونکی وي.

د بېلګې په ډول که چېرې د یوه شرکت ټولې معاملې په یوه جنس پورې تړلې وي او موخه یې احتکار وي، په دې صورت کې سبب غیرمشروع دی او د شرکت فعالیتونه درېږي.

د سبب یا موضوع د نشتوالي په نسبت د شرکت د بطلان اثار:

په دې اړه باید دوه حالته یو له بل څخه بېل یا تفکیک کړو:

۱- هغه شرکت چې تر اوسه یې خپلې معاملې نه دي پیل کړي: په دې حالت کې هر شریک کولای شي د شرکت د بطلان په استناد، خپله ورکړې برخه(ونډه) بېرته لاسته راوړي. د درېیم وګړي موضوع په دې حالت کې په عمومي توګه مطرح نه وي.

۲- هغه شرکت چې خپلې معاملې یې پیل کړي دي: د ګټې او تاوان په اړه نظریې توپیر لري. زیاتره حقوقپوهان په دې نظر دي؛ چې د شریکانو ترمنځ ګټه او تاوان وېشل کېږي، ټول په هغه کې برخمن دي او قاضی ګټه او تاوان د عدالت د تأمینولو له مخې وېشي، یانې په دې حالت کې قاضي د شریکانو د هوکړې په مراعتولو چې په اساسنامه کې لیکل شوې مکلف نه دی او چې په هر تناسب عدالت په کې زیاتره تأمینېږي مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له درېيمو وګړو سره د معاملې په اړه:**

هغه شرکت چې د هغه بطلان اعلامېږي. هغه قرار داد چې درېيمو وګړو ترسره کړی وي. که چېرې د پام وړ قرارداد يا قراردادونه د قانون له احکامو سره سم وي، ټول شريکان په هغه متعهد وي نه شي کولای د خپلو تعهداتو نه اجراء کول د درېيمو وګړو په وړاندې د شرکت د بطلان په اساس توجيه کړي(مخ واړوي).

**پر شريکانو پورې اړوند ارکان:**

**الف- د شريکانو شمېر:** د زياترو هېوادونو قوانين په دې موضوع پورې اړوند احکام بيانوي.

د افغانستان مدني قانون هم په ۱۲۱۶ ماده کې دغه موضوع څېړلې ده. په ځينو هېوادونو کې لکه فرانسه، المان او تونس کې په شرکتونو پورې اړوندو قوانينو کې وړاندوينه شوې چې يو وګړی کولای شي په يوازې ځان يو شرکت جوړ کړي په داسې حال کې چې په زياترو هېوادونو کې لږ تر لږه د دوو کسانو شتون د يوه شرکت د جوړولو لپاره اړين وي. البته په يوه شرکت کې د شريکانو د شمېر ټيټه اندازه بايد د شرکت د شتون په ټوله موده کې دوام پيدا کړي. د شريکانو د شمېر د زياتې اندازې په اړه بايد وويل شي چې د سهامي شرکتونو په اړه زياته اندازه نه ده ټاکل شوې، خو د محدود المسئوليت شرکتونو په اړه د شريکانو د شمېر زياته اندازه ټاکل شوې ده.

**ب- په ګټه او تاوان کې ګډون:** نظر هغه تعريف ته چې له شرکتونو څخه د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو په قوانينو کې ترسره شوي او د افغانستان د مدني قانون د ۱۲۱۶ مادې پر اساس په شرکت کې د شريکانو د غونډې يوه موخه د ګټې او تاوان وېشل دي، چې د شرکت له فعاليتونو څخه لاسته راځي. د ګټې او تاوان وېشل د شرکت د قرارداد ځانګړنو څخه دي او هغه له ځينو ورته غونډو څخه بېلوي.

**د بېلګې په ډول:** په يوه اتحاديه کې ګډون کوونکي خپله ځانګړې پوهه په دوامداره توګه ګډوي، خو د هغوی موخه د ګټې او تاوان وېشل نه وي. ګټه کولای شي د پيسو د لاسته راوړنې په توګه او يا د هغه معادل چې د شريکانو په شتمنۍ کې زياتېږي، تعريف کړي. په بل عبارت؛ پولي ګټه له هغې اندازې پيسو څخه عبارت ده، چې د يوه شريک په شتمنۍ کې زياتوالی منځته راځي. او د شرکت دکلنۍ ګټې د وېشلو په وسيله د هر شريک د اسهامو په اساس وېشل کېږي، لاسته راځي.

له بل پلوه ګټه کېدای شي د مادي استثنايي لاسته راوړنې څخه جوړه شوې وي، د بېلګې په ډول د شرکت د محصولاتو او د اسهامو وېش او يا له ګډو مالونو څخه استفاده د ګټې او تاوان د ټاکل شوې قاعدې په نظر، شريکان د هر کال په اخر کې په دې اړه تصميم نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی تصمیم کېدای شي د شرکت د ګټې د وېشنې پر اساس او یا په زېرمه کې د هغه ځای پر ځای کول وي، څرنګه چې شریکان د یوه شرکت د ګټو په وېش کې د ګټې اخیستلو حق لري. مکلفیت لري چې په هغه تاوان کې چې شرکت ته پېښېږي هم برخه ولري. په عمومي توګه هر شریک د شرکت په ګټه او تاوان کې د خپلې برخې په اندول ونډه لري. خو دا چې د شرکت په اساسنامه کې په بل ډول څرګندونه شوې وي. دغه موضوع د افغانستان د مدني قانون په ۱۲۳۱ ـ ۱۲۳۷ مادو کې صراحت لري.

د یادولو وړ ده؛ چې هېڅ کله نه شو کولای په اساسنامه کې یوه قاعده وضع کړو، چې د هغې له مخې د شرکت ټوله ګټه په یوه شرکت پورې اړونده شي. داسې قاعده باطله او د تطبیق وړ نه ده.

همدارنګه هر ډول تفاهم چې د یوه شریک د نه ګډون په اساس او د یوه شرکت تاوان وي او یا دا چې ټول تاوان د یوه شریک پر غاړه کېږدي باطل شمېرل کېږي. د داسې احکامو شتون د یوه شرکت په اساسنامه کې د شرکت د بطلان لامل نه کېږي، بلکې نوموړي احکام(کما لایکن) شمېرل کېږي یانې هغه احکام چې په لیکلې بڼه نه وي او شتون نه لري.

له بل پلوه د یوه تفاهم شتون چې یوه شرکت ته د یوې ټاکلې ګټې د وېش پر اساس وي او د شرکت د تاوان په صورت کې هم هغه ته ووېشل شي. ممنوع دی تفاهم د شرکت د ټولې پانګې د نقص لامل کېږي.

د افغانستان د مدني قانون د ۱۲۳۶ مادې د حکم پر اساس په ګټه او تاوان کې د شریکانو د نه برخې یا سهم اخیستلو موافقه د شرکت د تړون د بطلان لامل ګرځي. خو د ۱۲۳۴ مادې پر اساس په پانګه کې د مساواتو سربېره، د ګټې په وېش کې زیاتوالی مجاز دی.

**ج- د ګډون نیت:** د ګډون نیت د همکارۍ په اړه د شرکت د بریالیتوب لپاره د شریکانو له ارادې څخه عبارت دی. د نشتوالي پر مهال نه شو کولای له شراکت څخه خبرې وکړو د ګډون اراده نه یوازې باید د شرکت د جوړولو پر مهال شتون ولري، بلکې د شرکت د فعالیت په ټوله موده کې هم باید دوام پیدا کړي. البته د عملي نظره په کوچنیو شرکتونو کې د زیاتې همکارۍ اراده لیدل کېږي. خو په لویو شرکتونو لکه سهامي (ونډه ییز) شرکتونه چې زیات ونډه -وال لرونکي لري. زیاتره سهم لرونکي یوازې د ګټې د لاسته راوړلو په هڅه کې وي او له دې پلوه د خپل پام وړ شرکتونو د ونډو په پېرودلو پیل کوي.

په عملي ساحه کې د هغوی هېڅ ډول مرسته د شرکت لپاره چمتو نه ده. یوازې هغه څه چې کېدای شي د شرکت د امنیت لپاره د نوموړو وګړو له پلوه وکتل شي د هغوی هماغه پام د شرکت د ونډو د پیرودلو لپاره وي. او په دې لاره کې نوروته توصیه او هغوی تشویقوي د اړتیا په پرمهال د ګډون د نیت شتون کېدای شي تر ارزونې لاندې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شکلي ارکان:**

مخکې تر دې چې شرکت د ثبت په وسیله خپل حقوقي موجودیت ته لاسرسی پیدا کړي او د حکمي شخصیت لرونکی شي. یو لړ نور اقدامات اړین دي چې د شرکت د بنسټ ایښودونکو او د راتلونکو شریکانو لپاره یو حتمي امر دی. تر څو د خپلو حقوقي وجایبو څخه پوره خبر شي. په همدې دلیل د شرکت اساسنامه باید په لیکلې بڼه وي.

همدارنګه درېیمګړي وګړي لکه بانکونه د شرکتونو د اړتیا وړ پېرودنکي او تهیه کوونکي باید دا امکان ولري، چې د شرکت په اړه اطلاعات ترلاسه کړي. دغه اطلاعات د اعلان په واسطه د شرکت په منځته راتلو سره چمتو کېږي. پورتني اصول د افغانستان په مدني قانون کې د شرکت د تړون په اړه او د تجارت په اصولنامه کې د شرکت د منځته راتلو یا جوړېدو اعلان صراحت لري. څرنګه چې د مدني قانون په ۱۲۲۲ ماده کې داسې یادونه شوې (د شرکت تړون باید لیکلې بڼه ولري، پرته له هغه اعتبار نه لري. همدارنګه په تړون کې راغلی یا وارده تعدیل تر هغه مهاله چې د تړون بڼه نه وي بشپړه شوې باطل شمېرل کېږي).

د یادولو وړ ده چې کېدای شي د شرکت د تړون د نه لیکلو په نسبت د درېیمګړو وګړو یا شریکانو له خوا د شرکت د بطلان غوښتنه وشي، خو درېیمګړي وګړي کولای شي شرکت ومني او د هغه له باطل کېدو څخه ډډه وکړي.

**د شرکت د بطلان په اړه باید ووایو د بطلان اثار به په لاندې توګه وي:**

هغه ژمنې چې د شرکت د بطلان له غوښتنې څخه وړاندې ترسره شوي، د اعتبار وړ دي او شریکان په هغه مستلزم دي. یوازې هغه تعهدات چې د شرکت د بطلان له غوښتنې څخه وروسته ترسره شي، د اعتبار وړ نه دي. د شرکت د ثبت، اعلان او منځته راتلو په اړه د یادولو وړ ده تر هغه وخته چې شرکت نه وي ثبت شوی، د حکمي شخصیت لرونکی نه وي. نو نه شي کولای د نورو پر وړاندې په خپل حکمي شخصیت استدلال وکړي. د تجارت د اصولنامې ۲۴ ماده د تجارت د ثبت دایرې په اړه او ۱۲۸ ماده د هغو موضوعاتو په اړه چې سوداګر او سوداګریز شرکت د هغه په ثبت مکلفیت لري، صراحت لري.

د نویو قوانینو پر اساس چې د شرکتونو په اړه وضع شوي په نظر کې دي، چې د مرکزي ثبت دایره جوړه شي.

**شرکت د جوړښت یا تشکیل په حال کې:**

همدا چې د شرکت اساسنامه امضاء شوه. شرکت جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا په هغه حال کې وي، چې تر اوسه د هغه ثبت نه دی ترسره شوی. او د حکمي شخصیت لرونکی نه دی. د اساسنامې د امضاء له وخت څخه د شرکت تر ثبته پورې یوه موده تېرېږي. په دې موده کې د شریکانو ترمنځ اړیکې د اساسنامې د احکامو په اساس سمبال او د تړون د صحت د شرطونو احکام تطبیقېږي.

**د درېیمګړو وګړو په اړه:**

د شرکت له ثبت څخه وړاندې له یو لړ تعهداتو سره لکه د شرکت لپاره د یوه دفتر اجاره، د کارکوونکو ګمارل، د اړینو لوازمو پېرودنه، د ټیلفون او انټرنټ ځای پر ځای کول، د بانکي حساب پرانیستل او داسې نور... باید ترسره شي. په دې حالت کې چې شرکت تر اوسه پورې د حقوقي شخصیت لرونکی نه دی، نوموړي تړونونه د شرکت په نامه د امضاء وړ نه دي، نو په دې اساس د درېیمګړو وګړو د حقوقو د ساتنې لپاره او په دې دلیل چې شرکت تر اوسه جوړ شوی نه دی او نه شو کولای شریکان په ژمنه مجبور کړو. اصول دا دي؛ هغه وګړي چې د یوه شرکت پر جوړښت(تشکیل) پیل کوي. د درېیمګړو وګړو پر وړاندې د نوموړو تعهداتو ځواب ویونکي دي، خو دا چې شرکت نوموړي تعهدات له ثبت څخه وروسته پر غاړه واخلي. په دې صورت کې دې نوموړي تعهدات د هغه له پیل څخه د شرکت په نوم  وشمېرل شي.

**تشریح:** د اساسنامې تر لاسلیک دمخه د هغو ټولو تعهداتو لړلیک چې باید د شرکت لپاره تر سره شي. او د هغه د هر یوه پیام بیان شریکانو ته څرګند او بیا له اساسنامې سره یوځای ضمیمه کړي. د اساسنامې لاسلیک د دې لامل کېږي، چې نوموړي تعهدات د شرکت په نامه وګڼل شي.

د هغو تعهداتو په اړه چې د اساسنامې د لاسلیک او د شرکت د ثبت د نېټې ترمنځ ترسره کېږي، شریکان کولای شي په اساسنامه یا یوه بېل سند کې د هغوی یوه یا څو تنو ته وکالت ورکړي. تر څو د تعهداتي شرکت په نوم حساب ترسره کړي، دا په هغه شرط چې نوموړي تعهدات مشخص وي او د هغوی ډول یا نوعیت بیان شي. د شرکت د ثبت په دې بڼه کې د نوموړو تعهداتو د لېږدولو لامل د شرکت په نوم کېږي.

بل امکان په هغه اساس دی، چې د شرکت له ثبت څخه وروسته له شریکانو سره د ارأیو په اکثریت پرېکړه وکړي،  هغه تعهدات چې د شرکت په نوم ترسره شوي د شرکت په ژمنه دې ولېږدول شي. د یادونې وړ ده؛ چې د نوموړو تعهداتو د لېږدولو په صورت کې د شرکت په ژمنه له شرکت سره د هغه د حقوقي پیامونو ځواب ویونکی وي، هغه وګړي چې هغه یې د شرکت په نامه ترسره کړي دي، په دې اړه له مسئولیت څخه خلاصېږي. که چېرې شرکت ثبت نه شي، او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې د نوموړي تعهد يو يا څو د ثبت بڼې د شرکت په نوم ونه منل شي، په دې حالت کې هغو کسانو چې نوموړي تعهدات ترسره کړي او يا هغو کسانو چې هغوی ته په دې اړه وکالت ورکړل شوی دی، د هغه د حقوقي پيامونو ځواب ويونکي دي او د دوی مسئوليت ګډ او نامحدود وي.

که چېرې شرکت له هغو تعهداتو څخه چې مسترد شوي ګڼه اخيستې وي مکلف به وي تر څو هغه لګښتونه چې په دې لار کې ترسره شوي د پام وړ وګړي يا وګړو ته ورکړي، ځکه پرته له دې شرکت نه بې له کوم لامله شتمن کېږي.

**د شرکت ژوند:** له هغه مهاله چې شرکت د ثبت پر اساس د حکمي شخصيت لرونکی کېږي، د حقوقي شخصيت مشخصه توکي يا عناصر لاسته راوړي. خو شرکت مکلف دی چې د خپلو کړنو د ترسره کولو لپاره حقيقي وګړي چې له هغه څخه استازيتوب وکړای شي وټاکي.

**په شرکت نوم ايښودل**

هر شرکت بايد د يوه عنوان يا نوم لرونکی وي. چې په اساسنامه کې ليکل کېږي. شرکتونه حق لري يو عنوان چې د هغوی د فعاليت له موضوع څخه جوړ شوی وي او يا د يوه يا څو تنو شريکانو په نوم پورې اړوند وي وټاکي. د سهامي شرکتونو په اړه په ځينو هېوادونو کې لکه فرانسه د شرکتونو قانون حکم کوي؛ چې د داسې شرکتونو پانګه هم له عنوان او ډول يا نوعيت څخه وروسته بيان شي.

مثلاً د باختر ودانيز سهامي شرکت د دوه ميلونو او پنځه سوه زرو افغانيو په پانګه د تجارت اصولنامه د اړوندو احکامو له ۴۰ تر ۴۵ مادې پورې په دې اړه د شرکت عنوان بيانوي. او د هغه پر اساس هر تاجر د يو نوم په لرلو مکلف دی، چې تجارتي عنوان يې تر هغه لاندې فعاليت کوي، جوړوي. همدارنګه د تجارتي شرکتونو د عنوان په اړه د تجارت په اصولنامه کې اړوند احکام بيان شوي دي. له تضامني شرکتونو څخه د شرکت عنوان د يوه يا څو تنو شريکانو له نوم څخه د تضامني کلمې په زياتېدو سره جوړېږي. په سهامي شرکتونو کې د شرکت عنوان د شرکت له موضوع څخه د سهامي کلمې په زياتوالي سره وي او يا د شريکانو او يا د نورو وګړو نوم نه شي کېدای د شرکت عنوان جوړ کړي. د محدودالمسئوليت شرکتونو د عنوان په اړه، کوم حکم نه ترسترګو کېږي.

د تجار نوم د تجارتي شرکتونو په عنوان له دې پلوه اړين دی، چې تر ټاکلي نوم يا عنوان لاندې فعاليت وکړي او پېرودونکي د شتمنۍ د ډول د اعتبار او مناسب کيفيت پر اساس او احتمالاً د خدماتو له پلورلو وروسته جذب کړي. همدارنګه هېڅ تجار يا تجارتي شرکت حق نه لري د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارانو له اعتبار څخه او یا د هغوی له شهرت څخه ناوړه ګټه واخلي، او یا د هغوی شهرت ته زیان ورسوي او یا د ناجایزه او ناقانوني سیالۍ ته په نږدې کېدو سره پېرودونکي جذب کړي.

**د شرکت ځای:** هر شرکت باید د یوه ځای لرونکی وي، چې د شرکت په اساسنامه کې لیکل کېږي. د شرکت ځای یا مقر هماغه ځای وي چې د شرکت د اداراتو رهبران او یا مسئولان په هغه کې ځای پرځای وي. د ځای ټاکل د لاندې مسایلو له پلوه د اهمیت لرونکي دي.

مراجعین د معاملاتو لپاره یا له شرکت سره د قراردادنو د تړون لپاره، د هغه ځای یا مقر ته مراجعه کوي. له بل پلوه پېرودونکي خپل شکایتونه او اعتراضات په هماغه ځای کې د شرکت د مسئولانو غوږونو ته رسوي همدارنګه لیکونه باید د شرکت ځای یا مقر ته ولېږدول شي.

د شرکت پر وړاندې د دعوی د اقامې د شتوالي پر مهال، صلاحیت لرونکې محکمه به هماغه محکمه وي، چې د شرکت ځای یا مقر د هغې د صلاحیت په حوزه کې واقع وي.

**د شرکت ملیتوب:** د یوه شرکت او یوه دولت تر منځ د اړیکو د ټاکلو لپاره د ملیت مسئله یوه اړینه موضوع ده. ځکه د یوه شرکت د ملیت ټاکل د قوانینو ټاکونکی وي، چې د شرکت په اړه تطبیقېږي.

شرکت کولای شي نظر خپل ملیت ته له هغو حقوقو څخه ګټه واخلي چې په حکمي وګړو پورې اړوند په ځانګړي توګه د اړوند هېواد په شرکتونو پورې اړوند وي(هغه هېواد چې شرکت د هغه د ملیت لرونکی وي). د شرکت ملیت په عمومي توګه د لاندې معیارونو څخه د یوه معیار په اساس د ټاکلو وړ وي.

- د شرکت د فعالیتونو مرکز.

- د شرکت ځای یا مقر.

- د شرکت څارنه یا نظارت( د ملیت پر اساس هغه کسان چې د شرکت د پانګې زیاته اندازه د دوی لاسته راوړنې دي او شرکت اداره کوي) اصولاً د شرکت ملیت په هغه هېواد پورې اړوندېږي، چې شرکت د هغه د قانون په اساس جوړ او ثبت شوی وي.

د افغانستان په مدني قانون او د تجارت په اصولنامه کې کوم حکم د شرکت د ملیت په اړه نه شته.

نړیوال شرکتونه او څو ملیتي شرکتونه: هغه شرکتونه چې په هېڅ یو ملیت پورې تړلې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او د نړیوالو معاهداتو په واسطه منځته راځي. نړیوال شرکت ګڼل کېږي. لکه نړیوال بانک د پراختیا د بیا رغونې(BIRD) لپاره یا د سارلون (SARRELORRAIN) د ډبرو سکرو اتحادیه په څو ملیتونو پورې تړلي شرکتونه له یوه مور(مادر) شرکت څخه جوړ شوي، په هېوادونو کې د خپلواکو نمایندګیو لرونکي دي. البته هره نمایندګي لکه یو بېل شرکت د حکمي شخصیت لرونکی د مور له شرکت څخه بېل یا مجزا وي.

## د شرکت تجارتي ډول

**الف - د شرکت د ډول ټاکلو معیارونه:** د شرکت تجارتي یا مدني ډول د حقوقي بڼې په واسطه او یا د هغې موضوع د ټاکلو وړ وي. د حقوقي بڼې پر اساس محدودالمسئولیت تضامني شرکتونه او سهامي شرکتونه، تجارتي شرکتونه ګڼل کېږي. د بېلګې په ډول یو سهامي شرکت د تجارتي شرکت د محاسبې متخصصین او یا د نظارت کمیشنر ګڼل کېږي. سربېره پر دې چې د هغه فعالیت مدني وي.

هغه شرکتونه چې د پورتنیو بڼو لرونکي نه وي کولای شي د موضوع له مخې، تجارتي شرکت وګڼل شي. لکه هغه شرکتونه چې د هغوی موضوع پېرودنه د پلورلو لپاره، د منقولو مالونو اجاره، ټرانسپورټ، د اسعارو تبادله، سمندري چارې، بانکداري او داسې نور... وي، خو هغه شرکتونه چې د کرنیزو، ښوونیزو او ازادو شغلونو لکه د مدافع وکیل او یا طبي کلینک  فعالیت لرونکي دي مدني شرکت ګڼل کېږي.

**ب- د شرکت د ډول اغېزې ډېرې اړینې دي:** تجارتي شرکتونه له تجارتي مالکیت څخه ګټه اخیستونکي دي او د محاسبې د دفترونو په لرلو مکلف دي. د هغوی د لانجو اوارې د تجارتي محاکمو له صلاحیت څخه دي. د هغوی ټول معاملات سربېره پر دې چې د مدني ډول(نوعیت ) لرونکي وي، که چېرې د شرکت په ګټه ترسره شي، تجارتي شمېرل کېږي.

## د شرکت شتمني:

هر  شرکت چې د حکمي شخصیت لرونکی وي، د شریکانو له شتمنۍ څخه د بېلې شتمنۍ لرونکی وي، د شرکت شتمني د هغه د حقوقو او وجایبو له مجموعې څخه جوړه شوې او تل په یوه حال نه پاتې کېږي.

د شرکت شتمني باید د هغه له ګډې پانګې څخه جلا کړو، نوموړې پانګه له هغو پیسو څخه عبارت ده، چې شریکان یې د شرکت په واک کې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرکت پانګه کېدای شي زیاته او یا لږه شي، د شرکت د پانګې زیاتوالی د شریکانو د نویو لاسته راوړنو په وسیله(د پانګې په زیاتوالي کې برخه اخیستنه) او یا د شرکت د پس انداز زیاتوالی د هغې پر پانګه باندې د امکان وړ ده، د شرکت پانګه د هغې د شتمنۍ په پرتله ثابته وي. د شرکت شتمني د شرکت ملکیت دی او شریکان د څښتن مرستیالان نه شمېرل کېږي. بلکې یوازې له یو لړ حقوقو څخه په دې اړه ګټه اخلي.

لکه د ګټې حق، معلوماتوته د لاس رسي حق، د شرکت په کلني مجلسونو کې ګډون په هغه صورت کې چې شرکت له لاس تنګۍ سره مخامخ شي. د هغه اغېزې یوازې شرکت ته متوجه او شریکانو ته سرایت نه کوي خو له تضامني شرکتونو څخه پرته، نو په دې اساس د پورتنیو موضوعاتو په پام کې لرلو سره، شریکان د شرکت له شتمنۍ څخه د خپلو شخصي ګټو د تأمین لپاره د استفادې حق نه لري. پرته له دې به د شرکت له مالونو څخه د ناوړه ګټې اخیستلو په جرم تر پوښتنې لاندې راشي. د شرکت پوروړي نسبت د شریکانو شخصي پوروړو ته د انحصاري تضمین حق لرونکي د شرکت په شتمنۍ باندې دي. د افغانستان د تجارت اصولنامه، په ۱۱۹ ماده کې د تجارتي شرکتونو د پانګې په اړه داسې څرګندونه کوي. هغه مواد چې په تجارتي شرکتونو کې پانګه پېژندل کېږي په لاندې توګه دي:

- مادي منقول مالونه لکه نغدې پیسې، څیزونه او څاروي.
- غیر مادي منقول مالونه لکه امتیاز، د اختراع حق، د تجارتي او صنعتي مارک اجاره لیکونه.
- هر ډول غیر منقول مالونه.
- د منقول او غیرمنقول مالونو ګټې او د استعمال حق.
- د تجارت اعتبار.
- تجارت خانه.

**د شرکت استازیتوب:**

د استازیتوب لپاره د حقیقي وګړو ټاکل او تثبیت اړین او حتمي دي.

له حقوقي پلوه کومه پوښتنه چې مطرح کېږي؛ هغه دا ده چې ایا د یوه شرکت مسئولان کولای شي د شریکانو او یا د شرکت د وکیل په توګه وټاکل شي؟ د دې پوښتنې ځواب منفي دی. د شرکت مسئولان د شرکت په نوم او حساب باندې اقدام کوي، نو په دې اساس د شرکت مسئولان له شرکت څخه د قانون د احکامو له مخې استازیتوب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړ ده؛ چې د شرکت په کارونو کې د حقیقي وګړو دوامداره مداخله لکه د شرکت استازي د امنیت د نشتوالي د درېیمګړو وګړو لپاره د خطر سرچینه وي. څکه د درېیمګړو وګړو وېره په دې ده چې د شرکت استازي له خپل واک څخه تېری وکړي یا دا چې د شرکت د متعهد کېدو په اړه د لازم صلاحیت لرونکي نه وي.

**د درېیمګړو وګړو ساتنه:**

له خطرونو څخه د مخنیوي په خاطر د درېیمګړو وګړو لپاره دوه ډوله امکان چمتو وي.

د مسئولانو له ټاکلو سره سم د شرکت د رهبرۍ پر غاړه اخیستلو سره موضوع د اعلان په واسطه مینه والو ته رسول کېږي. چې وروسته له هغه د درېیمګړو وګړو شرکت امکان لاسته رانه وړي چې د شرکت د مسئولانو ټاکل د غیر اصولي والي په دلیل د خپلو په اړه ملزم ونه ګڼل شي، تر هغه مهاله پورې چې د مسئولانو په ټاکلو او یا د هغوی د کار په ختم کې بدلون، د قانوني وسایلو په واسطه د عامه وګړو په اطلاع نه وي رسېدلي.

لاسلیک شوي تعهدات د هغوی له خوا د اجراء وړ دي. د شرکت د مسئولانو د صلاحیت هر ډول محدودیت، د شرکت په واسطه په درېیمګړو وګړو باندې د استفادې وړ نه دي.

خو داچې نوموړو وګړو مخکې له موضوع څخه خبرتیا ترلاسه کړې وي، البته هغه محدودیتونه چې د شرکت په اساسنامه کې لیکل شوي دي د شرکت د شریکانو او مسئولانو تر منځ د تطبیق وړ دي.

د یادونې وړ ده؛ چې درېیمګړي وګړي له شرکت سره د تعهد پر موقع ملزم نه دي، تر څو د شرکت اساسنامې ته مراجعه وکړي او د شرکت د رئیس د صلاحیت له حدودو څخه خبر شي. دا اصل د چټکتیا د تأمین په خاطر په تجارتي معاملاتو کې او د درېیمګړي وګړي لپاره د یو لوی مصئونیت درلودل دي.

همدارنګه کېدای شي، د مشهود صلاحیت د اصل په اړه د شرکت مسئولان خبرې منځته راوړي، نو د نوموړي اصل په اساس شرکت د هغو تعهداتو ځواب ویونکی دی، چې د هغه د مسئولانو په واسطه تر سره کېږي په دې شرط چې معامله د شرکت په نوم ترسره شوې او د معاملاتو له جملې څخه د شرکت موضوع ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکت مسئولیت:**

**الف- مدني مسئولیت:** هر هغه وګړی چې د شرکت د اقداماتو او یا فعالیت له لارې متضرر شي کولای شي د شرکت د مدني مسئولیت له مخې د هغه پر وړاندې د دعوی اقامه او د زیان د جبران غوښتنه وکړي. د دې مسئولیت اساس کېدای شي له شرکت سره د تړون پر اساس وي (په هغه موده کې چې شرکت خپل تعهدات ترسره نه کړي یا یې ناسم سرته ورسوي) او یا داچې د سهوې او تېروتنې یا خطاء پر اساس وي لکه د غیر اصولي سیالۍ یو عمل، د شرکت د فعالیتونو په نسبت د خلکو لپاره له خطرونو څخه د مخنیوي لپاره د ناسالم او یا د لازمو تجویزونو نه نیول.

**ب- جزایي مسئولیت:** نن ورځ د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې کېدای شي شرکت د جزایي مسئولیت له لارې تر پوښتنې لاندې راشي. څکه چې شرکتونه په زیاترو مواردو کې د وګړو له صحي، اقتصادي پلوه. چاپیریال او ټولنیز نظم ته ضرر وي، دمتضرر کېدو مسئول دي.

همدارنګه عدالت مني چې د شرکت استازي هم په څینو مواردو کې د شرکت د مسئولیت ځواب ویونکي وي. په دې شرط چې په دې لاره کې د شرکت مسئولیت د نوموړو وګړو د بې پروایي په اثر او یا د دوی له خوا د لازمه تجویزونو نه نیول وي.

**د شرکتونو ډلبندي:** شرکتونه په عمومي توګه په لاندې ډلبندیو کې شامل دي.

- مدني شرکتونه.
- تجارتي شرکتونه.
- مدني شرکتونه د تجارتي بڼې په لرلو سره.

د شرکتونو وېش د افغانستان په مدني قانون کې د ۱۲۱۷- ۱۲۱۸ موادو په اساس(مفاوضه شرکتونه او عنان شرکتونه) دي.

**۱ – مدني شرکتونه**

**الف- تعریف:** مدني شرکت هغه شرکت دی، چې د دوو یا څو وګړو تر منځ د قرارداد په موجب د ګټې د لاسته راوړلو لپاره د ګډ فعالیت له لارې منځته راشي. دا ډول شرکتونه امکان لري د کسب او کار یا پېرودلو او پلورلو یا چارو او د حرفې یا صنعت د ترسره کولو لپاره منځته راشي.

مدني شرکتونه په ټولو هېوادونو کې د مدني قانون د احکامو تابع دي.

دغه شرکتونه زیاتره د هغو کسانو له خوا چې د ازادو چارو یا شغلونو لرونکي دي، د خدماتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې کولو په موخه جوړېږي. ځکه چې د شرکت په جوړولو سره له یوې خوا شریکان د هغه له ښیګڼو څخه ګټه اخلي او له بل پلوه په ګډو هڅو او ګډکار سره د خدماتو د وړاندې کولو د پراختیا زمینه برابروي او په دې ترتیب له زیاتو پېرودونکو او مراجعینو څخه ګټه اخلي. دغه راز مدني شرکتونه د غیر منقول مالونو د خرڅلاو د معاملاتو د ترسره کولو لپاره لکه: کور او ځمکه جوړېږي.

**ب:** د مدني شرکتونو د تفکیک اهمیت له تجارتي شرکتونو څخه په دې کې دی:

- مدني شرکتونه د مدني قانون د مقرراتو تابع دي.

- کله چې منازعه د تجارتي معاملې په اړه وي، نو د مدني شرکتونو منازعات په مدني محاکمو پورې اړوندېږي.

- په مدني معاملاتو کې اثباتیه وسایل د تجارتي معاملاتو له اثباتیه وسایلو سره ورته یا مشابه نه دي.

- مدني شرکتونه لکه تجارتي شرکتونه د تجارتي دفترونو په لرلو مکلف نه دي.

- د مدني اسنادو او تجارتي اسنادو په اړه د زمان د تېرېدو موده توپیر لري.

مدني شرکتونه په ټولو هېوادونو کې د حکمي شخصیت په لرلو سره د ګټې وړ نه دي د بېلګې په ډول په ایران کې نوموړي شرکتونه حکمي شخصیتونه نه لري. په داسې حال کې چې د فرانسې په هېواد کې د ۱۹۶۷ کال را پدېخوا مدني شرکتونه هم د حکمي شخصیتونو لرونکي دي.

**۲ - تجارتي شرکتونه(د وګړو شرکتونه او د پانګې شرکتونه):**

- د وګړو شرکتونه، تضامني شرکتونه.

د پانګې شرکتونه، سهامي شرکتونه، محدودالمسئولیت شرکتونه او تجارتي شرکتونه به په راتلونکو څپرکو کې تر مطالعې لاندې راولو.

**مدني شرکتونه چې د تجارتي بڼې لرونکي دي:**

دا ډول شرکتونه د موضوع له نظره مدني دي، خو د بڼې له نظره تجارتي شرکتونه دی. لکه د ځمکې د پلورولو شرکت، یا له کانونو(معادنو) څخه د ګټې اخیستنې شرکت، یا د نهرونو او ویالو د کیندلو شرکت.

دا ډول شرکتونه لکه سهامي او یا محدودالمسئولیت شرکت د تجارتي شرکتونو بڼه نیسي. ترڅو وکولای شي لازمه پانګه چې د هغوی د موخو د تأمینولو ځواب ویونکي وي. پیدا یا تدارک کړي، البته د لوېې پانګې پیدا کول هغه وخت د نوموړو شرکتونو لپاره د منلو وړ ده، چې خپله پانګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسهامو په بڼه راولي، تر څو ټول خلک په کې برخه واخلي.

په دې شرکتونو کې د شریکانو مسئولیت په اسهامو پورې تړلی دی، چې د هغه ملکیت لري او د خپلو خصوصي شتمنیو په اړه مسئول نه شمېرل کېږي.

په دې ځای کې پوښتنه مطرح کېږي، چې ایا دا ډول شرکتونه د هغوی د کارونو د خصوصیت په نظر مدني شرکتونه شمېرل کېږي؟ یا دا چې نظر هغې بڼې ته چې یې لري د تجارتي شرکتونو په توګه پېژندل کېږي؟

په فرانسه کې په دې اړه د نظر اختلاف دی. خو تر هغه ځایه چې په اثبات پورې اړه لري د مدني اثبات قواعد تطبیقېږي.

په مصر کې دا ډول شرکتونه د تجارت او لاس تنګۍ د اصولنامې د موادو تابع نه دي. بلکې د مدني شرکتونو له جملې څخه شمېرل کېږي.

**د شرکتونو اداره**

( د افغانستان د مدني قانون ۱۲۳۸- ۱۲۴۴مواد)

۱- د شرکت د مدیر ټاکل: د افغانستان د مدني قانون ۱۲۳۹- ۱۲۴۰مادو له مخې:

**الف:** د اړوندو احکامو پر اساس یو یا څو شریکان او یا درېیمګړی شخص چې په تړون کې شریک نه وي کولای شي د شرکت ادارې ته وګمارل شي.

د ادارې له قانوني موجب څخه پرته د مدیر له کاره ګوښه کول لکه خیانت، عجز، ناوړه کارونه د شرکت د تړون له تعدیل سره مجاز نه دي. هغه شریک چې د مصلحت څښتن وي مکلف دی له کار څخه ګوښه کولو، د دلایلو د بیان کولو لپاره د دعوې اقامه وکړي.

**ب:** که مدیر د شریکانو له منځه او یا له هغوی څخه بهر، د تړون(اساسنامې) له پای ته رسېدو څخه وروسته وټاکل شي. د هغه له کار ګوښه کول د دعوې اقامې ته اړتیا نه لري. بلکې هر وخت امکان لري.

نوموړي احکام د انتزاعي احکامو له جملې څخه نه دي. نو شریکان کولای شي د هغه پر خلاف اتفاق وکړي. مثلاً کولای شي د شریک د مدیر په عزل یا ګوښه کولو چې د هغه ټاکل د تړون په اساس ترسره شوي اتفاق او همدارنګه کولای شي تفاهم وکړي، د پردي یا اجنبي مدیر له کار څخه ګوښه کول چې د اساسنامې له تصویب څخه وروسته ټاکل شوي بې له موجبه قانوني جواز نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مدير صلاحيتونه (د افغانستان د مدني قانون ۱۲۴۱- ۱۲۴۲مواد)**

**الف:** که مدير يو وګړی يا درېيمګړی شخص وي: د شرکت اداره په يوازې ځان پرمخ بېولای شي. که چېرې د هغه صلاحيتونه او حدود په ټرون کې ټاکل شوي وي، ترسره کول يې ضروري دي. پرته له هغه د اداري امورو صلاحيتونه په واک کې لري، چې د شرکت په ګټه وي.

**ب:** د مديرانو ګډوالی: که چېرې مديران له يوه کس څخه زيات وي (څه شريک وي يا له شرکت څخه بهر) او د هغوی حدود او کاري صلاحيتونه په ټرون کې ټاکل شوي وي، ترسره کول يې اړين دي. له عمومي قواعدو سره سم د مقررې له بريدونو څخه د مدير تېری په شرکت باندې د اجراء وړ نه دی. که چېرې مديران له يوه کس څخه زيات وي(شريک يا له شرکت څخه بهر) او د هغوی کاري دايره په ټرون کې نه وي ښېله شوي. او له هغوی څخه يو هم د شرکت د کارونو اجرا کوونکی نه وي پېژندل شوی. له هغوی څخه هر يو کولای شي په انفرادي توګه د شرکت په اداري پورې اړوند کارونه ترسره کړي.

که د شرکت په دستورالعمل کې يادونه شوې وي. چې هر تصميم د اکثريت په هوکړې سره نيول کېږي، د هغو مراعاتول اړين دي. په دې صورت کې يو مدير نه شي کولای په انفرادي توګه د اداري کارونه وړاندې يوسي او اړين دي د اکثريت هوکړه ترلاسه کړي. خو په ځينو حالاتو کې استثناء لري. لکه بېړنی کار چې د هغه نه کول شرکت ته لوی تاوان رسوي. او د هغه جبران د امکان وړ نه وي. په دې صورت کې د اکثريت له هوکړې پرته، د کار سرته رسول مجاز دی.

البته په دې ځای کې له اکثريت څخه موخه، د مديرانو اکثريت دی، نه د شريکانو او يا ونډو اکثريت، خو دا چې د هغه پر خلاف د شرکت په ټرون کې اتفاق ترسره شوی وي. ( د افغانستان مدني قانون۱۲۴۳ ماده).

**ج:** هغه شريکان چې د شرکت اداري ته نه دي غوره شوي: د افغانستان مدني قانون ۱۲۴۴ ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

- د اداري کارونو له سرته رسولو يا په هغه کې مداخله يا په مديرانو باندې نيوکه له هغو مواردو پرته چې هغوی ته مراجعه کېږي ممنوع دي.

- پر هغو کارونو باندې اعتراض چې د شرکت د کارونو له دايرې څخه لوړ وي. يا د شرکت له نظام سره مخالف او يا له قانون سره مخالف وي مجاز دي.

- کولای شي له مديرانو څخه غوښتنه وکړي، چې د شرکت اداري کارونه پر خپل وخت يا دوراني ټاکلو وختونو(فصلي)کې او يا په هغه وخت کې چې د شرکت نظام ټاکلي دي هغوی ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- حق لري چې شخصاً له دفترونو، د شرکت له اسنادو او په کارونو پورې د اړوندو امورو څخه اطلاع پیدا کړي. دغه حق له اړوندو حقوقو څخه په نظام کې عام دي. له هغو سره مخالفت د شریکانو د اتفاق په صورت کې هم جواز نه لري له دفترونو او اسنادو څخه اطلاع شخصي حق دی او د دې لپاره چې د شرکت اسرار خوندي پاتې شي، شریک حق نه لري. بل شخص په دې اړه استازی وټاکي.

**د مدیر نه ټاکل:** د مدیر د نشتوالي پر مهال، هر شریک پرته له دې حق لري چې نورو شریکانو ته مراجعه وکړي، اداري کارونه ترسره کړي هر شریک د اعتراض حق پر هر هغه کار باندې چې نه دی بشپړ شوی لري. هغه شریکان چې په اکثریت کې دي حق لري د اقلیت اعتراض رد کړي.

**دلومړي څپرکي لنډیز:**

د شرکت د عمومي مفاهیمو په اړه د معلوماتو لاسته راوړل چې کېدای شي د شرکت تړون، د تړون په توګه تعریف کړو؛ چې د هغه پر اساس دوه یا څو وګړي ژمنه کوي، چې هر یو د یو څه مال پر وړاندې کولو او یا د هغوی ونډه اخیستنه(سهم ګیری) په کار کې، په مالي پروژه او یا قرارداد کې، له یو بل سره شریک شي او د هغوی موخه په ګټه او تاوان کې شراکت او یا د پروژې له اقتصادي ګټو څخه برخمن کېدل وي.

د یوه شرکت جوړول کېدای شي د بېلابېلو دلایلو پر اساس ترسره شي. ځینې وختونه د یوه شرکت په جوړولو کې د زیاتو وګړو ونډه د مالي اړتیاو په نسبت ډېره نه کونکی وي . البته دغه مسئله د یو کوچیني شرکت په اړه صدق نه کوي. له بل پلوه امکان لري په پیل کې فعالیت پیلول یوازې د دوو کسانو پانګه د یوه شرکت د جوړولو لپاره کافي وي، خو وروسته د فعالیتونو پراخوالی د زیاتې پانګې غوښتنه کوي، د لازمې پانګې د پیدا کولو امکانات کېدای شي د زیاتو شریکانو، د شرکت د پانګې لوړول او یا بانکي پورونوته د مراجعې کولو له لارې چمتو شي.

د شرکت تړون یو جوله ییز(شکلي) تړون دی، په دې مانا چې په لیکلې بڼه وي، پرته له هغه باطل شمېرل کېږي. دغه تړون د ملزمه تړونونو له جملې څخه شمېرل کېږي. په دې مانا چې دواړه خواوې تړون ته ژمن او ملزم جوړوي، هغه معیار چې د شرکت تړون له نورو تړونونو څخه بېلوي په ګټه او تاوان کې د ګډون توکي دي.

د هغو کسانو لپاره چې د یوه  شرکت په جوړولو اقدام کوي. د شرکت د حقوقي بڼې غوره کول یوه اړینه پوښتنه ده، ځکه چې د دې غوره کولو پر اساس هر شرکت په اداري پورې د اړوندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکامو، د شریکانو اړیکي، له دریېمګړو وګړو سره اړیکي او د هغو د حقوقي پیمونو له پلوه د خاصو شرایطو تابع وي. کولای شو شرکتونه د ډول له مخې په لاندې ډولونو یانې؛ مدني شرکتونه، تجارتي شرکتونه، د وګړو شرکتونه او د پانګې شرکتونو باندې ووېشو. د شرکت موضوع باید معینه یا د ټاکلو وړ او مشروع وي. د موضوع له مشروعوالي څخه موخه، فعالیتي مشروعیت دی، چې شرکت د هغې په موخه جوړېږي.

**د لومړي څپرکي پوښتنې:**

۱- شرکتونه د کوم ډول شخصیت لرونکي دي واضح یې کړئ ؟

۲- شرکتونه په تجارت کې څه نقش لري واضح یې کړئ؟

۳- د شرکت نوم ایښودنه واضح کړئ ؟

۴- د شرکت ژوند واضح کړئ؟

۵- شرکتونه په کوم اساس جوړېږي واضح یې کړئ؟

۶- د شریکانو رضایت وا ضح کړئ؟

۷- د شرکت موضوع واضح کړئ؟

۸- د شرکت سبب واضح کړئ؟

۹- په شرکت کې د ګډون نیت واضح کړئ؟

۱۰- د شرکت ملکیت واضح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شرکتونو انحلال(له منځه تلل) او تصفیه

**عمومي موخه:**
د شرکت د انحلال او چاڼولو او د شرکت د انحلال د لاملونو په اړه د معلوماتو لاسته راوړل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي:

- د شرکت انحلال به د قانون په ذریعه توضیح کړي.
- د شرکت تصفیه(چاڼ) او وېش به بیان کړي.
- د شرکت د شتمنۍ وېش به توضیح کړي.
- د شرکت د چاڼ کارونه به بیان کړي.
- د وېش توکي(عناصر) به بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرکتونو عمر هم لکه بل هر حقوقي شخص د مهال په بېلابېلو دلایلو پای ته رسېږي، نو په دې اساس د حقوقي شخصیت د ژوند پای ته رسېدل د انحلال له مفهوم سره یوځای دی. انحلال د پراخه او خورې شوې په مانا هغه څه دی کوم چې په قانون کې راغلي دي. په داسې ډول چې د شرکت بطلان چې د تجارتي فعالیت د پای ته رسېدو لپاره خاصه طریقه شمېرل کېږي هم باید په همدې مفهوم په پام کې ونیول شي.

**د شرکتونو انحلال**

شرکتونه د بېلابېلو لاملونو په اساس منحلېږي. نوموړي لاملونه په لاندې ډول مطالعه کوو:

**۱. د شرکت د انحلال اسباب:** د مدني قانون(۱۲۵۰- ۱۲۵۴ مواد) د شرکت د انحلال اسباب په لاندې دوو ډلو وېشل کېږي.

الف: د قانون په ذریعه د شرکت انحلال.

ب: هغه اسباب چې د دواړو خواوو په واک کې دي.

**الف د قانون په ذریعه د شرکت انحلال:**

کولای شو د قانون اغېز د شرکت په انحلال کې په دوو بېلابېلو ټکو کې وڅېړو.

۱. هغه اسباب چې د شرکت له موضوع سره تړاو لري. لکه د شرکت د مودې پای ته رسېدل او یا د هغو موخو پای ته رسېدل چې شرکت د هغه په خاطر جوړ شوی و.

۲. هغه اسباب چې په خپله شریکانو پورې تړاو لري. لکه مړینه، حجز، لاس تنګي او په انحلال باندې اتفاق همدارنګه کولای شو ووایو چې د شرکت د انحلال ځینې اسباب د هر ډول شرکتونو په اړه د تطبیق وړ دي، لکه د مودې پای ته رسېدل. هغه مرام یا موخې ته رسېدل چې شرکت په ځانګړې توګه د هغه په منظور منځته راغلی وي. د یوه شرکت لاس تنګي او یوځای کول(الحاق) له بل شرکت سره، دغه ډول اسباب د محدود المسئولیت، تضامني، سهامي او داسې نورو شرکتونو د انحلال لامل هم کېږي. او د شرکت د انحلال د عامو اسبابو له جملې څخه شمېرل کېږي.

یو شمېر نور اسباب، د یوه شرکت دځانګړي توکي د هغه د ډول په نسبت وي، د بېلګې په ډول په محدودالمسئولیت شرکتونو کې د شریکانو تنقیص له دوو تنو څخه یوه تن ته، په سلو کې پنځوس پانګه له منځه تللې د نوموړي شرکت د انحلال خاص دلایل جوړوي او همدارنګه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهامي شرکتونو کې تنقیص د شرکت دوه ثلثه پانګه له پنځو څخه څلورو ته او یا له هغه څخه لږ له منځه تللي ، د دغو شرکتونو د انحلال خاص دلایل جوړوي.

**ب: هغه اسباب چې د دواړو خواوو په واک کې دي.**

۱. قضائي انحلال

۲. انفصال او یا اخراج.

له پورتنیو اسبابو څخه هریو په تفصیلي بڼه تر بحث لاندې راځي.

د شرکت د ټاکلې مودې پای ته رسېدل او یا هغې موخې ته رسېدل چې شرکت د هغه په منظور جوړ شوی دی:

د شرکت د مودې پای ته رسېدل او یا د هغې موخې ته رسېدل په هغه صورت کې چې شرکت د یوه خاص هدف لپاره جوړ شوی وي. کېدای شي د هغه د له منځه تللو(انحلال) لامل شي. خو شریکان کولای شي د شرکت د مودې د پای ته رسېدو پر وخت تفاهم او د شرکت د فعالیت موده اوږده کړي. د کلني ضمني تجدید د افغانستان مدني قانون ۱۲۵۲ ماده.

د یادولو وړ ده؛ چې په دې شخصیت کې د شرکت له شریکانو څخه یو حق لري. د شرکت په استمرار باندې اعتراض او د خپل پوروړي د ممانعت غوښتونکی په استمرارکې شي.

د ټول مال او یا د هغه د مهم توکي له منځه تلل: په دې برخه کې کولای شو درې موضوعګانې یادې کړو، چې هر یو کولای شي د شرکت د انحلال لامل جوړ کړي.

– د شرکت د شتمنۍ له منځه تلل او د شریکانو نه اتفاق د سهامو په زیاتوالي او یا د شرکت بدلول.

– د شرکت په ترڅ کې تنقیص، هغه زیان چې د شرکت د انحلال لامل ګرځي.

– د محکمې تقدیر او سنجش.

**مړینه، حجز، تنګ لاسي (اعسار) او افلاس**

لاندې توکې د شرکت د انحلال نور دلایل جوړوي. یوازینۍ استثناء د یوه شرکت په مړینې پورې اړوندېږي.

که په ترڅ کې تنقیص د شرکت په نه انحلال، د ورثه د مړینې او ټاکلو په سبب د میراث په ځای کې ترسره شوی وي. ورثه د محکمې له اجازې پرته د خپل میراث ځای نیسي، شرکت دوام پیدا کوي او نمایندګي ورثه په شرکت کې وکیل یا وصي کوي. دغه استثناء د مړینې په حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې ځانګړې ده او په نورو مسایلو لکه حجز(لرې کول)، لاس تنګي او اعسار(اړيدل)باندې نه تطبيقېږي.

د مړينې په صورت کې، د شريک ورثه  د پېښې د پېښېدو د مهال په مروجه قيمت د هغه د اسهامو مستحق کېږي. او نه شي کولای يوازې له هغو حقوقو څخه چې هغه ته له پېښې څخه وړاندې ثابت وو د نويو حقوقو مستحق شي.

**پر شا کېدل او لاس ايستنه(انسحاب)**

که شرکت محدودالمسئوليت او يا محدودالعمل وي. انسحاب د قاضي له حکم څخه پرته مجاز نه دی. که شرکت محدودالمسئوليت نه وي، انسحاب د محکمې له اجازې څخه پرته جواز لري. خو په دې شرط چې له درې مياشتو څخه وړاندې پاتې شريکان د انسحاب له قضيې څخه خبر شي.

د شرکت په انحلال باندې اتفاق: د شرکت په انحلال باندې اتفاق مجاز دی. که څه هم شرکت محدودالمدت وي او يا نه وي.

**د شرکت فسخ (قضايي انحلال)**

د شرکت د فسخ اسباب له اندازې څخه زيات او د چاپېرولو وړ نه دي.او د هغو د اسبابو د شتون څېړنه په محکمې پورې اړوندېږي.

هغه وګړي چې کولای شي د شرکت د فسخ کولو غوښتونکي شي:

هر شريک کولای شي د شرکت د فسخ غوښتونکی شي. يوازې هغه شريک چې د تېروتنې لامل وي د فسخ د غوښتلو حق نه لري. د انحلال د غوښتلو حق د عمومي حقوقو له جملې څخه دی د هغه تنازل د هغو د اسبابو له پېښېدو څخه مخکې مجاز نه دی.

**له شرکت څخه د يوه شريک ايستل او يا د هغه د ايستلو غوښتنه**

**۱. ايستل:** هر شريک حق لري، د بل شريک د ايستلو غوښتونکی شي. د شريک د ايستلو غوښتنه ممکنه ده غوره لامل ولري او يا پرته له لامل څخه وي. ان د شريک اغېزمن نقش د شرکت په کاميابۍ کې او يا د هغه د کاميابۍ هيله د هغه د ايستلو امکان له منځه نه وړي. د سبب لرونکي ايستلو بېلګه:

د شرکت د معيار او يا کارونو له پای ته رسېدو څخه وروسته ټول شريکان د هغه د تمديد

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه کوي. خو يو شريک هغه د معقولو اسبابو له وړاندې کولو پرته ردوي.

د يادولو وړ ده؛ چې د يوه شريک د ايستلو سربېره او په دې شرط چې د شريکانو شمېر له قانوني لږ(اقل)حد څخه کم نه وي شرکت دوام پيدا کوي.

**د ايستلو د پېښې سربېره د شرکت دوام**

د ايستل شوي شريک د برخې تصفيه: په دې اړه عمومي قوانين چې مخکې يې بيان وشو، تطبيقيږي. د هغه حقوق په نغده توګه د ايستلو د پېښې د هماغه وخت د قيمت له مخې ورکول کېږي. او په راتلونکي ګټه کې هېڅ ډول برخه نه لري. خو دا چې د هغه د ايستلو د مخکينيو معاملاتو له درکه  وي. په دې صورت کې يوازې له ايستلو څخه دمخه د معاملاتو د اغېزې په اندازه خپله برخه مستحق کېږي.

**۲. د ايستلو غوښتنه:** د هغه اسباب کټ مټ د انسحاب اسباب دي. لکه مرض، لاس تنګي او خاص شرايط چې اټکل يې په محکمې پورې اړوندېږي.

**د فيصلې اثار:** هر کله چې له شريکانو څخه يو تن له شرکت څخه وايستل شي، لاندې پايلې سمباليږي.

**لومړی: د شريک حقوقي تصفيه داسې چې مخکې ارزول شوې ترسره کېږي.**

**دويم:** هغه مهال چې شريکان دا هوکړه وکړي چې شرکت ته ادامه ورکوي. پرته له هغه کولای شي هغه متحمل کړي.

**د شرکت تصفيه او وېشل:** د پوروړو او شريکانو ترمنځ د شرکت د حسابونو له تصفيې او د شرکت د موجودې شتمنۍ د وېشلو له پيل څخه وړاندې د تصفيې هيئت له مخکې څخه د شرکت د صلاحيت لرونکې مرجع له خوا ټاکل کېږي. تر څو په تصفيې پورې اړوند کارونه پرمخ  يوسي.

**۱. د تصفيه کوونکي ټاکل:** د تصفيې د هيئت ټاکل په دوو لاندو طريقو ترسره کېږي.

الف: د شريکانو په واسطه ټاکل.

ب: د محکمې په واسطه ټاکل.

بايد پوه شو چې د شرکت حکمي شخصيت د هغه د انحلال سربېره دوام پيدا کوي، تر څو شرکت ته پور ورکونکي وکولای شي خپل حقوق د شرکت له شتمنيو څخه لاسته راوړي البته د شرکت د شخصيت پاتې کېدل د تصفيې په کارونو پورې محدود وي. تصفيه کوونکی نه شي کولای د شرکت د تصفيې له کارونو څخه پرته په نورو کارونو اقدام وکړي.

**الف- د شريکانو په خوښه د تصفيه کوونکي ټاکل:** د تصفيه کوونکي ټاکل د تړون په جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې بيانېږي، پرته له هغه د قانون د احکامو په اساس ترسره کېږي.

که د شرکت د تړون په جوړولو کې کوم نص په دې اړه شتون ونه لري د تصفيه کوونکي ټاکل د شريکانو اکثريت ته سپارل کېږي.(د اکثريت پرېکړه په دې چې دا ټول شريکان تصفيه کوونکي وي او يو يا څو معين وګړي وي) منتخب تصفيه کوونکي کېدای شي د شريکانو له منځ څخه او له شرکت څخه بهر وي. په عمومي توګه اکثريت د تصفيه کوونکو د غوره کولو په وخت داسې شرط ږدي، چې د هغوی پرېکړې بايد جمعاً او يا د رأيو په اکثريت ترسره شي. په دې حالت کې التزام په دې شرط اړين دي. د تصفيه کوونکو د زيات والي په صورت کې کېدای شي هر تصفيه کوونکی په ځانګړي کار وګماري.

که چېرې د ټولو تصفيه کوونکو هوکړه او يا د اکثريت هوکړه مشروط نه وي، د هر تصفيه کوونکي لپاره مجاز دي چې د تصفيې له کارونو څخه يو کار پرمخ يوسي. خو نور تصفيه کوونکي د هغو په کارونو باندې د کارونو د پای ته رسېدو څخه مخکې د اعتراض حق لري د يوه تصفيه کوونکي له خوا د اعتراض په صورت کې پرېکړه د تصفيه کوونکو د اکثريت په لاس کې ده او کولای شي اعتراض رد کړي، که چېرې دواړه لوري مساوي وي. د اعتراض رد د شريکانو اکثريت ته سپارل کېږي.

**ب- د محکمې په واسطه د تصفيه کوونکي ټاکل: هغه حالات چې تصفيه کوونکی د محکمې له خوا ټاکل کېږي:**

۱. د تصفيه کوونکي نه ټاکل د شرکت په تړون کې او د شريکانو نه اتفاق د تصفيه کوونکي يا تصفيه کوونکو په ټاکلو کې.

۲. په باطلو شرکتونو کې(ځکه په اساسي توګه د دغو شرکتونو تړون باطل دی)محکمه کولای شي تصفيه کوونکي د شريکانو له منځه يا له شرکت څخه بهر غوره کړي.

**۲. د تصفيه کوونکي ګوښه کول:** څوک چې د تصفيه کوونکي د ټاکلو حق لري، د هغه د ګوښه کولو حق هم لري(که د شريکانو اکثريت هغه ټاکلی وي. د نوموړي اکثريت کولای شي هغه لرې کړي او که چېرې د قضايي حکم په واسطه ټاکل شوی وي. يوازې د محکمې په حکم ګوښه کېدای شي).

هر شريک کولای شي د معقولو اسبابو په وړاندې کولو سره د تصفيه کوونکي د لرې کولو غوښتونکی شي. د تصفيه کوونکي د برطرفۍ اسباب زيات دي. چې د هغوی له جملې څخه خيانت، تېروتنه، لاس تنګي او حجز(لرې کول).

**۳. د تصفيه کوونکي له ټاکلو څخه مخکې د شرکت د مديرانو بې واکه کول (د انتقال پړاو):**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله نا کله د تصفیه کوونکي ټاکل یو څه وخت نیسي. څرنګه چې د مدیرانو صلاحیت د شرکت د انحلال په تعقیب له منځه ځي. د شرکت د انحلال او د تصفیه کوونکي د ټاکلو ترمنځ واټن کې، اداري تشه یا خلاء منځته راځي، چې شرکت له اداري پرته پاتې کېږي، د هغه شتمني او مالونه له خطر سره مخامخېږي. له داسې خطرونو څخه د مخنیوي او د شرکت د عاجلو کارونو په منظور، قانون د شرکت مدیرانو ته اجازه ورکړې ده، چې د شرکت د عاجلو او ضروري کارونو اداره په دې مقطع کې وړاندې یوسي.

نو په دې اساس هغه کسان چې له شرکت سره معامله لرونکي دي، په دې موده کې د عمومي مواردو د پیدا کېدو په صورت کې په دې اعتبار چې نوموړي مدیران قانوناً له شرکت څخه استازیتوب کوي. کولای شي د هغوی پر وړاندې د دعوی اقامه وکړي.

**۴. د شرکت د شتمنۍ وېش:** کله چې شرکت ته د پور ورکونکو ټول حقوق اداء شول. پاتې شونې د شرکت خالصه شتمني شمېرل کېږي، چې په ټولو شریکانو پورې اړوندېږي.

د شرکت د شتمنۍ وېش هر شریک ته د هغه د سهم یا برخې په اندول د شرکت په پانګه کې ترسره کېږي یانې هر شریک له خالصې شتمنۍ څخه یوه مساوي برخه د خپل شراکت له فیصدۍ څخه د شرکت په پانګه کې مستحق ګڼل کېږي. د بېلګې په ډول: د یوه محدودالمسئولیت شرکت خالصه شتمني ۴۰۰۰۰۰ افغانیو ته رسېږي. او پنځه نفره شریکان لکه احمد ۲۰ فیصده، نجیب ۱۵ فیصده، محمود ۱۰ فیصده، ګل احمد ۴۰ فیصده او مقصود ۱۵ فیصده پانګه اچولې وي.

د خالصې شتمنۍ وېش په لاندې توګه ترسره کېږي:

- د احمد لپاره ۸۰۰۰۰ افغانۍ.
- د نجیب لپاره ۶۰۰۰۰ افغانۍ.
- د محمودلپاره ۴۰۰۰۰ افغانۍ.
- د ګل احمد لپاره ۱۶۰۰۰۰ افغانۍ.
- د مقصودلپاره ۶۰۰۰۰ افغانۍ.

البته نوموړې وېش د شرکت د نغدې شتمنۍ په اړه د تطبیق وړ ده. د شرکت په اړه قاعده په لاندې توګه ده:

هر شریک د غوښتنې پر اساس کولای شي د هماغه مال مستحق شي، چې د شرکت د جوړولو پر مهال یې د ونډې په توګه شرکت ته راوړې وي. خو که چېرې نوموړی مال د شرکت د جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت په نسبت زيات ارزښت پيدا کړی وي. په دې صورت کې د نوموړي مال اعاده د نورو شريکانو د حقوقي رعايت پوښتنه مطرح کوي.

### ۵. د شرکت د تصفيې کارونه

**الف: د شتمنۍ تصفيه:** کله چې تصفيه کوونکی د تصفيې کارونه په لاس کې اخلي، د هغه بنستيزه دنده په تصفيې پورې اړوند کارونه دي، نه د شرکت اداره. خو په ضروري او بېړنيو حالاتو کې کولای شي په شرکت پورې اړوند کارونه هم ترسره کړي. لکه هغه کارونه چې د شرکت له انحلال څخه وړاندې پيل شوي وي، خو تر اوسه پورې بشپړ شوي نه دي. په دې حالت کې تصفيه کوونکی مجبور دی دغه معاملات په سمه توګه سرته ورسوي، تر څو توانيدلی وي شرکت ته يې ګټه رسولې وي. لکه که يو طباعتي شرکت له انحلال څخه مخکې د يوه کتاب د چاپولو لپاره تړون کړی وي، په دې حالت کې تصفيه کوونکی کولای شي هغه کار يې چې مخکې پيل کړی سرته ورسوي.

**ب- د شرکت په تصفيه کې لازم کارونه**

**۱. لومړني کارونه:** د شتمنۍ سپړنه(تجريد) او په لست کې د هغه ليکل ، د شرکت د حقوقو او پورونو په اړه سپړنه او د مفصلو معلوماتو برابرول.

**۲. د شتمنۍ لاسته راوړل:** د شرکت د حقوقو د لاسته راوړلو په اړه لازم اجراأت لکه له پوروړو څخه ليدنه او د نوموړو حقوقو د لاسته راوړلو په خاطر تحفظي اجراات.

تصفيه کوونکي حق نه لري د ټولو شريکانو له هوکړې(موافقې)پرته تړون وکړي او يا پوروړو ته ابراء ورکړي.

**۳. د پورونو ورکړه (د هغو پورونو ورکړه چې د هغوی د ورکړې موده را رسېدلې وي):** هغه پورونه چې د هغوی د ورکړې موده نه ده رسېدلې، د لاس تنګۍ د حالت برعکس د شرکت د تصفيه کولو سره سم نه ورکول کېږي. ليکن تصفيه کوونکی کولای شي مؤجل حقوق په هغه صورت کې چې د شرکت مصلحت وي ورکړي.

که چېرې د شرکت شتمني د خپلو پورونو د ورکړې لپاره بسنه نه کوي د شرکت هغه وګړي چې شرکت ترې پوروړی دی،کولای شي د شريکانو خصوصي شتمنۍ ته مراجعه وکړي. په دې حالت کې تصفيه کوونکی کولای شي له شريکانو څخه غوښتنه وکړي، چې په هغه څه چې دوی ملزم دي له خپلو شخصي شتمنيو څخه پورونه ورکړي.

**۴. په هغې اندازه د شرکت د شتمنۍ پلورل چې تصفيه يې مني:** تصفيه کوونکی کولای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اړتیا پر مهال لکه د شرکت د تصفیې د کارونو سرته رسول او پورونو ورکړه، د شرکت منقول او غیرمنقول شتمني د مزایدې له لارې یا په عادي توګه وپلوري.

**ج: د تصفیې د کارونو په څارنه یا نظارت کې د شریکانو حق:** تصفیه کوونکی په دې دلیل چې د شریکانو وکیل د تصفیې په کارونو کې دی. د تصفیې د اجراأتو په اړه ګزارش او د حساب بنه یا صورت شریکانو ته وړاندې کوي. لازمه دفترونه او اسناد ساتي او د هر شریک لپاره چې له هغه څخه د اطلاع غوښتونکی وي، هغه ته یې ورسپاري. په دې ترتیب د شریکانو حق په څارنه یا نظارت کې د تصفیې په اجراأتو کې تأمینېږي.

د تصفیه کوونکي تنخوا: تصفیه کوونکی د شریکانو وکیل دی. او وکالت اساساً پرته له تنخوا څخه وي. خو کله چې محکمه او یا د شریکانو اکثریت د ټاکلو پر مهال، نوموړي ته تنخوا وټاکي.

**پر شریکانو باندې د شرکت د خالصې شتمنۍ وېش**

د افغانستان د مدني قانون ۱۲۵۹- ۱۲۶۰ مادو له مخې پاتې شوی مال د پورونو د ورکړې او تصفیې څخه وروسته د شرکت خالص مال شمېرل کېږي او دغه مال د ټولو شریکانو ګډ ملکیت دی.

د ګډ مال وېش په پانګه کې د هر شریک د سهم یا برخې په تناسب ترسره کېږي. که څه زیاته پاتې شوې حساب شوې ګټه، د ګټې له وېش سره سم چې په هغه باندې اتفاق شوی، وېشل کېږي. که چېرې د شرکت شتمني د شریکانو د برخو یا سهمیو د ورکړې تکافو ونه کړي، د هغه لږوالی(کمبودي) ضرر او تاوان شمېرل کېږي، د ضرر وېش چې په هغه اتفاق شوی محاسبه کېږي.

**د وېش توکي**

۱- د برخو یا ونډو ارزښت

۲- ګټه

۳- د تاوان وېشل

**۱. د ونډو د قیمت وېشل:** د ونډو د قیمت وېشل د هر شریک له برخې یا سهمیې سره سم خرنګه چې په تړون کې ثابت دي ترسره کېږي.

که په تړون کې د برخو یا سهمیو قیمت نه وي ټاکل شوی. تصفیه کوونکی هغه د وخت د قیمت په نظر شرکت ته وړاندې او حسابوي او د دې قضیې په اړه د شرکت پاڼو(اوراقو)، اسنادو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفترونو، د متخصصینو نظر او د شهودو شهادت ته مراجعه کوي. که چېرې سهمیه عمل وي، شریک د سهمیې د قیمت په توګه د هېڅ شي مستحق نه ګڼل کېږي، لیکن د کار یا عمل قیمت یې د دې لپاره ټاکل کېږي، تر څو ګټه او تاوان د هغه له تناسب سره سم ورته ووېشل شي. که چېرې د شریک سهمیه په یوه ټاکلي شي کې د ګټې حق او یا له ټاکلي شي څخه د انتفاع حق وي، شریک د هېڅ شي مستحق نه ګڼل کېږي.

**۲. د شریکانو ترمنځ د ګټې وېشل:** د ګټې وېشل له تړون سره سم ترسره کېږي. که چېرې په تړون کې په دې اړه یادونه نه وي شوي، په پانګه کې د هر شریک د ونډې په تناسب ګټه ورکول کېږي.

**۳. د شریکانو ترمنځ د تاوان وېشل(په سهمیو کې لړوالی):** دغه وېش د ګټې د وېش له قاعدې سره سم ترسره کېږي. یانې د هر شریک ضرر د هغه د ونډې په تناسب وي، چې د شرکت په پانګه کې یې لري.

### د شریکانو ترمنځ وېش

که چېرې د شرکت خالصه شتمني نغده وي. څرنګه چې مخکې تشریح شوه وېشل کېږي او که خالصه شتمني، منقول یا غیر منقول معلوم جنسونه وي. او یا په جنسونو باندې محتوا معینه وي په دې صورت کې د ټولو شریکانو ګډه شتمني شمېرل کېږي او د وېشلو له اصولو سره سم، ګډې شتمنۍ وېشل کېږي.

### د دویم څپرکي لنډیز

د شرکتونو عمر(فعالیت) هم لکه بل هر حقوقي شخص د مهال په بېلابېلو دلایلو پای ته رسیږي، نو په دې اساس د حقوقي شخصیت د ژوند پای ته رسېدل د انحلال له مفهوم سره یوځای دی. انحلال د د خواره شوی د (پراخه) په مانا دی، له هغه څه چې په قانون کې راغلي وي. په داسې ډول چې د شرکت بطلان چې د تجارتي فعالیت د پای ته رسېدو لپاره خاصه طریقه شمېرل کېږي هم باید په همدې مفهوم په پام کې ونیول شي.

د شرکت انحلال د قانون په ذریعه: د شرکت په انحلال کې د قانون اغېزه کولای شو په دوو بېلابېلو ټکو کې وڅېړو. هغه اسباب چې په خپله شریکانو پورې تړاو لري. لکه مړینه، حجز(لرې کول)، لاس تنګي او پرانحلال باندې اتفاق.

هغه اسباب چې د شرکت له موضوع سره تړاو لري. لکه د شرکت د مودې پای ته رسېدل او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو موخو پای ته رسېدل چې شرکت د هغه په خاطر جوړ شوی و.

د شرکت د ټاکلې مودې پای ته رسېدل، یا هغې موخې ته رسېدل چې شرکت د هغه په منظور جوړ شوی، که چېرې شرکت د یوه خاص هدف لپاره جوړ شوی وي کېدای شي د هغه د انحلال لامل شي.

خو شریکان کولای شي د شرکت د مودې د پای ته رسېدو په صورت کې تفاهم وکړي او د شرکت د فعالیت موده اوږده کړي.

د شرکت فسخ : د شرکت د فسخ کولو اسباب له اندازې څخه زیات او د رانغاړلو وړ نه دي. او د هغه د اسبابو د شتون ارزونه په محکمې پورې اړوندېږي.

ایستل(اخراج): هر شریک حق لري، د بل شریک د ایستلو غوښتونکی شي. د شریک د ایستلو غوښتنه ممکنه ده سبب ولري او یا له سبب پرته وي. ان د شریک اغېزمن نقش د شرکت په کامیابۍ کې او یا د هغه د کامیابۍ هیله د هغه د ایستلو امکان له منځه نه وړي.

د سبب لرونکي ایستلو بېلګه: د شرکت د معیار او یا کارونو له پای ته رسېدو څخه وروسته ټول شریکان د هغه د تمدید غوښتنه کوي. خو یو شریک هغه د معقولو اسبابو له وړاندې کولو پرته ردوي.

د شرکت تصفیه او وېشل: د پوروړو او شریکانو ترمنځ د شرکت د حسابونو له تصفیې او د شرکت د موجودې شتمنۍ د وېشلو له پیل څخه وړاندې د تصفیې هیئت له مخکې څخه د شرکت د صلاحیت لرونکې سرچینې له خوا ټاکل کېږي. تر څو په تصفیې پورې اړوند کارونه پرمخ یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي پوښتنې:**

۱- مدني شرکتونه د کوم قانون د احکامو تابع دي بيان يې کړئ؟

۲- مدني شرکتونه د کوم ډول معاملاتو د ترسره کولو لپاره جوړېږي تشريح يې کړئ ؟

۳- د مدني شرکت جنجالونه يا منازعات د محاکمو په واسطه حل وفصل کېږي بيان يې کړئ؟

۴- په مدني معاملاتو کې اثباتيه وسايل بيان کړئ؟

۵- کوم وګړي کولای شي د مدني شرکت ادارې ته وګمارل شي واضح يې کړئ ؟

۶- د مدير ګوښه کول په مدني شرکتونو کې په کوم دليل ترسره کېږي څرګند يې کړئ ؟

۷- په مدني شرکت کې د مدير صلاحيت تشريح کړئ؟

۸- په مدني شرکت کې د مديرانو تعدد(زياتوالی) بيان کړئ ؟

۹- په مدني شرکت کې د مدير نه ټاکل واضح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تضامني شرکتونه

**ټولیزه موخه:**

د تضامنې شرکتونو د منځته راتلو او جوړولو د څرنګوالي په اړه د معلوماتو لاسته راوړل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلین کولای شي د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات تر لاسه کړي:

- د تضامني شرکتونو په انحلال به پوه شي.
- د شریکانو اړیکي به له دریېمګړو وګړو سره درک کړي.
- له یو بل سره به د شرکت اړیکي درک کړي.
- د تضامني شرکتونو په جوړښت(تشکیل) به پوه شي.
- د قرارداد د ثبت په موده به پوه شي.

څرنګه چې مخکې وویل شول تضامني شرکتونه د وګړو شرکتونو له ډولونو څخه یو ډول شرکتونه دي، چې د فردیت خوښونې مفکورې، پېژندګلوي او د شریکانو د اعتماد په اساس منځته راځي. دا ډول شرکتونه د خپلو پور ورکونکو لپاره د تضمین سربېره، د شرکت پانګه، شخصي مالونه او شتمني د وثیقې په توګه هم تعهد کوي. چې په حقیقت کې دا یو ځانګړی خصوصیت دی، چې تضامني شرکتونه له نورو تجارتي شرکتونو څخه بېلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تضامني شرکتونو تعریف:**

د افغانستان تجارت د اصولنامې ۱۳۵ مادې له مخې؛ تضامني شرکتونه داسې تعریف شوي دي:

تضامني شرکت هغه شرکت دی، چې تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارتي مالونو لپاره د دوو یا څو تنو ترمنځ له تضامني مسئولیت سره جوړېږي. که د شرکت شتمني د ټولو پورونو د ورکړې لپاره کافي نه وي له شریکانو څخه هر یو د شرکت د ټولو پورونو د ورکړې مسئول دي.

د دغه شرکت د جوړولو لپاره لکه نور شرکتونه لیکلی قرارداد شرط دی. هغه موضوع چې باید په قرارداد کې ولیکل شي، د افغانستان د تجارت د اصولنامې په ۱۳۶- ۱۳۷ مادو کې يې يادونه شوې ده.

**د قرارداد د ثبت موده**

قرار داد باید د یوې میاشتې په اوږدو کې د تجارت د ثبت په دایره کې ثبت شي. که ثبت په قانوني موده کې ترسره نه شو، شریک حق لري د شرکت د قضایي انحلال غوښتونکی شي.
د شرکت د شتون اثبات، د اثبات د ټولو وسایلو په وسیله امکان منونکی دی. د شرکت انحلال د نه ثبت په سبب، د نورو په حقوقو باندې اغېزه نه لري.

**د تضامني شرکتونو جوړښت**

د تضامني شرکتونو د جوړښت لپاره د ټولې نغدې پانګې ورکړه او د ټولو غیر نغده پانګې په وړاندې کولو سربېره د لیکلي قرارداد شتون هم لازمي دی. څرنګه چې د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۳۷ ماده کې لاندې فقرې د تضامني شرکتونو په قرارداد کې د لیکلو وړ بولي:

۱. د قرارداد نېټه.

۲. د شریکانو نوم، شهرت، هستوګن ځای او نور ممیزه اوصاف که چېرې بل شرکت، دغه شرکت ته راننوتې وي، د نوموړي شرکت عنوان.

۳. د شرکت تجارتي مرکز.

۴. د شرکت تضامني والی.

۵. د شرکت عنوان.

۶. د هغو شریکانو اساس چې د شرکت په نوم کې د لاسلیک د صلاحیت لرونکي دي، د دې په څرګندولو سره چې یوازې او یا په ګډه د لاسلیک صلاحیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. د شرکت موضوع.

۸. د هغې پانګې ونډه چې هر شریک یې ژمنه کړې او د غیرنغده پانګې د یوې برخې اټکلي قیمتونه د هغه قیمت له ټاکلي حساب سره.

۹. په ګټه او تاوان کې د هر شریک د ګډون ونډه.

۱۰. د شرکت د جوړولو او پای ته رسېدلو نېټه.

سربېره پر دې شریکان کوم بل مورد چې ګټور بولي کولای شی په قرارداد کې زیات کړي. د قرارداد له ترون څخه وروسته د شرکت د جوړېدو له ورځې تر یوې میاشتې پورې په هغه ځای کې چې د شرکت مرکز واقع دی، د تجارتی ثبت دایره کې موضوع ثبت او اعلان کړي او دغه قرارداد د شرکت ډېره مهمه ستن او بنسټ جوړوي. منلې خبر ده چې په هېڅ ډول نه شي کولای د شریکانو د اکثریت له رضایت پرته هغه ته تغییر ورکړي.

**له یوبل سره د شریکانو اړیکي**

د شریک او تضامني شرکت تر منځ په اړیکو کې هغه لیکلي مقررات چې د دوی ترمنځ ترسره شوي معتبر دي. په هغه خصوصیت کې چې صراحتاً او ضمناً په قرارداد کې نه وي لیکل شوي، عمومي احکام تطبیقېږي.

د مدیر ټاکل او ګوښه کول(عزل)، د شرکت د قرارداد تعدیل، د شرکت د بودیجې د دفترونو په اسنادو کې د شریکانو اطلاع لاسته راوړل له عمومي احکامو سره سم ترسره کېږي.

هغه شریک چې د شرکت په اداره کې مؤظف وي، نه شي کولای چې د نورو شریکانو له رضایت او هوکړې پرته، بل وګړی د شریک په توګه په شرکت کې دننه او یا پر خپل ځای یې په اداره کې وټاکي. د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۱۵۱ مادې له مخې شریکان نه شي کولای د شریکانو له هوکړې پرته، بېله معامله د شرکت د معاملې له ډول څخه د خپل او یا د بل په حساب کې اجراء کړي.

شریک نه شي کولای د نورو شریکانو له هوکړې پرته، په خپل نوم بل شرکت ته چې د شرکت ورته معاملات ترسره کوي. د مسئول غړي په توګه وګمارل شي.(د نورو شریکانو د اعتراض موده بل شرکت ته د شریک د یوځای کېدو په اړه شپږ میاشتې ده)که د دغې محدودې په موده کې یې اعتراض ونه کړ. د هغوی چوپ والی ضمني هوکړه شمېرل کېږي. د تجارت اصولنامه ۱۵۸- ۱۵۹ مادو له مخې شریک حق لري، د شرکت د انحلال غوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له دریېمګړو وګړو سره د شریکانو اړیکي**

د شریکانو اړیکي د دریېمګړو وګړو په اړه په لاندې حالاتو کې تر بحث لاندې راتلای شي:

– د تضامني شریکانو شتون د دریېمګړو وګړو پر وړاندې د هغه د ثبت او اعلان له نېټې څخه تثبیتېږي،(د تجارت د اصولنامې ۱۶۰ ماده).

– یوازې د شرکت مدیران د شریکانو او دریېمګړو وګړو پر وړاندې د شرکت د استازیتوب حق لري. خو دا چې په قرارداد کې د هغه پر خلاف یادونه شوې وي.

– هغه شخص چې له شرکت څخه استازیتوب کوي په معاملاتو کې د شرکت په نوم لاسلیک کوي. خو دا چې په قرارداد کې د زیاتو شریکانو د لاسلیک اعتبار شرط ایښودل شوی وي.

– شرکت د پور ورکونکي او پوروړي صفت په هغو معاملاتو کې چې د دغه په نوم اجراء کېږي لاسته راوړي.

– شریکان د شرکت له پورونو او تعهداتو څخه ان په خپلو شخصي شتمنیو کې مسئولیت لري او هر تجویز چې له دغه اساس سره مخالف وي د دریېمګړو وګړو پر وړاندې معتبر نه دی.

– د شرکت د پور او ژمنو په نسبت، د دعوې اقامه لومړی په خپله شرکت باندې کېږي. که چېرې شرکت منحل شوی وي د دعوې اقامه د شرکت په شریکانو باندې ترسره کېږي. پور ورکوونکی حق لري د غوښتنلیک په ذریعه له محکمې څخه د شریکانو د شخصي مالونو تر څارنې لاندې نیولو غوښتنه وکړي.

– د تضامني شرکت د تصفیې یا تنګ لاسۍ پر وخت شرکت ته پور ورکوونکي د خپلو حقوقو په ترلاسه کولو کې د شریکانو له شخصي پور ورکوونکو څخه وړاندې دي.

– د شرکت لاس تنګي د شریکانو د لاس تنګۍ لامل نه کېږي. که د مفلس شرکت شتمني، د هغه د پورونو د ورکړې لپاره بسنه ونه کړي، نو پور ورکوونکي حق لري خپل پاتې پورونه د شریکانو له خصوصي شتمنیو څخه لاسته راوړي، که چېرې د هغوی شتمنیو هم بسنه ونه کړه. محکمه کولای شي د شریکانو د لاس تنګۍ حکم صادر کړي. د تجارت د اصولنامې ۱۶۸ ماده.

– شریکان د خپلې پانګې له کبله نه شي کولای د مفلس شرکت له شتمنۍ څخه استفاده وکړي.

– د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۱۷۰ مادې له مخې د شرکت پوروړی شخص نه شي کولای. خپل پور په هغه پور چې له شریکانو څخه یې په یوه شریک لري مجرا کړي.

– شرکت نه شي کولای خپل پور په هغه پور باندې چې په خپلو پوروړو یې لري مجرا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تضامني شرکت انحلال، د شریکانو ایستل او له بل شرکت سره یوځای کېدل:

**د تجارت اصولنامې ۱۷۱- ۲۰۱ مادې**

**انحلال:** د تضامني شرکت د انحلال اسباب عین هماغه اسباب دي، چې مخکې تشریح شول. د شرکت د مال د ضایع کېدو د شرط په اړه باید ووایو، چې دربیمه اندازه مشروط دی. که په تړون کې د ځینو دې اسبابو د نه مؤثریت په اړه تنقیص ترسره شوی وي. باید په دقیقه توگه ولیکل او وټاکل شي او شرط باطل وشمېرل شي.

د افغانستان د تجارت اصولنامې د ۱۷۵ مادې سره سم د قضایي انحلال موارد په لاندې توگه دي:

۱. د شرکت مقصد ته د نه رسېدو امکان.

۲. په ادارې کارونو او د حسابونو په سمبالښت کې د یوه شریک خیانت.

۳. د اصلي دندو نه ترسره کول چې یوه شریک ته سپارل شوي دي.

۴. د یوه شریک له خوا د شخصي گټو لپاره د شرکت د عنوان او یا مالونو ناوړه استعمال.

۵. د شرکت د کارونو په اجرا کې د یوه شریک د ناروغتیا او یا بل لامل له مخې وړتیا او اهلیت نه لرل.

هغه شرکتونه چې د یوې معلومې مودې لپاره جوړ شوي دي. او یا داچې د هغوی د فعالیت تداوم د شریکانو د یوه پر ژوند پورې تړلې وي. خو که د مودې د بشپړېدو او یا د شریک له مړینې څخه وروسته خپلو معاملاتو ته دوام ورکړي، په غیرمحدودالمدت شرکت باندې بدلېږي.

هغه شریک چې خپل تعهد یې د پانگې د ورکړې په اړه نه دی ترسره کړی لازم دی مخکې له دې چې د شرکت د انحلال غوښتنه ترسره شي، هغه ته مخکې تر مخکې اخطار ورکړل شوی وي.

**الف- د شرکت د انحلال ثبت (د تجارت اصولنامه ۱۸۹ ماده)**

د شرکت انحلال باید په لاندې حالاتو کې ثبت شي:

– که چېرې د شرکت د انحلال سبب له لاس تنگۍ څخه پرته وي، شریکان مکلف دي د هغه انحلال ثبت کړي.

– که چېرې د شرکت د انحلال او یا ایستلو سبب، مړینه وي. د ثبت مراسم د شریکانو او ورثه وو، په مرسته ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب- د انحلال اثار: عمومي احکام (د معاملاتو د اجرا منع)**

– د شرکت د انحلال تر ثبت او خپرولو پورې د شریکانو مسئولیت د دریېمګړو وګړو پر وړاندې پر خپل ځای پاتې کېږي.

**ج: مړینه، حجز(لرې کول) یا افلاس**

که په تړون کې پورتني ټکي د شرکت د انحلال د اسبابو په توګه ذکر شوي وي. د هغه د پېښېدو سره سم شرکت منحلېږي. پرته له هغه د ۱۷۹- ۱۸۱ مادو لیکلي احکام تطبیقېږي او په لاندې توګه دي:

**لومړی:** که په تړون کې د ورثه وو ځای پر ځای کېدل د متوفی پر ځای نه وي ذکر شوي. د شریکانو تصمیم باوري دی، که چېرې ورثه دغه ځای پر ځای کېدل ونه مني. شریکان کولای شي د هغه هوکړه تصویب کړي. پرته له هغه مجبور دي د هغوی پانګه او حقوق هغوی ته وسپاري او شرکت ته په خپل منځ کې دوام ورکړي.

**دویم:** که چېرې په تړون کې د ورثه وو د ځای پر ځای کېدو او د شرکت د استمرار(تلوالي) موضوع ذکر وه. ورثه له دوو ځایونو څخه ګټه اخیستونکی دي.

۱. د تضامني شریک په توګه د خپل د مورث ځای ونیسي. پاتې شریکان مجبور دي هغوی ومني.

۲. ورثه ملکف دي؛ چې شریکان د یوې میاشتې په اوږدو کې د خپل له نظره د تضامني شریک په توګه د ګډون او یا نه ګډون په اړه خبر کړي او په همدې موده کې د محدودالمسئولیت شریکانو په توګه دي.

که چېرې وارث کوچینی وي، د هغه ګډون د تضامني شریک په توګه مجاز نه دی. خو د صغیر د ولي او یا وصي د غوښتنې په صورت کې، که نور شریکان یې ومني د محدودالمسئولیت شریک په توګه شاملېږي.

**د حجز(لرې کولو) په قضیه کې واکونه:**

نوموړي عین احکام د شریک د مړینې په اړه په دې قضیه کې هم تطبیقېږي.

**۲. د شریک ایستل:** شریک یا شریکان په لاندې حالاتو کې له شرکت څخه ایستل کېږي.

**الف:** له شریکانو څخه یو د لاس تنګۍ په حال کې او که چېرې د شرکت په قرارداد کې په بل ډول څرګندونه نه وي شوي. تنګ لاسی شریک له شرکت څخه ایستل کېږي. او د لاس تنګي د حقوقو په اړه پرېکړه نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب:** که له شریکانو څخه یو هم د هغه شرکت د انحلال غوښتنه وکړي، چې د هغه موده ټاکلې نه وي، پاتې شریکان حق لري د هغه غوښتنه درک کړي، هغه له شرکت څخه وباسي او شرکت ته په خپلو منځونو کې دوام ورکړي.

**ج:** که د کوم لامل له مخې چې په یو شریک وګړي پورې اړوند وي. د شریک د انحلال غوښتنه شوې وي محکمه کولای شي د نورو شریکانو د غوښتنې په اثر، د نوموړي شریک په ایستلو او د شرکت په دوام حکم صادر کړي.

**د:** که شرکت له دوو شریکانو څخه جوړ وي او له هغوی څخه یو وایستل شي. محکمه کولای شي د پاتې شوي شریک د غوښتنې په سبب، شرکت نوموړي ته تخصیص کړي، په دې شرط چې پاتې شوی شریک نوی شریک وپلټي او هغه له ځان سره سهیم کړي.

**هـ:** که په یو شرکت کې چې له دوو تنو څخه جوړ شوی وي، له شریکانو څخه یو د شرکت د انحلال غوښتنه وکړي یا له شریکانو څخه یو هم تنګ لاسی شي بل شریک کولای شي شرکت ته په خپل حساب دوام ورکړي.

له شرکت څخه د ایستل شوي شریک حقوق: د افغانستان د تجارت د اصولنامې سره سم په ۱۹۱- ۱۹۳ مادو کې د ایستل شوي شریک حقوق په عمومي توګه په لاندې توګه څرګند شوي دي:

– د هغه شریک برخه چې له شرکت څخه ایستل کېږي او یا خپله وځي. که د هغه په خلاف په تړون کې کوم صراحت نه وي، له هغې نېټې څخه چې ایستل شوی وي د شرکت له شتمنۍ څخه ټاکل کېږي.

– شریک ته د هغه برخه په نغده توګه له تعیین او تجدید څخه ورکول کېږي.

– د هغه شریک برخه چې ایستل کېږي یا په خپله وځي، که چېرې د تصفیې مهال په قرارداد کې معین وي، په هغه وخت کې که معین نه وي د لومړني بېلانس د جوړولو پر مهال چې د شریک له ایستلو څخه وروسته په کاربېږي تصفیه کېږي.

– هغه شریک چې ایستل کېږي. په هغو حقوقو او تکلیف کې چې د هغه د ایستلو له معاملاتو څخه رامنځ ته کېږي، ګډون کوي.

– که د شرکت تصفیه دستي شوني نه وي. د هغه ځنډول د کال تر اخره جواز لري. ایستل شوی شریک کولای شي د هغو معلوماتو په اړه چې د هغه د ایستلو پر مهال جریان لري، د حسابي کال په پای کې معلومات ترلاسه کړي.

– د شریکانو ایستل او وتل له شرکت څخه لزوماً باید ثبت شي.

– د دریېمګړو وګړو پر وړاندې د شریک وتل او یا ایستل تر څو چې نه وي ثبت شوي، د اعتبار وړ نه دي. د ایستل شوي شریک مسئولیت به لکه نورو شریکانو غوندې په خپل ځای پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شخصي پور ورکوونکي حق د شرکت د انحلال غوښتنه او د تصفيې له کارونو څخه څارنه**

د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۱۹۵ مادې سره سم د يوه شريک شخصي پور ورکوونکی که چېرې د پوروړي وګړي له مالونو څخه خپل حق ترلاسه نه کړای شي. کولای شي د تصفيې پر مهال د پوروړي شريک برخه د محکمې په ذريعه تر څارنې لاندې ونيسي او د شرکت انحلال دې(په دې شرط چې شپږ مياشتې مخکې يې خبر ورکړی وي) د حسابي کال په پای کې وغواړي.

**شريکان کولای شي له دوو لارو څخه په ګټې اخيستو سره د شرکت د انحلال مانع شي:**

۱. شريک يا شرکت کولای شي د پور ورکوونکي پور د شرکت د انحلال د حکم له صادرېدو څخه مخکې ورکړي او د انحلال حکم ساقط کړي. د تجارت د اصولنامې ۱۹۵ ماده

۲. پوروړی شريک دې له شرکت څخه وباسي او پور ورکوونکي ته په دې اړه خبر ورکړي په دې شرط چې ايستل د حسابيه کال په اخر کې ترسره شي. د تجارت اصولنامه ۱۹۶ ماده.

۳. الحاق(يوځای کېدل): د افغانستان دتجارت اصولنامه په ۱۹- ۲۰۱ مادو کې په الحاق پورې اړوند مسايل داسې تر څېړنې لاندې راوستي دي.

– دوه شرکتونه يا زيات تضامني شرکتونه کولای شي له يو او بل سره يوځای او يو نوی تضامني شرکت جوړ کړي او يا يو موجوده تضامني شرکت سره يوځای شي.

– د تضامني شرکتونو د يوځای کېدو لپاره بايد بېل تصويبونه د اړوندو شرکتونو له خوا جوړ، ثبت او اعلان شي. هر يوځای شوی شرکت بايد خپل بېلانس اعلان کړي.

– هغه تصويب چې د يوځای کېدو لپاره جوړېږي د اعلان له نېټې څخه تر دريو مياشتو وروسته نافذېږي. که چېرې يوځای شوي شرکتونه خپل پورونه ورکړي او يا هغه پيسې چې د دوی د پورونو معادل دي يوه معتبر بانک ته وسپاري(د امانت په توګه دې وسپاري) يا پور ورکوونکي دې د شرکتونو په يوځای کېدو راضي شي لازم نه دی، چې درې مياشتې انتظار وايستل شي. هغه رسيد چې د پورونو د معادلو پيسو پر وړاندې له بانک څخه اخيستل کېږي هم بايد ثبت شي.

– د يوځای شوو شرکتونو څخه هر يو له پور ورکوونکو څخه د دريو مياشتو په اوږدو کې د يوځای کېدو په اړه اړوندې محکمې ته اعتراض کولای شي. تر هغه وخته چې د اعتراض له حق څخه تېر نه شي. يا د محکمې حکم د معترض پور ورکوونکي په اړه قاطعيت ترلاسه نه کړي. يوځای کېدل به ترسره نه شي.

– که د نوموړو دريو مياشتو په منځ کې اعتراض واقع نه شي، د يوځای کېدو معامله قاطعيت ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تضامني شرکتونو تصفیه د تجارت اصولنامه ۲۰۲- ۲۴۲ مادې**

د تصفیې په بهیر کې لاندې مسایلوته پاملرنه لازمي ده:
– د تصفیه کوونکو التزام د هغو پیسو په تحویلولو کې چې له تصفیې څخه وروسته پاتې شوې دي، که چېرې له زرو افغانیو څخه زیاتې وي او هغوی له ځانه سره نه ساتلې.

– د تصفیه کوونکو التزام د ټولو معلوماتو په اړه د تصفیې او بېلانس جوړولو په اړوند ټولو شریکانوته ته خبر ورکول په داسې توگه چې اعتراض ونه کړي قطعي او معتمد بېلانس شمېرل کېږي. که شریکانو په دې موده کې خپلې برخې تسلیم نه شوې. باید د متعددو بانکونو څخه له یوه بانک څخه ووېشل شي.

– دشرکت د تړون د احکامو ثبت او اعلان چې د تصفیې په مامورنیوپورې اړه لري د هغو مقرراتو سره چې د شریکانو او محکمې له خوا د تصفیې مامورانو د یقین، بدلون او عزل(له کاره ایستلو) په اړه وضع کېږي.

– د پانگې وېش په شرکت کې د تصفیه کوونکو په پېژندگلوي د شرکت له قرارداد سره سم او یا له هغو تصویبونو سره سم چې له تړون څخه وروسته د شریکانو ترمنځ ترسره شوي سرته رسېږي. د پانگې وېش د شریکانو ترمنځ تر هغې مودې چې په قرارداد یا تصویبونو کې په بل ډول نه وي، په نغده توگه ترسره کېږي. هغه تصفیه کوونکي او ماموران چې هغوی د پېژندگلوي په ذریعه د تصفیې په کارونو گمارل کېږي. د شریکانو او دریېمگړو وگړو په وړاندې، د دې قانون د هر ډول مخالفو اجرااتو مسئول دي.

**۱. د تصفیه کوونکي تنخوا : د افغانستان د تجارت اصولنامه ۲۴۱ ماده**

الف- که د شریکانو له جملې څخه وي د تنخوا مستحق نه کېږي. مگر دا چې په تړون یا تصویبونو کې د هغه پر خلاف یادونه شوې وي.

ب- که د شریکانو له جملې څخه نه وي د تنخوا مستحق کېږي. که څه هم په قرارداد کې په دې اړه څه شی نه وي.

**۲. د تصفیې د پاڼو او سجلونو د ساتنې ځای:**

د تصفیې پاڼې او سجلونه په یوه امن ځای کې او یا په داسې ځای کې چې محکمه یې ټاکي ساتل کېږي.

**په تضامني شرکتونو کې د شریکانو د مسئولیت په اړه قضیه :**

په یوه تضامني شرکت کې چې د هغه پانگه ۵۰ زره افغانۍ ده درې تنه چې عبارت دي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصرالله، محمدحکیم او نذیراحمد څخه شریکان دي. د شرکت په پانګه کې د لومړني شریک ونډه ۲۵۰۰۰ افغانۍ، د دویم شریک ۱۵۰۰۰ افغانۍ او د دریېم شریک ۱۰۰۰۰ افغانۍ ده.

که چېرې د شرکت شتمني د پور ورکوونکو د پور لپاره چې ۲۵۰ زره افغانۍ دي، بسنه ونه کړي. د هر یو شریک مسئولیت به د پور ورکوونکو پر وړاندې څه وي؟ او په کومه اندازه به د نوموړو پیسو په ورکړه مکلف وي؟ ایا پور ورکوونکي کولای شي له شریکانو څخه یوه شریک ته د نوموړو ټولو پیسو د ورکړې لپاره مراجعه وکړي؟

دویمې پوښتنې ته د مثبت ځواب په صورت کې دلایل هغه څه دي او په دې حالت کې هغه شریک ته چې مراجعه شوې له کومو حقوقو څخه د دوو شریکانو پر وړاندې برخمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم څېرکي لنډیز:**

د تضامني شرکتونو د جوړولو لپاره د ټولې نغدې پانګې ورکړه او د ټولو غیر نغده پانګې پر وړاندې کولو سربېره د لیکلي قرارداد شتون هم اړین دی. د شریکانو اړیکي یو له بل سره د شریک او تضامني شرکت تر منځ په اړیکو کې د هغه ترون مقررات چې د دوی ترمنځ ترسره شوي معتبر دي. په هغه خصوصیاتو کې چې صراحتاً او ضمناً په قرارداد کې نه وي لیکل شوي، عمومي احکام تطبیقېږي.

د تضامني شرکت انحلال د تضامني شرکت د انحلال اسباب عین هماغه اسباب دي، چې مخکې تشریح شول. د شرکت د مال د ضایع کېدو د شرط په اړه باید ووایو، چې درېیمه اندازه مشروط دی. که په ترون کې د ځینو دې اسبابو د نه مؤثریت په اړه تنقیص ترسره شوی وي. باید په دقیقه توګه ولیکل او وټاکل شي او شرط باطل شمېرل کېږي

**د شرکت انحلال باید په لاندې حالاتو کې ثبت شي:**

که چېرې د شرکت د انحلال سبب له تنګ لاسۍ څخه پرته وي، شریکان مکلف دي د هغه انحلال ثبت کړي.که چېرې د شرکت د انحلال او یا ایستلو(خروج) سبب، د شریک ایستل مړینه وي. د ثبت مراسم د ورثه وو په مرسته ترسره کېږي.

د انحلال اثار د شرکت د انحلال تر ثبت او خپرولو(نشر) پورې د شریکانو مسئولیت د درېیمګړو وګړو پر وړاندې په خپل ځای پاتې کېږي. مړینه، حجز(لرې کول) یا افلاس(لاس تنګي)

که په ترون کې پورتني ټکي د شرکت د انحلال د اسبابو په توګه ذکر شوي وي. د هغه د پېښېدو سره سم شرکت منحلېږي. پرته له هغه د اصولنامې د موادو لیکلي احکام تطبیقېږي.

الحاق(یوځای کېدل) دوه شرکتونه یا زیات تضامني شرکتونه کولای شي له یو او بل سره یوځای او یو نوی تضامني شرکت جوړ کړي او یا یوه نوي تضامني شرکت سره یوځای شي.

د تصفیه کوونکو التزام د ټولو معلوماتو په اړه د تصفیې او بېلانس جوړولو په اړوند ټولو شریکانو ته خبر ورکول په داسې توګه چې د پانګې برخه ګټه او تاوان ښکاره کړي. که شریکانو د یوې میاشتې په موده کې د بېلانس د وړاندې کولو څخه وروسته اعتراض ونه کړو بېلانس قطعي او معتمد شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېيم څپرکي پوښتنې**

۱- د قانون په ذريعه د شرکت انحلال بيان کړئ؟

۲- د شرکت د ټاکلې مودې پای ته رسېدل چې د شرکت د انحلال لامل کېږي څرګند کړئ ؟

۳- د ټولو مالونو له منځه تلل او د هغه مهم توکی چې د شرکت د انحلال لامل کېږي تشريح کړئ؟

۴- د قرار داد د ثبت نېټه واضح کړئ؟

۵- کومې فقرې د تضامني شرکتونو په قرارداد کې د ليکلو وړ دي واضح يې کړئ؟

۶- په تضامني شرکتونو کې د قضايي انحلال موارد واضح کړئ؟

۷- په تضامني شرکتونو کې الحاق(يوځای کېدل) څرګند کړئ؟

۸- د تضامني شرکتونو د انحلال اثار بيان کړئ؟

۹- د تضامني شرکتونو د تصفيه کوونکي تنخوا څرګنده کړئ؟

۱۰- د تضامني شرکتونو د تصفيه کوونکو الزام(په غاړه اخيستل) بيان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګډ تضامني شرکتونه

**ټولیزه موخه:**

د ګډ(مختلط) تضامني شرکتونو د ماهیت او د هغه د جوړښت د کړو وړو په اړه د معلوماتو لاسته راوړل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین لاندې معلومات تر لاسه کړي:

- د ګډ تضامني شرکت عمومي احکام به توضیح کړي.
- د شریکانو اړیکي به له یو بل سره بیان کړي.
- د شریکانو اړیکي به له درېیمګړو وګړو سره بیان کړي.
- د شرکت پورووړي او د شریکانو پورووړي به توضیح کړي.

ګډ تضامني شرکت د تضامني شرکت له یو ډول څخه دی او له حقوقي پلوه د وګړو د شرکتونو له جملې څخه شمېرل کېږي. په دې مانا چې لکه تضامني شرکت، شریکان د هغه اعتماد پر اساس چې د هغوی په منځ کې شتون لري په خپلو کې د دې ډول شرکت په جوړولو تصمیم نیسي.

ګډ تضامني شرکت د تجارتي شرکتونو د پخوانیو ډولونو څخه یو ډول دی. ګډ تضامني شرکت په دې اصل کې له تضامني شرکت سره توپیر لري. چې د تضامني شرکت پر خلاف د ګډتضامني شرکت ټول شریکان تضامني شریکان نه دي، بلکې د هغوی یو شمېر محدودالمسئولیت شریکان دي.

د یادولو وړ ده؛ چې ګډ تضامني شرکتونه د ځینو مواردو په استثناء په ځانګړې توګه د شریکانو مسئولیت، په نورو ټولو مواردو کې د تضامني شرکتونو د احکامو تابع دي. دا دی په ګډ تضامني شرکت پورې اړوند مهم موضوعات تر څېړنې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماهیت او د جوړښت کړه وړه: د تجارت د اصولنامې ۲۴۳- ۲۶۴ مادې**

۱. تعریف: هغه شرکت چې تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارت د ترسره کولو په مقصد جوړېږي. د یوه یا څو تنو شریکانو مسئولیت د شرکت د پوروړو پر وړاندې غیرمحدود او د هغه بل شریک یا شریکانو مسئولیت په یوې ټاکلې پانګه محدود وي. نوموړی شرکت ګډ تضامني کوماندېټ نومول کېږي. د هغو شریکانو پانګه چې د محدود مسئولیت تابع وي، امکان لري په ونډو ووېشل شي. د دې شرکت عنوان یوازې د تضامني شریکانو له نومونو څخه جوړېږي. نه د محدودالمسئولیت له شریکانو څخه.

له پورته عباراتو څخه څرګندېږي؛ چې ګډ تضامني شرکتونه له متضامنو شریکانو او د هغو شریکانو چې د محدود مسئولیت لرونکي دي د ونډې په اندازې ترکیبي دي.

په دې ډول شرکتونو کې د تضامني شریکانو په نسبت د تضامني شرکتونو مقررات او د غیر متضامن شریکانو په نسبت د سهامي شرکتونو مقررات تطبیقېږي. د شرکت په عنوان کې باید د ګډ متضامني کلمه حتماً ذکر شي او هم له شریکانو څخه اقلاً د یوه نوم لیکل چې د غیرمحدود مسئولیت لرونکی دی. د شرکت په عنوان کې اړین دی.

همدارنګه د ګډ تضامني او سهامي شرکتونو د تأسیس مقررات د تجارت د اصولنامې د ۴۵۰ مادې له مخې تصریح شوی دی، چې د دې ډول شرکت په جوړولو کې لږ تر لږه د پنځو تنو مؤسسینو شتون شرط دی. همدارنګه له نوموړې مادې سره سم لږ تر لږه له مؤسسانو څخه یوتن باید د متضامنو شریکانو له جملې څخه وي.

د تجارت اصولنامه د متضامنو شریکانو حقوقي اړیکي له یو او بل سره او له محدود مسئولیت لرونکو شریکانو سره، درېیمګړو وګړو او د شرکت د ادارې په اړه صلاحیتونه د هغه نماینده ګي په بهر کې او له شرکت څخه بهر د احکامو تابع بولي، چې په پورته مورد کې د ګډتضامني شرکت په اړه څرګندونه شوې او هغه موارد چې نور خصوصیت ولري او د ګډ او سهامي شرکتونو په اړوند څپرکي کې یادونه نه وي شوې. د سهامي شرکتونو د مقرراتو تابع بولي.

۲. د ګډ تضامني شرکت عمومي احکام: د افغانستان د تجارت د اصولنامې په اساس له هغو مواردو پرته چې په دې څپرکي کې د مخکني څپرکي د احکامو پر خلاف یادونه شوې ده د تضامني شرکتونو په اړه د تطبیق وړ احکام، د ګډو تضامني شرکتونو په اړه له یو بل سره معتبر دي. د شرکت د ډول(نوعیت)د تعیینولو د نه امکان په صورت کې چې ګډ تضامني وي. تضامني شرکت ګڼل کېږي. د ګډو تضامني شرکتونو په قرار داد کې د ۱۳۷ مادې سربېره د محدودالمسئولیت شریکانو نومونه د پانګې له اندازې سره چې هر یو یې خپله پانګه ورکړې ده. هم ثبت او اعلانېږي. د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۱۳۷ مادې له مخې د لاندینیو مسایلو لیکل د شرکت په قرارداد کې حتمي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د قرارداد نېټه.

– نوم، شهرت، هستوګن ځای او د شریکانو ممیزه نور اوصاف او که بل شرکت، شرکت ته دننه شوی وي د نوموړي شرکت عنوان.

– د شرکت د تجارت مرکز.

– د شرکت تضامني والی.

– د شرکت عنوان.

– د هغو شریکانو نوم چې د شرکت په نوم د لاسلیک د صلاحیت لرونکي دي. د دې په څرګندولو چې یوازې او یا په ګډه د لاسلیک صلاحیت لري.

– د شرکت موضوع.

– د هغې پانګې برخه یا حصه چې هر شریک تعهد کړی وي او د غیر نغدي پانګې د یوې برخې اټکلي قیمتونه د هغه د قیمت د ټاکل شوي حساب سره.

– د هر شریک د ګډون برخه په ګټه او تاوان کې.

– د شرکت د تاسیس او پای ته رسېدلو نېټه.

– سربېره پر دې شریکان کولای شي، نورې فقرې چې ګټورې ورته ښکاري، په قرارداد کې ولیکي. لکه کوم څه چې په قرارداد کې لیکل شوي د هغوی ثبت او خپرول لازمي ګڼل.

– د دې اجازه نه ورکول چې د محدودالمسئولیت شریک سهمیه کار یا شهرت وي او د دې اجازه ورکول چې علمي یا هنري اختراع وي.

– په پانګه کې د محدودالمسئولیت شریک مسئولیت منحصر د هغه د سهمیې د دایرې په اندازه وي. محدودالمسئولیت د حسابیې په پای کې کولای شي د خپلې ګټې برخه او که په قرارداد کې څرګندونه شوې وي. خپل پولي ټکټ هم واخلي.

– که چېرې شرکت تاوان کړی وي. تر هغه وخته چې خپل تاوان بېرته وباسي. پولي ټکټ نه ورکول کېږي. خو په راتلونکي کال کې د پانګې د تاوان له پوره کېدو څخه وروسته د تېرو کلونو پولي ټکټ له پاتې ګټې څخه ورکول کېږي.

– محدودالمسئولیت شریکان مجبور نه دي. هغه پولي ټکټ او ګټه چې مخکې یې ترلاسه کړې، د هغو تاوانونو له جبران څخه چې وروسته پېښېږي، اعاده کړي.

– د یوه محدودالمسئولیت شریک د مړینې په صورت کې ورثه د هغه پر ځای معرفي شمېرل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

– که چېرې محدودالمسئولیت شریک خپل حق په شرکت کې د نورو شریکانو له اجازې پرته ټوله یا یوه برخه بل وګړي ته وسپاري. پېرودونکی به د شرکت په اداره کې د دخالت او په کارونو کې د تدقیق حق نه لري.

**د شریکانو له یو بل سره اړیکي**

که د شراکت په تړون کې د شریکانو له یو بل سره د اړیکو په اړه بل ډول څرګندونه نه وي شوي. په دې صورت کې دتضامني شرکتونو احکام تطبیقېږي. او کولای شو هغه په لاندې توګه بیان کړو:

– اداره یوازې په تضامني شریک پورې اړونده ده. محدودالمسئولیت شریکان د ادارې صلاحیت نه لري او نه شي کولای هغه کسان چې د ادارې صلاحیت لري، له هغه څخه منع کړي. لیکن کولای شي خپل نظریات وړاندې او د شرکت د اسنادو دفترونه په خپله او یا د پوهو وګړو په واسطه تدقیق کړي. په پوهو وګړو باندې د اعتراض په صورت کې د محدودالمسئولیت شریک د مراجعت په اثر پوه وګړي(اهل خبره) د محکمې له خوا ټاکل کېږي.

– د تجارت د اصولنامې د ۱۵۸ مادې احکام د نورو معاملاتو د اجراء یا په نورو شرکتونو کې د ګډون په اړه د محدودالمسئولیت شریکانو په اړه نه تطبیقېږي. خو که چېرې محدودالمسئولیت شریک یوه موسسه چې د هغه معاملات د شرکت موضوع جوړوي تاسیس کړي یا یوه بل وګړي ته چې همداسې یوه موسسه یې پرانستې وي ګډون وکړي. یا په یوه موجود شریک چې همدا ډول معامله کوي، دننه شي. د شرکت په پاڼو او دفترونو کې به د تدقیق حق ونه لري.

**له دریېمګړو وګړو سره د شریکانو اړیکي**

هغه محدودالمسئولیت شریک چې نوم یې د شرکت په عنوان کې دننه وي. د دریېمګړو وګړو پر وړاندې په غیرمحدود صورت کې مسئول ګڼل کېږي.(د تضامني شریک په صفت بدلون) لیکن هغه صلاحیتونه لکه مشوره ورکول، د پلټنې حق او د شرکت پر کارونو څارنه، د شرکت د مامورانو په ټاکلو او لرې کولو کې ګډون د هغوی د غیر محدود مسئولیت لامل نه کېږي. د ګډو تضامني شرکتونو اداره د تضامني شریکانو له صلاحیتونو څخه دي او د دغه صلاحیت حدود د هغو احکامو تابع دي، چې د تضامني شرکتونو په اړه تطبیقېږي. د شرکت مدیر کولای شي محدودالمسئولیت شریکان د وکیل په توګه د ځینو اداري کارونو په اجرا کولو وګماري. په دې حالت کې شرکت به د هغه د کارونو په اړه ځواب ویوونکی وي. خو که چېرې د خپل وکالت له حدودو څخه تېری وکړي مسئولیت په خپله همده ته متوجه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکت پوروړي او د شریکانو پوروړي**

محدودالمسئولیت شریکان د پور ورکونکو پر وړاندې د شرکت په پانګه کې د خپلو سهمیو په تناسب مسئولیت لري. پور ورکوونکي تر هغه وخته چې شرکت منحل او یا اصولي تعقیبات وربانديې بې ګټې نه وي پاتې شوي، هغوی ته مراجعه نه شي کولای. د ګډتضامني شرکت د لاس تنګۍ په صورت کې، د شرکت د پور ورکوونکو پورونه نسبت د شریکانو شخصي پور ورکوونکو پورونو ته لومړیتوب لري. یانې لومړی باید د شرکت پورونه ورکړل شي وروسته بیا د شریکانو شخصي پورونه اداء شي.که چېرې د شرکت شتمني د پور ورکوونکو د پورونو لپاره بسنه ونه کړي پور ورکوونکي کولای شي د خپلو پاتې شوو پورونو لپاره د غیر محدودالمسئولیت هر شریک شخصي مالونو ته مراجعه وکړي په داسې حال کې د شرکت پور ورکوونکي د شریکانو له شخصي پور ورکوونکو سره، مساوي حقوق لري. احکام او د تطبیق وړ مواد د تضامني شرکتونو د انحلال او تصفیې په اړه، په ګډو تضامني شرکتونو کې هم تطبیقېږي. هغه وګړی چې په شرکت باندې ټاکلی پور ولري او له بل پلوه پوروړی یو محدودالمسئولیت شریک وي، چې تر اوسه یې د خپلې پانګې برخه نه ده ورکړې. امکان لري دغه پور د محدودالمسئولیت شریک له پور سره مجراء کړي.

**د ګډو تضامني شرکتونو په اړه قضیه**

په یوه ګډ تضامني شرکت کې چې د هغه پانګه ۲۵۰ زره افغانۍ ده. درې تنه هر یو بشیراحمد، نادیه او غلام رسول شریکان دي.

نادیه د تضامني شریک صفت لرونکې ده او دوه تنه نور شریکان غیرتضامني دي. یو وخت د شرکت پورونه ۴۸۰ زره افغانیو ته رسېږي او د شرکت شتمني د هغې د ورکړې لپاره بسنه نه کوي.

دې موضوع ته په پام سره چې نادیه ۱۵۰ زره افغانۍ د شرکت په پانګه کې ونډه لري، د بشیراحمد ونډه ۷۵ زره افغانۍ او د غلام رسول ونډه ۲۵ زره افغانۍ ده. له شریکانو څخه د هر یوه مسئولیت د ۴۸۰ زره افغانیو د ورکړې په اړه په کومه اندازه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځلورم څپرکي لنډيز**

ګډ تضامني شرکت د تضامني شرکت له يو ډول څخه دی. او له حقوقي پلوه د وګړو د شرکتونو له جملې څخه شمېرل کېږي. په دې مانا لکه تضامني شرکت، شريکان د هغه اعتماد له مخې چې د هغوی په منځ کې شتون لري په خپلو کې د دې ډول شرکت په جوړولو تصميم نيسي.

هغه شرکت چې تر ټاکلي عنوان لاندې د تجارت د ترسره کولو په مقصد جوړېږي. د يوه يا څو تنو شريکانو مسئوليت د شرکت د پوروړو پر وړاندې غيرمحدود او د هغه بل شريک يا شريکانو مسئوليت په يوې ټاکلې پانګه محدود وي. نوموړی شرکت ګډ تضامني نومول کېږي.

د هغو شريکانو پانګه چې د محدود مسئوليت تابع وي، امکان لري په سهامو وویشل شي. د دې شرکت عنوان يوازې د تضامني شريکانو له نومونو څخه جوړېږي. نه د محدودالمسئوليت له شريکانو څخه له پورته عباراتو څخه څرګندېږي چې ګډ تضامني شرکتونه له متضامنو شريکانو او د هغو شريکانو چې د محدود مسئوليت لرونکي دي د ونډې په اندازې ترکيبي دي.

د ګډ تضامني شرکت عمومي احکام د افغانستان د تجارت د اصولنامې په اساس د هغو مواردو په استثناء چې په دې څپرکي کې د مخکني څپرکي د احکامو په خلاف يادونه شوې ده د تضامني شرکتونو په اړه د تطبيق وړ احکام، د ګډو تضامني شرکتونو په اړه هم معتبر دي. د شرکت د ډول د ټاکلو د نه امکان په صورت کې چې تضامني يا ګډ تضامني وي. تضامني شرکت ګڼل کېږي.

د شريکانو له يو بل سره اړيکي که د شراکت په تړون کې د شريکانو له يو بل سره د اړيکو په اړه بل ډول څرګندونه نه وي شوي. په دې صورت کې دتضامني شرکتونو احکام تطبيقېږي. اداره يوازې په تضامني شريک پورې اړونده ده. محدودالمسئوليت شريکان د ادارې صلاحيت نه لري. او نه شي کولای هغه کسان چې د ادارې صلاحيت لري، له هغه څخه منع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې**

۱- تضامني شرکتونه په کوم اساس منځته راځي بيان يې کړئ؟

۲- په تضامني شرکتونو کې په هغه صورت کې چې د شرکت شتمني د ټولو پورونو د ورکړې لپاره کافي نه وي موضوع بيان کړئ؟

۳- د قرار داد د ثبت نېټه واضح کړئ؟

۴- د تضامني شرکتونو د جوړښت لپاره اصلي توکيځرګندکړئ؟

۵- د افغانستان د تجارت اصولنامه ۱۳۷ ماده د تضامني شرکتونو په قرارداد کې کومې فقرې(جملې) ليکلې دي واضح يې کړئ؟

۶- د افغانستان د تجارت اصولنامه ۱۵۱ ماده د شريکانو د مناسبت په اړه څه صراحت لري واضح يې کړئ ؟

۷- د افغانستان د تجارت اصولنامه ۱۶۸ ماده د تضامني شرکتونو د لاس تنګي په اړه څه صراحت لري واضح يې کړئ؟

۸- د تضامني شرکتونو د انحلال اسباب بيان کړئ؟

۹- د تضامني شرکتونو د انحلال اثار واضح کړئ؟

۱۰- له تضامني شرکت څخه د ايستل شوي شريک حقوق بيان کړئ؟

۱۱- د تضامني شرکتونو د يوځای کېدو په اړه معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم څپرکی

# سهامي شرکتونه

**تېولیزه موخه:**

سهامي شرکتونه او د سهامي شرکتونو د څرنګوالي او د جوړښت د بنې په اړه د معلوماتو لاسته راوړل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي:

- د سهامي شرکتونو تشکیلات او اداره به توضیح کړای شي.
- عمومي جمع او د هغه دندې به بیان کړي.
- مدیره هیئت به توضیح کړای شي.
- د څارنې هیئت به بیان کړای شي.
- د ونډې اسناد به بیان کړای شي.

سهامي شرکتونه د تجارتي شرکتونو بل ډول جوړوي او د شرکتونو د حقوقو د ردیف بندۍ له پلوه د پانګې شرکتونو له جملې څخه ګڼل کېږي. په دې مانا چې په دې ډول شرکتونو کې د شریکانو یو ځای کېدل د شرکت د پانګې د اعتبار په اساس ترسره کېږي. دغه اصل د دې ډول شرکتونو د معامله دارانو په وړاندې ځانګړې اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه د تضامني شرکتونو پر خلاف، د سهامي شرکت شریکان محدودالمسئولیت دي. د لویو سهامي شرکتونو ونډه د بورس په بازار کې موندل کېږي او له یوه وګړي څخه بل وګړي ته لېږدول کېږي. د دې لپاره چې د دې ډول شرکتونو د ونډو د تل پلورلو او پېرودلو په نسبت، د شریکانو هویت تل په بدلون کې وي. دغه ډول شرکتونه د (انونیم) شرکت په نوم یادوي.

سهامي شرکتونه یا انونیم د اداري  له نظره د تضامني، ګډ تضامني او محدودالمسئولیت یا لیمتد شرکتونو په نسبت ډېر پېچلي  دي او زیاتره شریکان د تجارتي مهمو او لویو معاملو لپاره د دې ډول شرکتونو جوړولو ته مخه کوي.

**د سهامي شرکتونو ماهیت او د جوړښت بڼه**

**۱. تعریف:** سهامي شرکتونه هغه شرکتونه دي چې تر یوه ټاکلي عنوان لاندې د تجارتي معاملاتو لپاره جوړ شوي، د هغوی پانګه ټاکلې او په ونډو وېشل شوي او د هر شریک مسئولیت د هغه د ونډې په اندازه محدود وي.

**۲. د جوړښت (تشکیل) بڼه:** په دوو بڼو جوړېږي:

۱. په ژر تر ژره بڼه (پر بنسټ ایښودونکو ې‌پورې اړوند).

۲. په تدریجي بڼه ( د عمومي ونډو پر بنسټ).

سهامي شرکتونه لږ تر لږه له پنځو بنسټ ایښودونکو او ونډه لرونکو څخه جوړېږي. له ونډه اخیستنې څخه موخه د شرکت په پانګه کې د وګړي تعهد کول د ټاکلو پیسو په ورکړه د ګټې د لاسته راوړلو لپاره دي.

بنسټ ایښودونکي هغه کسان دي چې اساسنامه جوړوي او پر هغه لاسلیک کوي. د موضوعاتو له جملې څخه چې باید په اساسنامه کې ولیکل شي. کېدای شي د شرکت له عنوان او د هغه موضوع، د شرکت مرکز، پانګه او د ونډو ډول، د هرې ونډې قیمت او د ورکړې شرایط، د مدیره هیئت او د څارنې هیئت د ټاکلو طرز، د هغوی صلاحیتونه او د شرکت د دوام د مودې قید څخه یادونه وشي (د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۷۰ ماده.)

**په اساسنامه کې لیکل شوي موضوعات**

د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۲۷۰ ماده: لازمه ده د اساسنامې یوه نسخه د اقتصاد وزارت ته، د شرکت د جوړولو د اجازه پاڼې د لاسته راوړلو لپاره وړاندې شي. همدارنګه د یادولو وړ ده، چې د شرکت په پانګه کې د ګډون غوښتنه ځینې شرایط او محتویات لري چې د تجارت د اصولنامې په ۲۷۳ ماده کې یې بیان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغه ونډه چې په هغه باندې تعهد کېږي لازمه ده حقیقي او بشپړه وي او د بالفعله ونډې قیمت څلورمه برخه ورکړل شي. د ونډې د اسنادو صادرول د ټاکل شوي قیمت څخه لږ جایز نه دي.

- هغه وګړي چې په شرکت کې یې د ګډون تعهد کړی. د بنسټ ایښودونکو د غوښتنو په اساس په یوې ټاکلې موده کې د ونډو د څلورمې برخې په ورکړه مجبور دي(۲۷۶۱).

**د سهامي شرکتونو تشکیلات او اداره**

په سهامي شرکتونو کې درې لاندې ارګانونه فعالیت لري.

لومړی، عمومي مجمع چې په هغه کې سهم لرونکي راټول شوي د شرکت حیاتي مسایل حلوي او تصمیم نیسي.

دویم، مدیره هیئت چې د شرکت کارونه اداره کوي.

دریم، د څارنې هیئت چې په شرکت پورې اړوند کارونه او د مدیره هیئت اجراأت څاري. دا دی هر یو په لنډه توګه مطالعه کوو.

**۱. عمومي مجمع:** عمومي مجمع د وګړو له اجتماع یا ټولنې څخه عبارت ده چې د شرکت حقوقي شخصیت منځ ته راوړي او یا د شرکت حکمي شخصیت د هغوی په وجود پورې تړلی دی. دغه مجمع د شرکت ډېر لوړ مرکزي قدرت دی او د هغه د مقرراتو ټاکونکی دی. عمومي مجمع په درې ډوله ده. د تاسیس عمومي مجمع یا بنسټ ایښودونکی عادي عمومي مجمع او بالاخره فوق العاده عمومي مجمع.

د تجارت اصول نامې یواځې د عادي عمومي مجمع او فوق العاده عمومي مجمع په اړه وړاند وینه کړې ده. دا دی هر یو یې تر بررسۍ لاندې نیسو.

**الف: د تاسیس عمومي مجمع:** د عمومي مجمع بلنه یا دعوت د ټولنې لپاره تاسیس او د ۲۷۸ مادې د احکامو پر اساس تر سره کېږي. د تاسیس د عمومي مجمع ټولنه د هغو وګړو په حضور چې لږ تر لږه نیمایي پانګه تمثیل کړي، د اعتبار وړ ده.

د عمومي مجمع پرېکړې یا تصامیم د حاضرینو د رأیو په اثریت صادرېږي.

– که چیرې په عمومي مجمع کې د رأیو د نظریاتو اتفاق ترلاسه نه شي، مخالفین کولای شي خپل ملاحظات ولیکي.

– هغه موسسان چې د پانګې پر ځای جنس وړاندې کوي، یا هغه کسان چې د خپل ځان لپاره یې د ځانګړو منافعو په اړه وړاندوینه کړې وي، په هغو مذاکراتو کې چې د اجناسو د قیمت ټاکلو او د ځانګړو منافعو په اړه منځ ته راځي د رأیې حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– که چېرې په اساسنامه کې د مدیره هیئت د ټاکلو په اړه څه نه وي ذکر شوي. د هغوی ټاکل د تاسیس د عمومي مجمع په واسطه ترسره کېږي.

– عمومي مجمع، د څارنې یا نظارت هیئت ټاکي، که د هغوی ټاکل په اساس نامه کې نه وي لیکل شوي.

– د څارنې یا نظارت په هیئت کې دوه یا څو وګړي شامل وي.

– د اجناسو د قیمت ټاکل د پوه خلکو (اهل خبره) په واسطه د نقدي پانګې سهم لرونکو د دوو ثلثو په وړاندې ترسره کېږي او پرېکړې یا تصامیم د رأیو د اکثریت لخوا نیول کېږي.

– د تاسیس عمومي مجمع، د موسسانو په واسطه د بلنلیکونو په ذریعه چې د اهل خبره وو د ګذارش لرونکي دي، ټولنې ته بلل کېږي.

– د اهل خبره وو د ګذارش په مطالعه کې عمومي نقش د تجارت اصول نامه ۲۷۴- ۲۸۵- ۲۸۶ مواد.

– موسسین نه شی کولای په اساس نامه کې داسې مقررات ولیکي چې د هغه په موجب ونډې پرته له بدلې (عوض) مجاني یا نغدې پیسې چې د شرکت د پانګې د تنقیص لامل کېږي ځان ته تخصیص ورکړي.

– د هغه شرکت جوړښت یا تشکیل چې د تجارت د اصول نامې د ۲۸۸ مادې سره سم تصدیق شوی، د اړوندې تجارتي محکمې په دایره کې ثبتیږي.

– د شرکت جوړښت یا تشکیل لزوماً باید خپور یا نشر شي. پرته له دې په قانوني توګه تشکیل نه ګڼل کېږي او نه شي کولای د هېڅ ډول معاملاتو په ترسره کولو اقدام وکړي.

– په هغو شرکتونو کې چې په بیړنی ډول جوړېږي شریکان د اساسنامې مواد د ۲۷۴، ۴، ۵، ۲۷۸ او ۲۷۰ موادو سره سم جوړوي. همدارنګه د ۲۷۲ او ۲۷۳ موادو مراعاتول د اقتصاد وزارت د عریضې او په هغه کې د راغلو ضروري څیزونو په اړه لازم دي.

**د عمومي مجمع د غونډو د لېږدولو حل**

د عمومي مجمع غونډې په هغه ځای کې ترسره کېږي چې د شرکت په اساس نامه کې لیکل شوي دي. که چېرې په اساس نامه کې په دې اړه څه نه وی ذکر شوي، غونډې د شرکت په مرکز کې دایریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د عمومي مجامعو د تشکیل نصاب**

هغه نصاب چې په اساسنامه کې لیکل شوي معتبر دي، په شرط د دې چې نمایند ګان کومې سهمیې چې له رأیو څخه لاسته راوړي. د شرکت د ټولې پانګې له څلورمې (ربع) څخه لږه نه وي. که چېرې نصاب په لومړۍ ټولنه یا اجتماع کې ترلاسه نه شي، د ۱۵ ورځو په اوږدو کې مجمع د دویم ځل لپاره ټولنې یا اجتماع ته بلل کېږي. تصاویب د رأیو په اکثریت که اصالتاً یا وکالتاً وي معتبر دي، له سهم لرونکو څخه هېڅ یو په هغه موضوع کې چې دوی خپله له هغه سره علاقه ولري، د رأیې ورکولو حق نه لري. په عمومي مجمع پورې اړوند احکام په ۳۴۷- ۳۶۸ موادو کې لیکل شوي دي.

د مجمع رئیس د مجمع د غړو په واسطه ټاکل کېږي. هغه سهم لرونکي چې په سلو کې ۱۰ سلنه د شرکت سهم لرونکي دي. کولای شي د شرکت د تاسیساتو د ناوړه استعمال په صورت کې او یا د اساسنامې د مقرراتو او قانون د احکامو په تطبیق کې اخلال رامځته کړی او له عمومي مجمع څخه د خصوصي څارنې هیئت د ټاکلو غوښتنه وکړي. که چېرې د مدعیانو ناوړه نیت ثابت شي. د هغو ټولو تاوانونو مسئولیت چې د دعواوو په اثر شرکت ته رسیدلی دی د هغوی په غاړه به وي.

**رأیه ورکول:** رأیه ورکول د اساسنامې له مندرجاتو سره سم ترسره کېږي. که چېرې په اساسنامه کې په دې اړه څه نه وي ذکر شوي،رأیه ورکول د ونډو په تناسب ترسره کېږي.

**د برخې اخیستنې او تشکیل د قواعدو د نه رعایتولو مسئولیت**

د موسسانو او هغو کسانو مسئولیت چې د شرکت د پاڼو او اسنادو په لیکلو کې یې لاس درلود، د هغو زیانونو په اړه چې د نوموړي بیان لیک او اسنادو د غلطۍ له امله په ۲۸۸ ماده کې راغلي دي، د پوښتنې وړ دي. که چېرې د ونډو قیمت نه وي ورکړل شوی خو د حقیقت په خلاف ورکړل شوې وښودل شي. موسسان او هغه وګړي چې په دې کار کې یې له هغوی سره ګډون کړی وي مسئول دي او مجبور دي د هغه قیمت له خپلو شخصي پانګو څخه ورکړي. موسسان یا هر هغه څوک چې د جنسي پانګې په ټاکلو کې له چل او غولولو څخه کار واخلي هغوی به مسئول وي. که چېرې شرکت ته له دې لارې تاوان او ضرر پېښ شي د هغه په ورکړه او جبران مکلف دي. موسسان د دریم ګړو وګړو په وړاندې د هغو تعهداتو په اساس چې د شرکت د جوړولو لپاره یې ترسره کړي دي مسئولیت لري (د تجارت اصول نامه ۳۰۰ ماده.)

**ب- عادي عمومي مجمع:** دغه مجمع یواځینۍ وسیله ده چې سهم لرونکي کولای شي خپل نظریات د هغې په ذریعه عملي کړي، د همدې مناسبت له امله ده چې د افغانستان د تجارت د اصول نامې په ۱۳۴۸ ماده کې د عادي عمومي مجمع ټولنه یا اجتماع د هرې حسابي دورې له ختمېدو وروسته د څلورو میاشتو په ترڅ کې او یا لا اقل په کال کې یو ځل لازمه ګني. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې د یادونې وړ ده چې کولای شو عمومي مجمع ته په کال کې څو ځلې او یا لږ تر لږه یو ځل بلنه ورکړو. د عادي عمومي مجمع بلنه د شرکت د مدیره هیئت په پرېکړه او تصمیم ترسره کېږي.

په عادي عمومي مجمع کې عمومي پرېکړې یا تصامیم د مدیره هیئت په وسیله نیول کېږي او همدارنګه کلنی پلان د شریکانو په اطلاع او تصویب رسیږي. د تجارت له اصول نامې سره سم که چېرې د شرکت په اساسنامه کې بل ډول وړاندوینه نه وي شوې. عمومي مجمع په هغه ځای کې چې د شرکت مرکز هلته واقع دی اجتماع ته بلل کېږي. د سهم څښتنان په عادي عمومي مجامعو کې د خپلې ونډې په نسبت د رأې حق لري. هغه سهم لرونکي چې د ټاکلي سهم لرونکي نه وي، کولای شي په ګډه توګه خپلې ونډې د نصاب حد ته ورسوي د خپلو له منځ څخه یو وګړی د استازي په توګه په لیکلې بڼه معرفي او د عمومي مجمع په مذاکراتو کې ګډون وکړي.

د عمومي مجامعو د تشکیل لپاره هغه نصاب چې د اساسنامې ټاکلی شرط دی خو مشروط په دې چې د پانګې له $\frac{1}{9}$ برخې څخه لږ نه وي.

**د عادي عمومي مجمع دندې:** عمومي مجمع چې د شرکت د کلني فعالیت له جریان څخه پلټنه کوي لاندې دندې په غاړه لري:

**۱. د مدیره هیئت ټاکل:** د عمومي مجمع یوه له مهمو دندو څخه د مدیره هیئت ټاکل دي، ځکه د مدیر ټاکل چې په حقیقت کې د شرکت د ادارې لپاره د ونډو لرونکو استازی دی. د شرکتونو په ګټه او تاوان کې زیاته اغېزه لري.

**۲. د څارنې یا نظارت هیئت ټاکل:** د څارنې یا نظارت هیئت ټاکل د عادي عمومي مجمع دنده ده.

**۳. د بېلانس تصویب:** د دې لپاره چې سهامي شرکتونه پوه شي چې د هغوی ګټه او تاوان په کومه اندازه دی، مدیره هیئت دنده لري تر څو د شرکت بېلانس جوړ، د غور او دقت په غرض یې عمومي مجمع ته وسپاري، دغه مجمع یا بېلانس تصویبوي او یا د هغه پیچلي او ستونزمن څېزونه بیرته مستردوي.

**۴. د ګټو وېشنه:** د دې لپاره چې د شرکت د ګټو په وېشنه کې تبعیض ښکاره نه شي د عمومي مجمع یوه له دندو څخه چې په هغه کې ټول سهم لرونکي کولای شي ګډون وکړي د ګټو وېشنه ده.

**۵. د وړاندیزونو تصویب یا رد:** کوم وړاندیزونه چې د مدیره هیئت یا د یوه سهم لرونکي لخوا وړاندې کېږي، بالاخره تصویب او یا په هر کار اقدام کېږي چې د شرکت په خیر او صلاح وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشروط په دې چې د عمومي مجمع له صلاحيتونو څخه فوق العاده نه وي.

**۶. د عادي عمومي مجمع بلنه او تدوير:** د عادي عمومي مجمع بلنه د مديره هيئت له صلاحيتونو څخه دي. که چېرې په اساسنامه کې بل ډول وړاند وينه نه وي شوي. په هغه ځای کې چې د شرکت مرکز واقع شوی وي بلنه ورکول کېږي. د دغې بلنې له تدوير څخه لږ تر لږه يوه مياشت وړاندې سهم لرونکو ته اطلاع ورکول کېږي. د عادي عمومي مجمع د ټولنې يا اجتماع پر وخت يو جدول جوړېږي، چې په هغه کې د هغو سهم لرونکو يا د هغوی د وکيلانو نوم، هستوګنځای او د ونډو اندازه چې حاضر شوي دي ليکل کېږي. دغه جدول د مجمع د رئيس او منشي لخوا لاسليک کېږي او د شرکت په مخصوصه دوسيه کې قيديږي. عمومي مجمع په خپلو کې يو تن د رئيس په توګه ټاکي. په عمومي مجمع کې پرېکړې يا تصاميم څه اصالتاً او څه وکالتاً د رايو په اکثريت نيول کېږي.

**ج- فوق العاده عمومي مجمع:** د سهامي شرکت د فعاليتونو په بهير کې ځينې حالات را مخ ته کېږي تر څو د هغه جريانونه د شرکت له عادي امورو څخه بهر او په دې اړه تصاميم ونيول شي. مثلاً يو شرکت غواړي خپله د فعاليت موده تمديد کړي او يا خپله پانګه زياته او يا لږه کړي او يا تصميم د انحلال ولري. په داسې مواردو کې عمومي مجمع ته فوق العاده بلنه ورکول کېږي ترڅو د تصميم په نيولو اقدام وکړي.

د عادي او فوق العاده عمومي مجمع تر منځ توپير کيدای شي د هغه له تصميم څخه وکړو. ځکه عادي عمومي مجمع هغه امور چې هر شرکت عادتاً د خپل فعاليت په بهير کې لري، بررسي کوي. په داسې حال کې چې فوق العاده عمومي مجمع په هغو مواردو کې جوړېږي او تصميم نيسي چې عادتاً د فوق العاده متقاضيانو په اساس منځ ته راغلې وي. د فوق العاده عمومي مجمع غونډو ته بلنه د ا- ت – ا، سره سم د مديره هيئت او د څارنې يا نظارت ۶ هيئتونو او په هغو ونډه لرونکو پورې چې لږ تر لږه ۲۰ فيصده د ونډې لرونکې وي، اړونديږي. په وروستۍ يادونه کې نوموړي ونډه لرونکي د عمومي مجمع د تړون په برخه کې ليکلې او مستنده غوښتنه ورکوي. مديره هيئت مکلف دی. تر څو د دغې غوښتنې په اثر عمومي مجمع فوق العاده ټولنې يا اجتماع ته راوغواړي.

همدارنګه امکان لري د شرکت په اساسنامه کې دغه لږ حد ۱۰ فيصده هم وټاکل شي. که چېرې د ونډه لرونکو ليکلې غوښتنې ته د مديره هيئت او يا د څارنې يا نظارت هيئت لخوا قدر او درناوی و نه شو، د تجارت نامې د اصولو د ۳۵۵ مادې له حکم سره سم، پخپله د شرکت تجارتي محکمه کولای شي د نوموړو ونډه لرونکو د مراجعې په اثر عمومي مجمع راوبولي او په هغو موضوعاتو چې هغوی يې غوښتنه کړې ده په اجنډاء کې تر جر او بحث لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فوق العاده عمومي مجمع لاندې صلاحیتونه لري:**

۱- د شرکت د فعالیت موده تجدید کړي.

۲- د شرکت نوم او مرکز ته تغییر ورکړي.

۳- ممتازې ونډې خپرې یا منتشرې کړي.

۴- د شرکت پانګې ته زیاتوالی او یا کموالی ورکړي.

۵- د شرکت موضوع ته تغییر ورکړي.

۶- د مدیره او څارنې یا نظارت هیئت د غړو په تعداد او د هغوی د خدمت په موده کې تغییرات راولي.

۷- د عمومي مجمع د بلنې په اړه مقرراتوته تغییر ورکړي.

۸- شرکت منحل کړي حتا که چېرې دغه انحلال د شرکت د وړاندوینې د پای ته رسېدلو له نېټې څخه وي. په لنډه توګه کولای شو ووایو چې دغه مجمع کولای شي د اساسنامې په ټولو موادو کې لازم تغییرات راوړي، په شرط د دې چې له قانون سره کوم مخالفت ونه لري. کله چې فوق العاده عمومي مجمع غونډې ته رابلل کېږي. د مجمع اجنداء د بلنې په اعلان کې قیدیږي، تر څو ونډه لرونکي پوه شي چې موضوع څه ده او په دې ترتیب له مخکینۍ آماده ګۍ سره غونډې ته حاضر شي.

**۲. مدیره هیئت (د تشکیل کړه وړه):** مدیره هیئت اقلاً (لږترلږه)له دریو کسانو څخه جوړیږي چې د عمومي مجمع لخوا ټاکل کېږي. (د لومړني مدیره هیئت ټاکل د اساسنامې په ذریعه هم ممکن دي). د مدیره هیئت له غړو څخه هر یو مجبور دی خپلې یوه اندازه ونډې د ضمانت په توګه شرکت ته ورکړي. د هغوی د مودوعه (امانت ورکړل شوو) ونډو اسناد دې مهر شي او د شرکت په خزانه کې دې خوندې وساتل شي او تر هغه مهاله چې د تصدۍ د مهال یا زمان له مسئولیت څخه پخپله برأت ترلاسه نه کړي، له خزانې څخه نه بهر کېږي. د دغو ونډو قیمت د شرکت د پانګې د یو په سلو معادل وي. که چېرې د شرکت یو فیصد پانګه له (دوو سوو) زرو افغانیو څخه تجاوز وکړي له دې پیسو څخه زیاته وېشنه جبري نه ده. د مدیره هیئت غړي زیاتره د دریو کلونو لپاره ټاکل کېږي او که چېرې په اساسنامه کې کوم مانع نه وي د هغوی مجدد ټاکل جایز دي. هر کال د مدیره هیئت غړي په خپلو کې یو رئیس او د اړتیا په وخت کې یو مرستیال هم ټاکي.

که چېرې د معزول شوي غړي په ځای بل وګړی د مدیره هیئت د غړي په توګه وټاکل شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید  موضوع د عمومي مجمع لومړنۍ ټولنې یا اجتماع ته وړاندې شي. د مدیره هیئت د غړو عزل چې د اساسنامې په ذریعه ټاکل شوی دي. که چېرې عمومي مجمع هغه تصویب کړي جایز دی.

**الف- د مدیره هیئت صلاحیتونه:**

– د شرکت او په هغه پورې د اړوندو کارونو اداره.

– د شرکت په نوم د حقوقي معاملاتو اجراء کول.

– مصالحې او حاکمیت ته راګرځېدل که چېرې د شرکت په ګټه وي.

– د شرکت د پاڼو او اسنادو لاسلیک کول او هغوی ته اعتبار ورکول که چېرې د دغه کار صلاحیت په اساسنامه کې بل وګړي ته نه وي ځانګړی شوی.

**ب- د مدیره هیئت د غړو تعهدات:**

– په هغو غونډو کې نه ګډون کول چې د هغوی له ګټو سره تړاو لري.

– باید خپلې شخصي ګټې په غونډه کې توضیح او ثبت کړي، د پیدا شوو زیانونو په جبران او تعویض دې د احکامو له مخالفت څخه تعهد وکړي.

– که چېرې د مدیره هیئت زیاتره غړي شخصي ګټې ولري، باید موضوع د عمومي مجمع په لومړنیو غونډو کې مطرح شي.

– د مدیره هیئت له غړو څخه یو هم حق نه لري شخصاً او یا بالواسطه په خپل حساب او یا د شرکت د بل وګړي په حساب تجارتي معاملات ترسره کړي. مګر دا چې له عمومي مجمع څخه له مخکې اجازه ولري.

– د مدیره هیئت له غړو څخه یو هم نه شي کولای د عمومي مجمع له اجازې پرته د اړوند شرکت د تجارتي معاملو له ډول څخه په تجارتي معامله کې پخپله په کار بوخت شي همدارنګه نه شي کولای شخصاً د مسئول غړي په توګه په یوه بل شرکت کې چې په همدغه ډول معامله لګیا دی و ګمارل شي. شرکت کولای شي د پیدا شوې خسارې غوښتنه چې د دې اصل د نه مراعاتولو له کبله پېښه شوې وکړي.

– د تېر کال د اسنادو او بېلانس ترتیب او تنظیم.

**ج- د شرکت د پانګې لږوالی (تقلیل):** که چېرې د شرکت پانګه نیمایي ته ټیټه شي، مدیره هیئت د تصمیم نیونې لپاره د پانګې د بشپړېدو په اړه په اصلي اندازه یا په پاتې اندازه اکتفا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د شرکت د انحلال لپاره عمومي مجمع ته په چټکه توګه بلنه ورکوي. که چېرې يواځې د پانګې دريمه (ثلث) برخه پاتې وي او عمومي مجمع د پانګې د بشپړېدو يا د هغې د دريمې برخې د اکتفاء په اړه تصميم و نه نيسي، شرکت منحل شمېرل کېږي. که چېرې د شرکت ديون (پوروونه) د پانګې په نسبت زيات وي، مديره هيئت له محکمې څخه د افلاس (لاس تنګي) په غوښتنه مکلف دی.

**د شرکت د لګښتونو ثبت**

د افغانستان د تجارت اصول نامه ۳۱۵، ۳۱۶، ۳۱۷ مواد، اجتماعات يا ټولنه هغه وخت اعتبار لري چې د هغه نيمايي غړي حضور ولري. هغه تصاميم چې د رأيو په اکثريت نيول کېږي، اعتبار لري. تفويض په رأی ورکولو کې مجاز نه دی، که چېرې رأيې مساوي وي قضيه راتلونکي ته پاتې کېږي. که چېرې په راتلونکې غونډه کې رأيې بيا هم مساوي شي قضيه مسترده ګڼل کېږي.

د مديره هيئت هغه شمېر غړي چې د عامل هيئت غړيتوب (عضويت) نه لري. د ټولنې يا اجتماع د هرې ورځې لپاره مستحق الحضور ګڼل کېږي خو که په اساسنامه کې بل ډول ليکل شوي وي. که چېرې په اساسنامه کې د هغه اندازه نه وي ټاکل شوې د عمومي مجمع لخوا ټاکل کېږي. په هغه مواردو کې د مديره هيئت غړي هغو د معاملاتو مسئول کېږي، چې د شرکت په نامه يې ترسره کړي دي. د افغانستان د تجارت اصول نامه ۳۲۰ماده:

۱- د سهامو د سند په بدل کې د شريکانو د تادياتو د تصديق د صحت نشتوالی.

۲- د هغو ګټو د حقيقت نشتوالی چې توزيع او ورکول کېږي.

۳- د هغو دفترونو نشتوالی چې قانوناً د هغوی شتون لازمي دی او يا د هغه د نظم نشتوالی.

۴- د هغو پرېکړو يا فيصلو نه اجراء کول چې د عمومي مجمع لخوا ترسره کېږي.

۵- د هغو ټولو دندو نه تر سره کول چې د قانون په اساس يا د شرکت د اساسنامې په بناء دوی ته سپارل شوي وي. که چېرې شرکت د پنځو فقرو له دندو څخه يوه دنده د مديره هيئت يوه غړي ته سپارلې وي، مسئوليت يواځې هماغه شخص ته متوجه کېږي. د مديره هيئت غړي چې نوي ټاکل کېږي مجبور دي د سابقه غړو د غير اصولي معاملاتو څخه د اطلاع په صورت کې د څارنې هيئت ته اطلاع ورکړي او که نه په مسئوليت کې به دوی هم شريک وشمېرل شي.

د مديره هيئت هغه شمېر غړي چې د سابقه غړو غير اصولي معاملات د مجلس په پېښه کې ليکي او د څارنې هيئت ته يې هم په ليکلې بڼه خبر ورکوي، له مسئوليت څخه خلاصيږي. که چېرې د مديره هيئت له غړو څخه يو تن په دسيسه، چل يا د حقيقت په خلاف اظهارات د شرکت د اوسني وضعيت په اړه، دريم ګړي وګړي اغفال کړي، شخصاً د هغه ضرر مسئول دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغې لارې څخه پيدا کېږي.

هغه دعوی چې د تجارت د اصولنامې د (۳۲۰ او ۳۲۱) موادو په موجب د مديره هيئت پر غړو باندې د امکان وړ وي. د معاملې د پيښېدو له نېټې څخه تر پنځو کلونو پورې اقامه کېدای شي. پرته له هغه د دعوی حق ساقطيږي.

**هغه کسان چې د دعوی د اقامې حق د مديره هيئت پر غړو باندې يې لري:** د تجارت اصول نامه ۳۲۵ ماده.

۱- عمومي مجمع.

۲- هغه ونډه لرونکي چې لس په سلو کې د شرکت د پانګې څښتنان دي.

د شرکت د اجراأتو سپارل هغه مدير ته چې د مديره هيئت غړی نه دی (لکه د مديره هيئت نورو غړو غوندې مسئول دی).

**د غړو په وړاندې د مديره هيئت د غړو مسئوليت:**

**د تجارت د اصولنامې ۳۲۷ ماده په دې اړه داسې بيان کوي:** د مديره هيئت غړي له هغې تېروتنې څخه چې له مدير څخه صادر شي، مسؤل نه دي. خو که چېرې د مديره هيئت غړي داسې وګړي چې اهليت ونه لري په کار وګماري او يا د هغوی د بدو کارونو او معاملاتو په اړه ناغېړي وکړي او يا په هغو کارونو کې چې د هغه صلاحيت نه لري د کار اجازه ورکړي البته د شريکانو په وړاندې به مجتمعاً مسؤل وي.

په همدې ترتيب، د مديره هيئت غړي چې د ۳۲۲ مادې په موجب په دې ډول تقصيراتو کې خپل نه ګډون ثابت کړي له مسؤليت څخه به خلاص وي.

مديران کولای شي د مديريت د دندې په استثناء د ځينو معاملاتو اجراء کول چې له اجازې پرته وي بل يوه ته وسپاري.

مديره هيئت کولای شي خپل صلاحيتونه د رأيو په اکثريت خپل يوه او يا څو تنو غړو ته وسپاري.

**هغه دفترونه چې بايد د مديره هيئت په مرسته جوړ شي:**

۱- د ونډه لرونکو ځانګړی دفتر.

۲- د پانګې په وړاندې د ورکړې (تادياتو) دفتر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د عمومي مجامعو د پېښو کتاب.

۴- د مدیره هیئت د تصاویبو کتاب.

که چېرې په اساسنامه کې بل ډول نه وي لیکل شوي، د شرکت د مامورانو ګمارل په مدیره هیئت پورې تړاو لري.

د مدیره هیئت او څارنې هیئت د غړو د صلاحیت ختم موارد (افلاس، د قانوني اهلیت سلبېدل، په جنایت یا جرم باندې محکومېدل).

**د څارنې جرګه:**

د مدیره هیئت له اعمالو څخه د څارنې لپاره او له هغه څخه د عمومي مجمع خبرولو لپاره په هر سهامي شرکت کې یو هیئت شتون لري چې د څارنې د هیئت په نوم یادیږي. او له پورتنیو مراتبو څخه څارنه کوي. که چېرې په اساسنامه کې یادونه نه وي شوي چې، د څارنې د هیئت د غړو شمېر دې دوه تنه وي او دغه غړي د لومړي ځل لپاره د یوه کال لپاره او په دویم ځل کې د دریو کلونو لپاره ټاکل کېدای شي. دغه غړي کېدای شي چې، د شرکت د غړو له جملې څخه وي او یا د دریېیم ګړو وګړو له جملې څخه له شرکت څخه بهر.

د دویم ځل لپاره د څارنې د هیئت مجدد غوره کول امکان لري. خو د څارنې د هیئت غړي په عین زمان کې په هېڅ ډول سره د شرکت د اداري چارو د مدیره هیئت غړي په توګه نه شي ټاکل کېدای.

د شرکت د مدیره هیئت غړي چې د هغوی د خدمت موده پای ته رسیدلې وي تر څو چې یې د عمومي مجمع لخوا برائت نه وي ترلاسه کړی، د څارنې هیئت د غړي په توګه دنده نه شي ترلاسه کولای.

**الف- د څارنې هیئت ټاکل او تشکیل:**

– د څارنې د هیئت شمېر د شرکت د اساسنامې په واسطه ټاکل کېږي.

– که چېرې په اساسنامه کې د هغوی شمېر نه وي ذکر شوی، شمېر یې دوه تنه دی.

– د لومړۍ دورې له بشپړیدو وروسته، د هغوی ټاکل د دویم ځل لپاره په عین څوکۍ مجاز دی.

– د څارنې هیئت غړی د مدیره هیئت یا د شرکت د معاملاتو د ادارې د غړو د ټاکلو صلاحیت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– عمومي مجمع کولای شي چې د ځینو ټاکلو موضوعاتو د څارنې او تدقیق لپاره، د څارنې بېل هیئت وټاکي.

– هغه کسان چې د مدیره هیئت له غړو سره خپلوي او نږدېوالی لري، د څارنې د هیئت د غړي په توګه ټاکل کېدای نه شي.

**ب- د څارنې د هیئت عزل (له کارڅخه ایستل):** (د افغانستان د تجارت د اصول نامې ۳۳۸- ۳۳۹ مواد).

– که چېرې عمومي مجمع وغواړي کولای شي د څارنې هیئت عزل کړي. که غړی د ونډه لرونکو له منځ څخه ټاکل شوی وي د خپل د عزل په نسبت د خسارې د جبران دعوی نه شي کولای.

– باید د څارنې هیئت د غړو ټاکل، ګمارل او تبدیلول د مدیره هیئت په واسطه د تجارت په دفتر کې ثبت کړي.

– که چېرې د څارنې هیئت له غړو څخه یو تن د یوه علت له کبله د دندې له ترسره کولو څخه پاتې شي، د څارنې نور غړي د هغه د کارونو د ترسره کولو لپاره د عمومي مجمع د لومړنۍ ټولنې یا اجتماع تر موقع پورې یو بل موقت غړی ټاکي.

– که چېرې د څارنې هیئت له دوو وګړو څخه جوړ وي او یو له هغوی څخه د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره حاضر نه شي، کمبود غړی محکمه ټاکي او د لومړنۍ عمومي مجمع تر انعقاده پورې دنده ترسره کوي.

**ج- د څارنې هیئت دندې:** د افغانستان د تجارت د اصول نامې د ۳۴۱ مادې سره سم د څارنې هیئت د غړو دندې په لاندې ډول دي.

– ټول هغه امور چې د اسنادو او بېلانس په تدقیق پورې اړوندېږي.

– د عمومي مجمع بلنه د بیړنیو ناستو ترون یا انعقاد ته د بیړنیو پېښو او یا د شریکانو د معینو شکایتونو د رامنځ ته کېدو پر وخت.

– په مدیره هیئت یا په نورو شریکانو باندې د ونډه لرونکو د شکایت اورېدل او تحقیق کول.

– د مدیره هیئت په ناستو کې ګډون کول هغوی ته او عادي او فوق العاده مجامعو ته د مناسبو وړاندیزونو وړاندې کول، د څارنې هیئت د عمومي مجامعو د مدیره هیئت په ناستو کې د رأې حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څارنې په هیئت باندې د دعوی اقامه، د نوموړي هیئت د مسئولیتونو په نسبت تر پنځو کلونو پورې د مسؤلیت د څرګندېدو له نېټې څخه د امکان وړ ده. د دې مودې له تېرېدو څخه وروسته د دعوی حق ساقطیږي.

**د ونډې اسناد**

۱. تعریف: ونډه په شرکت کې د شریک له برخې څخه عبارت ده. همدارنګه هغې مالي پاڼې ته چې د سند په بڼه د مداولې وړ وي اطلاق کېږي.

څرنګه چې مخکې وویل شول د سهامي شرکتونو پانګې په وړو توکو (اجزاوو) باندې وېشل شوي او له نوموړو توکو څخه هر یو، ونډه نومول کېږي. په بل عبارت، ونډه هغه کوچنۍ ټوټې دي چې د هغوی مجموعه د شرکت پانګه جوړوي. په تضامني شرکتونو او یو شمېر نورو شرکتونو کې د شریک ونډه یا برخې ته ونډه الشراکه وایي، په داسې حال کې چې په سهامي شرکتونو کې یواځې د ونډې د کلمې په یادولو سره بسنه یا اکتفاء کېږي.

د شرکت د ونډو څښتن د شرکت د شتمنۍ څښتن نه شمېرل کېږي ولې چې د شرکت شتمني د شریکانو له شتمنۍ څخه بېله یا مجزاء ده او هغوی د خپلې ونډې یا برخې په تناسب په دې کې شریک شوي دي او په هماغه تناسب په شرکت باندې هغومره د حق لرونکي دي چې د هغه په موجب د شرکت له ګټو څخه استفاده کوي، په عمومي مجمع کې رأیه ورکوي او د انحلال په صورت کې د شرکت له شتمنۍ څخه برخه وړي.

د شرکت ونډې زیات ډولونه لري چې د نوم لرونکي ونډې، ممتازې ونډې، نقدي ونډې، غیر نقدي ونډې او بالاخره د انتفاعي ونډو په نوم یادیږي. دا دی هر یو په لنډه توګه مطالعه کوو.

**الف- نوم لرونکې ونډه:** ونډه امکان لري چې نوم لرونکی وي چې په دې صورت کې ونډه لرونکی معلوم او مشخص وي. دا ډول ونډې، د ونډه لرونکو په نوم صادریږي او په یو لړ لیک یا فهرست (د ونډو دفتر) کې په سهامي شرکت کې لیکل کېږي. (۱۳۸۴ ماده ـ ت ا)

د نوم لرونکي ونډې په اسنادو کې، د څښتن نوم، کار او هستوګنځای ښودل کېږي او د شرکت په مرکز کې په ځانګړي دفتر کې قیدیږي. د نوم لرونکو ونډو صادرول له دې پلوه ګټور دي چې ځینې شرکتونه علاقه لري خپل ونډه لرونکي وپیژني.

همدارنګه د یوه شرکت تجارتي سیاست دا مني چې پوه شي چې د شرکت ونډې د کوم ډول وګړو په لاس کې دي. په تېرو وختونو کې سهامي شرکتونه معمولاً د بې نومه ونډو لرونکي وو او نوم لرونکو ونډو ډېر لږ رواج درلود خو په نړیواله لومړنۍ جګړه کې په اروپایي لویو شرکتونوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خپلو هیوادونو اقتصاد یې اداره کاوه، متخاصمو (دښمنو) هیوادونو یو د بل په هیوادونو کې د بې نومه ونډو په پېرودلو او پلورلو د جاسوسۍ او یا د شرکتونو په چارو کې د اخلال په منظور اقدام کړی دی، چې له دغې پېښې څخه وروسته دغه ډول شرکتونو خپلې زیاتره ونډې د نوم لرونکو ونډو په نوم بدلې کړلې. د سهامي شرکتونو ونډې ځینې وخت ټول نوم لرونکي او ځینې وخت ټول بې نومه وي او یا د هغه یوه برخه نوم لرونکي او بله برخه یې بې نومه دي. دا موضوع زیاتره د هغه شرکت په اقتصادي سیاست پورې تړلې ده چې دا ډول ونډې د څرګندې لیکنې یا د بېل لیکلي سند په واسطه نورو وګړو ته لېږدول کېدای شي د دغه لېږدولو اعتبار د دریم ګړو وګړو شرکت په وړاندې لازمې دي چې، د شرکت لخوا په ځانګړي دفتر کې ثبتیږي (۳۹۵ ماده).

د نوم لرونکو ونډو د خرڅلاو او لېږدولو په اړه امکان لري د شرکت په اساسنامه کې یادونه شوې وي په دې مانا چې د دې ډول ونډو د پلورلو یواځې معینو او محدودو وګړو ته اجازه وي. لکه د دې ډول ونډو پلورل هغو وګړو ته چې بهرنی تابعیت لري منع دی یا دا چې څرګنده کړي چې پلورونکی د لېږدولو او خرڅلاو پر وخت خپل ونډه په پیل کې باید شرکت ته وړاندېز کړي. د شریکانو لخوا د نه پېرودنې په صورت کې کولای شي خپل ونډه په دریم ګړو وګړو خرڅه کړي.

**ب- بې نومه ونډه:** بې نومه ونډې هغه دی چې د لرونکي نوم د ونډې په پاڼه او یا د شرکت په دفتر کې نه وي ثبت شوی. په بل عبارت بې نومه ونډې په حامل پورې تړاو لري او له ستونزو پرته په ساده توګه لېږدول کېږي. دا ډول ونډې د کار د چټکۍ له پلوه په لېږدولو او آسانۍ کې د نوم لرونکو ونډو په نسبت په تجارت کې ګټورې دي څرنګه چې د تجارت اصول نامې ۳۹۶ ماده دغه امر داسې تایید کړی دی ( د بې نومه ونډو ترلاسه کول او لېږدول د درېیم ګړو وګړو د شرکت په وړاندې یواځې په لګښت کې معتبر پېژندل کېږي). نو په دې اساس که یو وګړی وغواړي خپلې بې نومه ونډې په بل چا وپلوري. کافي ده چې د هغه قیمت ترلاسه کړي او نورو شکلیاتو ته اړتیا نشته. دا ونډه د هر وګړي په لاس کې چې ولیدل شي، کولای شي د شرکت له ګټو څخه استفاده وکړي او په عمومي مجمع کې ګډون وکړي او د انحلال په وخت کې د شرکت له شتمنۍ څخه خپله برخه یوسي مګر دا چې بل وګړی دا ثابته کړي چې ونډه د هغه په لرونکي پورې نه اړوندیږي.

د بې نومه ونډې لېږدول چې د هغه ټول قیمت نه وي ورکړل شوی. پلورونکی د پاتې قیمت له ورکړې څخه بری الذمه نه شي ګرځولی. مګر دا چې اساسنامې بل ډول وړاند وینه کړې وي. نوم لرونکي او بې نومه ونډې په ټولو پړاوونو کې د یو شان یا مساوي ارزښت لرونکي دي او د هغوی لرونکي په ګټه او تاوان او له شرکت څخه په استفاده کې یو شان او مساوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج- ممتازې ونډې:** کله چې شرکت دې اړتیا پیدا کړي چې زیات وګړي شرکت ته راولي او یا د پانګې زیاتوالي ته اړتیا لري او هرکله چې څوک په عادي شرایطو کې د ونډو اخیستلو ته حاضر نه شي. امکان لري شرکت ممتازې ونډې صادرې کړي چې د دې ډول ونډو لرونکو ته په پیل کې د ۵٪ په توګه د شرکت ګټه ورکړل شي او پاتې ټولو شریکانو ته یعنې ممتازو او غیر ممتازو ټولوته وویشل شي.

**نغدي او غیر نغدي ونډې:**

د شرکت د ونډې د لاسته راوړلو په بدل کې نغدې پیسې ورکول کېږي او د هغه دلیل هم څرګند دی. ولې چې نغدې پیسې د تجارت ډېره آسانه لار ده او د شرکت د فعالیت بنسټ یا اساس جوړوي، دې ډول ته نغده ونډه وایي. پرته له دې کوم شی چې شرکت د ونډې په بدل کې په غیر نغده توګه منلې وي باید لومړی هغه وپلوري او په نغدو پیسو یې بدل کړي او وروسته له هغه ترې ګټه واخلي، چې دا کار له تاوان څخه خالي نه دی. سره له دې هم دا شرکت مجبور دی، د خپلو د اړتیاوو د لېرې کولو لپاره غیر نغده څیزونه او اجناس ومني چې دا ډول ونډې د غیر نغده ونډو په نوم یادیږي.

**انتفاعي ونډې:** انتفاعي ونډې له هغو ونډو څخه عبارت دي چې لرونکي د هغه په وسیله د شرکت له ګټو څخه ګټور کېږي. دا ډول ونډې د شرکت موسسانو ته چې په تشکیل یا جوړښت کې یې ډېر زحمتونه ګاللي ورکول کېږي. په همدې اساس ځینې هغه ته مؤسس ونډې هم وایي. د ونډو د قیمت له پلوه د ټولو ونډو تر منځ کوم توپیر شتون نه لري.

**د ونډو لېږد، تبدیل او قیمت:**

**الف- د ونډو لېږدول:** په سهامي شرکتونو کې ونډې د لېږدولو وړ دي او عمدتاً د لویو صرافیو، بانکونو او یا د بورس بازارونو په واسطه ترسره کېږي. دا لېږدول نه د اړتیا له پلوه بلکې زیاتره د تجارت له پلوه ترسره کېږي. د ونډو په لېږدولو کې ځانګړي مقررات حکم روایي لري او دغه مقررات زیاتره په ونډو پورې اړوندیږي چې ټول قیمت یې نه وي ورکړل شوی. مثلاً که چېرې نوم لرونکي ونډې چې د هغه له نیمايي قیمت څخه لږ ورکړل شوی وي تر انتقاد لاندې راشي، د ونډه خرڅوونکی چې د پاتې قیمت د ورکړې تعهد کوونکی هم دی، مکلف دی تر څو نومو‌ړې پیسې هم ورکړي او حتی که پېرودونکی هم د پاتې شوو پیسو د ورکړې تعهد وکړي، د پلورونکي مسؤلیت په دې برخه کې له منځه نه ځي. په داسې حال کې چې بې نومه ونډې تر څو چې د هغه نیمايي قیمت ورنه کړل شي، اصلاً صادرېدلای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب- د ونډو بدلېدل:** د ټاکلي مصلحت په نظر ځینې وخت امکان لري، دا اړتیا پیدا شي چې نوم لرونکي ونډې په بې نومه او یا د هغه برعکس تبدیل شي. په دې صورت کې دغه عملیات هغه وخت عملي کېدای شي چې موضوع د شرکت په اساسنامه کې د ۳۷۸ مادې له حکم سره سم وړاندوینه شوې وي.

**پر بې نومه ونډو د نوم لرونکو ونډو بدلېدل:** د سهامي شرکتونو د تاسیس په پیل کې، د ونډو د قیمت د نه ورکولو په علت، ناچاره نوم لرونکي ونډې خپرېږي. وروسته له دې چې د ونډو ټول قیمت ورکړل شو، شرکت د آسانۍ د راوستلو لپاره د ونډو په پېرلو او پلورلو کې تصمیم نیسي تر څو خپلې ونډې په بې نومه ونډو بدلې کړي.

**پر نوم لرونکو ونډو د بې نومه ونډو بدلېدل:** کله چې اړتیا پیدا شي چې شرکت خپل شریکان وپېژني خپلې بې نومه ونډې چې معلومې نه دي د چا په لاس کې دي په نوم لرونکو ونډو بدلوي.

**ج- د ونډو قیمت:** تجارتي ونډې په عمومي توګه د دوه ډوله قیمتونو (اسمي او تجارتي) لرونکي دي.

**اسمي قیمت:** هماغه قیمت دی چې د شرکت د جوړښت په لومړۍ ورځ ورکړل شوی او یا تعهد یې شوی وي. د هر شرکت پانګه د هغه د ونډو د اسمي قیمت مجموعه ده. د بېلګې په ډول په هغه شرکت کې چې د هغه پانګه دوه ملیونه افغانۍ ده او په لس زره ونډه باندې دوه سوه افغانۍ ووېشل شي، د هرې ونډې اسمي قیمت دوه سوه افغانۍ دی.

**تجارتي قیمت:**

د هرې ونډې  تجارتي قیمت په هغه فعالیت پورې اړوندېږي چې، یو شرکت یې لري. که چېرې د یوه شرکت فعالیت زیات او هغه هم مستمر (تل تر تله) وي، که د هغه د ونډو تجارتي قیمت د هغه د اسمي ارزښت په نسبت زیات وي. طبیعي ده، هغه شرکت چې ٪۷۰ سلنه ګټه ولري. له هغه شرکت سره چې مثلاً ٪۱۰ سلنه ګټه کوي، په بشپړه توګه توپیر لري او د لومړني شرکت ونډې زیات پېرودونکي لري. نو په دې اساس په هغه قیمت سره چې ونډې د بورس په بازار کې پلورل کېږي، باید د هغه له اسمي او اصلي قیمت سره توپیر ولري چې د بازار همدغه قیمت، د ونډې تجارتي ارزښت نومول کېږي. تجارتي ارزښت امکان لري د اسمي له اصلي ارزښت څخه لوړ یا ټیټ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پور اسناد:**

ځينې وخت دې ته اړتيا پيدا کېږي چې سهامي شرکتونه پور واخلي. دغه پور په لومړي قدم کې امکان لري په عادي بڼه ترسره شي. په دې صورت کې نو شرکت له وګړو او يا بانکونو څخه يوه اندازه پيسې په پور اخلي او په ځای يې خپل د مال يوه برخه د تضمين په توګه پرېږدي. تجارتي شرکتونه چې حکمي وګړي دي، لکه فزيکي وګړي کولای شي پور واخلي  او که چېرې شرکت د پور له ورکولو څخه ډډه وکړي، پور ورکوونکی کولای شي محکمې ته د مراجعې په صورت کې د شرکت مالونه تر حجز (راتاوولو) لاندې راولي. د استقراض (پور اخيستلو) بله لار داسې ده چې شرکت د پور د اسنادو په خپرېدو پيل کوي. څرنګه چې د افغانستان د تجارت اصول نامه په ۴۰۳ ماده کې په دې هکله حکم کوي، سهامي شرکتونه کولای شي پور واخلي، پور د هغه اسنادو په موجب چې د مساوي قيمت او واحد عبارت لرونکی وي، تر سره کېږي.)

په سهامي شرکتونو کې د ونډې د څښتنانو او د پور د سند څښتنانو تر منځ توپير کېږي په دې مانا چې د ونډې څښتنان په خپل شرکت کې د حق څښتن دي او په عمومي مجمع کې رأيه ورکوي او د انحلال په صورت کې تر هغه وخته چې د شرکت پورونه نه وي ورکړل شوي، د خپلې ونډې د اخيستلو حق نه لري. په داسې حال کې د پور د سند لرونکي په خپل شرکت کې شريک نه دي، د شرکت په اداره کې دخالت نه لري خو د دعوی حق د ونډه لرونکو په نسبت په لومړي سر کې لري.

د افعانستان د تجارت په قانون کې د پور اخيستلو په برخه کې د اساسنامې له اجازې سربېره، د عمومي مجمع تصويب هم لازم ګڼل کېږي. د پور د اسنادو صادرول د مديره هيئت له دندو څخه دي او په دې برخه کې بايد اعلان خپور شي چې د لاندې مراتبو لرونکي وي.

۱- د شرکت نوم، موضوع، مرکز، موده او دوام.

۲- د شرکت د پانګې اندازه.

۳- د شرکت د اساسنامې نېټه او که چېرې تعديلات په هغه کې راغلي وي، د هغوی نېټې د اعلان له نېټې سره

۴- د شرکت مالي وضيعت د مصدقه بېلانس له مخې.

۵- د پور د اسنادو د قيمت مجموعه او د حساب ورکړه شرکت ته د هر سند له قيمت سره، د پولي ټکټ کچه، د نوم لرونکي يا بې نوم له پلوه د سند ډول، له شرکت څخه د پور د ورکړې وخت او حساب.

۶- د تصويب د ثبت او اعلان نېټه چې د پور د اسنادو د صادرولو په اړه د عمومي مجمع لخوا ترسره شوې وي (۴۰۷ او ۴۰۶ ماده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدیره هیئت له غړو څخه لږ تر لږه د دوو تنو لاسلیک د پور په اسنادو کې چې خپریږي، شرط دی. همدارنګه که چېرې د مدیره هیئت غړي د پور د اړوندو احکامو په خلاف حرکت وکړي، د هغو وګړو په وړاندې چې له دې سره علاقه لري جمعاً مسؤل دي.

**د ونډې او پور د اسنادو له منځه تلل (ضیاع):** د افغانستان تجارت اصول نامه ۴۱۶۵ او ۴۲۲ مواد.

– هغه شرکتونه چې بې نومه ونډه او د بې نومه پور اسناد صادروي او د هغه ګټه یواځې حامل ته ورکولای شي.

– که چېرې د ونډې سند او یا د بې نومه پور سند د یوه علت په اثر له حامل څخه ورک شي او د تجارتي محکمې شعبه د پیسو د ورکړې نه اجراء په لیکلې بڼه له شرکت څخه وغواړي. په دې صورت کې شرکت مکلف دی له ورکړې څخه ډډه وکړي. که چېرې د اطلاع له نېټې څخه تر شل ورځو د ثبت دایره، شرکت خبر نه کړي نوموړې غوښتنه به بې اغیزې وي.

– د لیکلې غوښتنې ضروري مندرجات (د افغانستان د تجارت اصول نامه ۴۱۸ ماده).

– هغه وګړی چې د ۴۱۸ مادې په موجب د هغه ذوالیدي(ملکیت) د پور له سند څخه زایل کېږي. که چېرې د شرکت تجارتي محکمې ته مراجعه وکړي. محکمه د هغه د ادعا د صحت دلایل څرګندوي که چېرې موجودې نښې یا قراین په دې اړه کافي وي. شرکت له تادیاتو څخه منع او خپل حکم یا قرار په جرایدو کې اعلانوي. که چېرې د دوو کلونو په ترڅ کې د اعلان له نېټې څخه وروسته وګړی پیدا او تجارتي محکمې ته مراجعه وکړي، محکمه په هغې کار کوي، لازمه پرېکړه یا فیصله صادروي.

که د نوموړې مودې په تر خ  کې، وګړی دعوی ونه کړي. محکمه د هغه وګړي د مراجعې په اثر چې د ونډې د سند او پور د سند د ذوالیدي د زوال ادعا یې کړې د پولي ټکټ یا ګټې په ورکړه امر کوي، او نوموړی د څښتن په توګه پېژندل کېږي. دغه تصویب له اعلان څخه وروسته لازم الاجراء دی (۴۱۹ ماده.)

– د استحقاق دعوی د پور د اسنادو او د بې نومه ونډه د اسنادو د ذوالیدي د سلب په سبب په وګړي باندې اقامه کېږي، چې نوموړي اسناد یې موندلي یا غلا کړي او یا یې په آګاهانه توګه له هغه وګړي څخه چې د هغه حقیقي حامل نه دی اخیستی وي.

– هغه وګړی چې د خپلې  ونډې اسناد او د نوم لرونکي پور اسناد  له لاسه ورکړې وي او اړوند شرکت ته مراجعه وکړي او د هغه د مثنی غوښتونکی شي که چېرې د ثبت له مخې، د ونډې د سند او یا د پور د سند حقیقي څښتن ثابت شي د مدیره هیئت د تصویب په موجب مثنا ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– عمومي مجمع د تصفيې د ماموړانو د عزل (لېرې کولو) او بدلولو صلاحيت لري.

– محکمه هم د تصفيې د ماموړانو د عزل (لېرې کولو) او بدلولو صلاحيت لري.

د پورونو له ورکړې وروسته د پانګې وېشنه:

– د ونډه لرونکو تر منځ وېشنه د سهامو په تناسب ترسره کېږي.

– د ترجيحي او امتيازي سهامو په اړه، که چېرې د امتيازي سهامو قيمت ور نه کړل شو او هم په اساسنامه کې وړاندوينه نه وه شوې، د عمومي مجمع د تصويب په اساس عمل کېږي.

– د شرکت پوروړو ته بلنه ورکول، يعنې هغه وګړي چې د شرکت د دفترونو او يا د معتمد د وثايقو له مخې پوروړي ګڼل کېږي.

– د منحل شوي سهامي شرکت پاڼې او دفترونه د تصفيې په پای کې د تصفيې د ماموړانو يا د ذيعلاقه وګړو د مراجعې په اثر د تجارتي اړوندې محکمې لخوا په هغه ځای کې چې لازم يې وبولي ۱۵ کاله ساتل کېږي.

– د لاندې مادو احکام په سهامي شرکتونو باندې د تطبيق وړ دي:

۲۰۵ -۲۱۱ -۲۱۶ -۲۳۰ -۲۳۲ -۲۳۳ -۲۳۹ -۲۴۱

– سهامي شرکتونه له انحلال څخه وروسته د تصفيې معاملاتو د ترسره کېدو پورې، خپل حکمي شخصيت ساتي.

**الف- د تصفيه کوونکو وجايب او مکلفيتونه:**

– د موجوده وضعيت دقيقه مطالعه، د پانګې د دفتر جوړول، د تصويب لپاره د هغه رسيد او وړاندې کول عمومي مجمع ته.

– د کارونو په پای کې د پای ته رسېدلي (نهايي) بېلانس جوړول او د هغه وړاندې کول عمومي مجمع ته.

– د تاواني امتعې د خرڅلاو په اړه له عمومي مجمع څخه د تصويب اخيستل.

– د يوه کال په ترڅ کې د سپارل شوو کارونو بشپړول، که چېرې په نوموړې موده کې د هغه له بشپړېدو څخه عاجز پاتې شول، مکلف دي د خپلو کارونو ګزارش د پاتې شوو اسبابو په يادونې سره د تصفيې د کارونو د دوام د تصويب لپاره عمومي مجمع ته وړاندې کړي.

**ب- له بل شرکت سره د اتحاد په سبب د سهامي شرکت د انحلال په اړه ځانګړي احکام:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د ادارې چارې په نوي شرکت پورې تړلې دي.

– د منحل شوي شرکت د پانګې اداره، د پور ورکوونکو د حقوقو تر ورکړې او د شرکت تر تصفيې خپلواکه يا مستقله ده.

– د هغې محکمې صلاحيت چې منحل شرکت د هغه تابع دی، تر هغه مهاله دوام لري، چې منحل شرکت له بل شرکت سره يو ځای شي او د هغه د پانګې د ادارې استقلاليت پای ته رسيږي.

– د دويمې فقرې د حکم تر تنفيذ پورې د نوي شرکت د مديره هيئت د غړو مسؤليت د شرکت د کارونو په اړه ثابت وي.

– د تجارتي ثبت په دايره کې د شرکت د انحلال د موضوع ثبت او نشر حتمي ده.

– د دوو متحدو شرکتونو شتمني تر يوه کال پورې نه ګډيږي.

**د سهامي شرکتونو انحلال او تصفيه:**

د انحلال اسباب (د افغانستان د تجارت اصول نامه ۴۲۳ ماده)

۱- د ټاکلې مودې پای ته رسيدل.

۲- د شرکت مقصد لاسته راوړل او يا د هغه د امکاناتو سلب.

۳- د ۳۱۴ مادې په موجب د شرکت د پانګې د دوو ثلثو له منځه تلل.

۴- که چېرې د ونډه لرونکو مجموعه له پنځو تنو څخه لږ شي.

۵- سببي څرګنديدل چې په اساسنامه کې د شرکت د انحلال موجب شمېرل شوي وي.

۶- د شرکت اتحاد له بل شرکت سره.

۷- د شرکت لاس تنګي (افلاس).

۸- د عمومي مجمع لخوا د شرکت د انحلال تصويب د ۳۷۲ مادې د لومړۍ فقرې په موجب.

– که چېرې د ونډه لرونکو تعداد له پنځو تنو څخه لږ شي. خو د شرکت انحلال اعلان نه شي، هر ذيعلاقه وګړی کولای شي له محکمې څخه د شرکت د انحلال غوښتنه وکړي.

– شرکت ته پور ورکوونکي کولای شي محکمې ته په مراجعې سره د هغه شرکت د انحلال غوښتنه وکړي چې خپله دوه ثلثه پانګه يې له لاسه ورکړې وي. خو دا چې شرکت د پور ورکوونکو د پور په ځای تأمينات ورکړي په دې صورت کې محکمه نه شي کولای د شرکت د انحلال حکم صادر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– که چېرې د شرکت انحلال (له افلاس څخه پرته) په بل علت مستند وي، موضوع د مدیره هیئت لخوا درې ځله او په اونۍ کې یو ځل اعلانیږي. پور ورکوونکي کولای شي خپل حقوق د یوه کال په ترځ کې له دریم اعلان څخه وروسته ترلاسه کړي.

– که چېرې غیر افلاس سهامي شرکت، په بل علت منحل شوی وي پرله پسې تصفیه کېږي.

– که چېرې په اساسنامه کې د تصفیې ماموران نه وي ټاکل شوي. عمومي مجمع هغوی ټاکي. که چېرې په عمومي مجمع کې هم ټاکل نه وي ترسره شوي، د هغوی دندې مدیره هیئت سرته رسوي.

**د ګټې او تاوان حساب:**

– د ګټو په وېشنه کې د هغه ۵٪ سلنه د احتیاطي پانګې په نوم د شرکت د احتمالي ضررونو د جبران لپاره ساتل کېږي. دا کار تر هغه وخته دوام پیدا کوي چې احتیاطي پانګه د اصلي پانګې د څلورمې برخې (ربع) اندازې ته ورسیږي. مګر دا چې په اساسنامه کې د هغه د زیادت په هکله صراحت شتون ولري.

– که چېرې د سهامو قیمت د هغوی له ټاکلو قیمتونو څخه زیات وي. د قیمت زیادت هم امکان لري احتیاطي پانګې ته ور زیات شي.

– که چېرې احتیاطي پانګه هغې اندازې ته چې په اساسنامه یا قانون کې ټاکل شوې ورسیږي او وروسته تناقص وکړي د نوموړي ترتیب د تجارت اصول نامې ۴۴۲ مادې د لومړۍ فقرې سره سم د نقصان تر بشپړېدو پورې د دویم ځل لپاره د ګټو ساتنې ته دوام ورکول کېږي.

– تر هغه مهاله چې د شرکت ضرر جبران نه شي او د احتیاطي پانګې پیسې د ۴۴۲ مادې په موجب وضع نه شي ګټې نه وېشل کېږي.

– هغه ګټې چې د پورتنۍ مادې د حکم پر خلاف ووېشل شي، غیر حقیقي ګڼل کېږي او د تجارت اصول نامې د ۴۴۲ مادې احکام ورباندې تطبیقیږي.

– که چېرې ګټه د بد نیت له مخې لکه د بېلانس نه موجودیت او یا په بېلانس کې د غیر حقیقي ګټې ښودل وېشل شوې وي، مستردیږي. د غیر حقیقي ګټو د استرداد د دعوی حق له پنځو کلونو څخه وروسته له هغې مودې نه چې په اساسنامه کې د ګټو د وېشلو لپاره ټاکلې ده، ساقطیږي.

– که چېرې احتیاطي پانګه سره له ضرره د ماتې (کسر) د جبران لپاره کفایت ونه کړي، د جبران تر مهاله د ګټو ټول ضرر په ونډه لرونکو باندې نه شي وېشل کېدای (د تجارت د اصول نامې ۴۴۶ ماده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

سهامي شرکتونه د تجارتي شرکتونو بل ډول جوړوي. او د شرکتونو د حقوقو د ردیف بندۍ له پلوه د پانګې شرکتونو له جملې څخه ګڼل کېږي. په دې مانا چې په دې ډول شرکتونو کې د شريکانو يو ځای کېدل د شرکت د پانګې د اعتبار په اساس ترسره کېږي.

د تشکيل بڼه: په دوو بڼو جوړېږي په چټکه توګه په موسسانو پورې تړلې، او په تدريجې توګه د عمومي ونډه ګيرۍ په اساس. د سهامي شرکتونو تشکيلات او اداره، په سهامي شرکتونو کې درې لاندې ارګانه فعاليت لري.

لومړی عمومي مجمع چې په هغه کې ونډه لرونکي راټولېږي د شرکت حياتي مسايل حلوي او تصميم نيسي. دويم مديره هيئت چې د شرکت چارې اداره کوي. درېيم د څارنې هيئت چې په شرکت پورې اړوند کارونه او د مديره هيئت له اجراأتو څخه څارنه کوي.

عمومي مجمع  د وګړو له اجتماع يا ټولنې څخه عبارت ده چې د شرکت حقوقي شخصيت منځ ته راوړي او يا د شرکت حکمي شخصيت د هغوی په وجود پورې تړلی دی. دغه مجمع د شرکت ډېر لوړ مرکزي قدرت دی او د هغه د مقرراتو ټاکونکی دی. مديره هيئت لږ تر لږه له دريو کسانو څخه جوړېږي چې د عمومي مجمع لخوا ټاکل کېږي. د مديره هيئت له غړو څخه هر يو مجبور دی چې خپلې يوه اندازه ونډې د ضمانت په توګه شرکت ته ورکړي د امانت ورکړل شوو ونډو اسناد مهُر کېږي او د شرکت په خزانه کې ساتل کېږي. د څارنې هيئت د مديره هيئت له اعمالو څخه د څارنې لپاره او عمومي مجمع له هغه څخه خبروي په هر سهامي شرکت کې چې کوم هيئت شتون لري د څارنې د هيئت په نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱- سهامي شرکتونه د حقوقي ردیف بندۍ له نظره د کومو شرکتونو له جملې څخه ګڼل کېږي واضح یې کړئ؟

۲- ولې سهامي شرکتونه د انونیم شرکت په نوم یادوي واضح یې کړئ ؟

۳- د سهامي شرکتونو د جوړښت بنه بیان کړئ؟

۴- په سهامي شرکتونو کې د دریو ارګانو فعالیت حتمي دی بیان کړئ ؟

۵- د سهامي شرکت د قدرت لوړ مرکز کومه مجمع ده بیان کړئ؟

۶- د تاسیس عمومي مجمع ټولنه یا اجتماع د هغو وګړو په حضور چې څو فیصده پانګه تمثیل کړي د اعتبار وړ ده؟

۷- رأیه ورکول په سهامي شرکتونو کې په کوم طرزالعمل ده واضح یې کړئ؟

۸- په عمومي مجمع کې د بیلانس د تصویب د اهمیت په اړه معلومات ورکړئ؟

۹- د عادي او فوق العاده عمومي مجمع تر منځ توپیر بیان کړئ؟

۱۰- د مدیره هیئت صلاحیتونه واضح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## محدود المسؤلیت (لمټډ) شرکتونه

**ټولیزه موخه:**

د محدودالمسئولیت شرکتونو تعریف او د هغو په اړه د معلوماتو لاسته راوړل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین لاندې موضوعات زده کړي:

— د محدود المسئولیت شرکتونو جوړښت به توضیح کړي.

— په محدودالمسئولیت شرکتونو کې به پانګه بیان کړي.

— د محدود المسئولیت شرکتونو انحلال به بیان کړي.

— د محدود المسئولیت سهامي شرکتونو تشکیلات به توضیح کړي.

محدود المسئولیت شرکتونه د تجارتي شرکتونو بل ډول جوړوي. محدود المسئولیت شرکت د لومړي ځل لپاره په خپله نننۍ بڼه په ۱۹۲۵ م کال په فرانسه کې منځته راغی. دغه شرکت له حقوقي پلوه کولای شي د پانګې یو شرکت او هم د وګړو یو شرکت وګڼل شي. په دې مانا چې، د هغه د جوړښت لپاره د شریکانو غونډېدل د اعتبار او اعتماد په اساس چې د هغوی په منځ کې وي ترسره شي، خو له شریکانو څخه د هر یو مسؤلیت په هغې پانګې پورې محدود دی چې په شرکت کې یې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدود المسئولیت شرکت زیاتره وخت د یوې کورنۍ د غړو او دوستانو تر منځ، رامنځته کېږي او په نړۍ کې د تعداد له پلوه د تجارتي شرکتونو ډېره لوړه شمېره جوړوي.

**د محدود المسئولیت شرکتونو تعریف:** د تجارت اصولنامې محدود المسئولیت شرکتونه په ۴۵۶ ماده کې داسې تعریف کړي دي:

(تجارتي شرکتونه چې د هغوی پانګه په اسهامو وېشل شوې نه ده او د هر شریک مسؤلیت د هغه د متعهده پانګې په اندازه چې په شرکت کې وي محدود وي، محدود یا لیمټډ نومول کېږي.) د پورتني تعریف له مخې دا ډول شرکتونه د سهامي شرکتونو  له ډول سره ورته والی لري او شریکان د خپلې ونډې له اندازې څخه زیات مسؤلیت نه لري. د دې شرکتونو په جوړولو کې پانګه هم رول لري، ولې چې پانګه په ونډو نه ده وېشل شوې، بلکې شریکان هر یو د شراکت سهم لري او د هغه مجموع د شرکت پانګه جوړوي. مثلاً هغه شرکت چې د یو میلیون افغانیو په پانګه جوړېږي د غیر مساوي او د تجزیې وړ نه وي د شراکت په سهم وېشل کېږي، یانې شاید یو تن ۲۰۰ زره افغانۍ او دویم تن ۵۰۰ زره افغانۍ او دریېم تن ۳۰۰ زره افغانۍ په شرکت کې شریک شي.

محدود المسؤلیت شرکتونه زیاتره د محدودو شریکانو لرونکي دي او د شریکانو تعداد به په ندرت سره زیات وي. دغه شرکت د هغو وګړو په منځ کې چې معمولاً له یو بل سره دوست او همکار دي جوړ شوي دي او ځینې وخت کورنۍ بڼه لري.

په هغو هېوادونو کې چې تجارت ځانګړې بڼه لري. دا ډول شرکتونه زیات رواج لري  او  د داسې شرکتونو په جوړولو او تاسیس کې، د شریکانو شخصیت تر یوې اندازې اهمیت لري.

د محدود المسؤلیت شرکتونو جوړښت: د تجارت اصولنامې د ۴۵۰ مادې سره سم، ټول لیمټډ شرکتونه په لومړي ګام کې د سوداګرۍ د وزارت په اجازه جوړېږي او د جوړښت لپاره باید د شرکت ټوله پانګه تعهد او لږ تر لږه د هغه نیمایي ورکړل شوې وي. همدارنګه د شرکتونو د جوړښت لپاره لږه اندازه دوه تنه او زیاته اندازه د ۵۰ تنو وړاندوینه شوې ده.

**په محدود المسؤلیت شرکتونو کې  پانګه:**

څرنګه چې د سهامي شرکتونو د جوړښت په برخه کې وویل شول، امکان لري پانګه په نغدي او غیر نغدي بڼه وي. په افغانستان کې د پانګې لږه اندازه د ۴۵۹ مادې پر بنسټ سل زره افغانۍ ده. په دې ډول شرکتونو کې پانګه د شراکت په سهم چې د هغه په اساس څښتن یې د هغه په اندازه مسؤلیت لري، وېشل کېږي. یانې د شراکت سهم له اسهامو سره په لاندې مورد کې توپیر لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د شراکت سهم نه باید د لېږدولو وړ تجارتي پاڼو په بڼه بهر راووځي.

۲- د شراکت سهم پردي یا غیر ته نه شو کولای ولېږدوو، مګر د هغو شریکانو رضا لپاره چې لږ تر لږه درې ربع $\frac{3}{4}$ د شرکت پانګه په هغوی پورې تړلې ده.

۳- د اسهامو لېږدول نه ترسره کېږي، مګر د رسمي سند پر مټ او دا کټ مټ د نوم لرونکو اسنادو په شان دي او باید د رسمي سند په اساس ترسره شي او وروسته ولېږدول شي.

**د محدودالمسؤلیت شرکتونو تشکیلات:**

د افغانستان تجارت د حقوقو پر اساس لیمټډ شرکتونه د عمومي مجمع مدیر یا مدیره هیئت او د څارنې هیئت لرلای شي. د افغانستان تجارت اصولنامې په خپلې ۴۷۰ ماده کې لیکلي دي، چې د څارنې هیئت ته په هغه صورت کې اړتیا پیدا کېږي، چې د شریکانو تعداد له ۲۰ تنو څخه زیات وي.

همدارنګه د ۴۶۵ مادې سره سم که چېرې د شریکانو تعداد له ۲۰ تنو څخه زیات وي عمومي مجمع د هغو مراسمو او قیودو تابع ده، چې د سهامي شرکتونو په اړه یې وړاندوینه شوې ده. په لیمټډ شرکتونو کې چې د هغوی تعداد له ۲۰ تنو څخه لږ وي، تصویب د رأیو په اکثریت ترسره کېږي. په هره بڼه چې وي لازم دي، هغه شریکان چې اقلاً د نیمایي پانګې استازیتوب کوي، د هغې موضوع په اړه چې تر مذاکرې لاندې ده، رأیه ورکړي. همدارنګه د ۴۷۰ مادې سره سم په دې شرکتونو کې به یو تن د دولت استازی د کمیشنر په نوم شتون ولري. تر څو د اصولنامې د موادو له تطبیق څخه څارنه وکړي.

**د محدود المسئولیت شرکتونو انحلال:**

د ۴۶۹ مادې د بیان په اساس د شریکانو د یوه د مړینې یا لاس تنګۍ په صورت کې شرکت له منځه نه ځي که چېرې شرکت له دوو تنو څخه جوړ وي او یو شریک تنګ لاسی وي او یا مړ شي، له شریکانو څخه یو د مړ یا تنګ لاسي شریک پر ځای بل شریک معرفي کوي. له دې پرته شرکت منحلېږي. د تجارت اصولنامې له پورتني مورد څخه پرته د بل حالت په هکله وړاندوینه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي لنډيز:**

محدود المسئوليت شرکتونه د تجارتي شرکتونو بل ډول جوړوي. محدود المسئوليت شرکت د لومړي ځل لپاره په خپله ننۍ بڼه په ۱۹۲۵ م کال په فرانسه کې منځته راغی. دغه شرکت له حقوقي پلوه کولای شي د پانګې يو شرکت او هم د وګړو يو شرکت وګڼل شي. په دې مانا چې د هغه د جوړولو لپاره د شريکانو غونډېدل د اعتبار او اعتماد په اساس چې د هغوی په منځ کې وي ترسره شي، خو له شريکانو څخه د هر يوه مسؤليت په هغې پانګې پورې محدود دی چې په شرکت کې يې لري.

تجارتي شرکتونه چې د هغوی پانګه په اسهامو وېشل شوې نه ده او د هر شريک مسؤليت د هغه د متعهده پانګې په اندازه په شرکت کې وي محدود وي، محدود يا ليمټډ نومول کېږي. دا ډول شرکتونه د سهامي شرکتونو له ډول سره ورته والی لري او شريکان د خپلې ونډې له اندازې څخه زيات مسؤليت نه لري. د دا ډول شرکتونو په جوړښت کې پانګه هم رول لري، ولې چې پانګه په اسهامو نه ده وېشل شوې، بلکې شريکان هر يو د شراکت سهم لري او د هغه مجموع د شرکت پانګه جوړوي.

ليمټډ شرکتونه په لومړي قدم کې د تجارت وزارت په اجازه جوړېږي. او د جوړښت لپاره بايد د شرکت ټوله پانګه تعهد او لږ تر لږه د هغه نيمايي ورکړل شوې وي. همدارنګه د شرکتونو د جوړښت لپاره لږه اندازه دوه تنه او زياته اندازه د ۵۰ تنو وړاندوينه شوې ده. پانګه په نغدي او غير نغدي بڼه وي. په افغانستان کې د پانګې لږه اندازه سل زره افغانۍ ده. په دې ډول شرکتونو کې پانګه د شراکت په سهم چې د هغه پر اساس څښتن يې د هغه په اندازه مسؤليت لري، وېشل کېږي. يانې د شراکت سهم له اسهامو سره په لاندې مورد کې توپير لري.

د شراکت سهم نه بايد د لېږدولو وړ تجارتي پاڼو په بڼه بهر راووځي. د شراکت سهم پردي يا غير ته نه شو کولای ورکړو، مګر د هغو شريکانو رضاء لپاره چې لږ تر لږه درې ربع $\frac{3}{4}$ د شرکت پانګه په هغوی پورې تړلې ده. د اسهامو لېږدول نه ترسره کېږي، خو د رسمي سند په مټ او دا کټ مټ د نوم لرونکو اسنادو په شان دي او بايد د رسمي سند پر اساس ترسره شي او وروسته ولېږدول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې:**

۱- محدود المسئولیت شرکت د لومړي ځل لپاره په کوم کال او په کوم ځای کې منځته راغی واضح یې کړئ؟

۲- محدود المسئولیت شرکت له کوم ډول شرکتونو څخه ګڼل کېږي واضح یې کړئ؟

۳- د شریکانو راغونډېدل د محدود المسئولیت شرکت د جوړولو لپاره پر کوم اساس ترسره کېږي؟

۴- په محدود المسئولیت شرکت کې له شریکانو څخه د هر یوه مسؤلیت څرنګه دی واضح یې کړئ؟

۵- د افغانستان د تجارت اصولنامې ۴۵۶ مادې محدود المسئولیت شرکت څه ډول تعریف کړی دی؟

۶- محدود المسئولیت شرکت له کوم ډول شرکتونو سره ورته والی لري واضح یې کړئ؟

۷- د افغانستان تجارت د اصولنامې ۴۵۰ ماده د محدود المسئولیت شرکت د جوړولو لپاره څه صراحت لري واضح یې کړئ؟

۸- د محدود المسئولیت شرکت د جوړېښت لپاره لږه اندازه پانګه څو ده څرګنده یې کړئ؟

۹- کمشنر څوک دی واضح یې کړئ؟

۱۰- د محدود المسئولیت شرکتونو انحلال تشریح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچيني او اخځليكونه:**


۱- حقایقی ، عبدالله ۱۳۸۱ سیاست بودجه چاپ مطبعه بهیر کابل افغانستان.

۲- موشدی ، حفیظ الله ۱۳۵۳ سنجش امور حسابی پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل.

۳- دودیال ، محمد بشیر پروؤه و پروپوزل درسی مواد (۲۰۰۵ م ).

۴- اقتداری ، علی محمد سازمان و مدیریت دانشکده – علوم اداری و بازرگانی دانش گاه تهران ، ایران ۱۳۴۴.

۵- البرت لپاوسکی ، فن اداره ، ترجمه علی اصغر مهاجر ، دانش گاه حقوق تهران.

۶- سالنامه احصامیوی ، اداره مرکزی احصائیه مطبعه آزادی ۱۳۸۵.

۷- اتس قریه های افغانستان معرفی واحد های اداری محلی اداره مرکزی احصائیه ۱۳۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنیکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د مســلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســلکي، تخنیکــي او علمي مطالبــو او مفاهیمو د څرنګوالې په هکلــه خصوصاً د هغوی املایي او انشــایي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library